# جرګه

## د افغانستان اسلامي امارت
## د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت

### علمي، سیاسي، څېړنیزه او ادبي مجله

درېیمه دوره: ۱۴۴۴ هـ ق جمادي الثاني ـ شعبان المعظم (۱۱۷) ګڼه      د تأسیس کال: ۱۳۶۱



د ولس او اسلامي امارت تر منځ هیڅ نوع فاصله وجود نلري، د اسلامي امارت مشران او عام مجاهدین د همدې قومونو له منځه راپورته شوي، د افغانستان خاوره او جغرافیه همدې قومي او قبیلوي جوړښتونو ساتلې، نه دا خاوره تجزیه کېږي او نه به یې په هیڅ قیمت پردي اشغالګر تر خپل تسلط لاندې وساتي. ستاسو هره غوښتنه موږ اورو او حل ورته را لټوو، موږ د همدې ولس خدمتګاران یو او په دې ویاړو.

(د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر ښاغلي ملا نورالله نوري له وینا څخه)


- نبوي سیرت.
- د اسلامي حکومت کورني سیاست ته لنډه کتنه.
- د هېوادونو ترمنځ پولې.
- د احمد شاه بابا د واکمنۍ پر مهال د افغانستان فرهنګي وضعیت.
- شعر د جذبو او ولولو پاروونکی.
- د روږدو کسانو راټولول او درملنه مثبت ګام دی.

د افغانستان اسلامي امارت

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

د جرګه مجلې آمریت


## په دې ګڼه کې

| عنوان | مخ |
|---|---|
| .سرمقاله: | ۱ |
| .د وزارت خبرونه او | ۲ |
| .نبوي سېرت | ۱۱ |
| .د اسلامي حکومت کورني سیاست | ۱۲ |
| .د هېوادونو ترمنځ پولې | ۲۲ |
| .د احمد شاه بابا د واکمنۍ پرمهال د افغانستان | ۳۳ |
| .شعرد جذبو او ولولو پاروونکی | ۳۶ |
| .د روږدو کسانو راټولول او درملنه مثبت ګام دی | ۳۹ |
| .ولې لیکل ستونزمن دي !؟ | ۴۱ |
| .پاراټیکسټ که د متن ځلا او خپرنیزارزښت | ۴۳ |
| .د پښتو معاصرادب په وده او پراختیا کې | ۴۸ |
| .د کاظم خان شیدا په شاعرۍ کې نوستالژیا | ۵۴ |
| .مارکوپولو(morcoplo) اود ورېښمو تاریخي | ۵۹ |
| .د ادبي ژانرد ډیالوګونویا خبرواتروڅېړنه | ۶۱ |


کتنپلاوی:

.ښاغلی مولوي عبدالرحمن «حقاني»
.ښاغلی مولوي محمد اسماعیل «غزنوي»
.ښاغلی مفتي شفیع الله «ثاقب»
.ښاغلی حمد الله «فطرت»
.ښاغلی اکاډمیسین دوکتورسید محي الدین «هاشمي»
.ښاغلی څېړنپوه دوکتور محمد شریف «ځدران»
.ښاغلي شفیع الله «محمدي»
.ښاغلی څېړنوال سید نظیم «سیدي»
.ښاغلی شریف الله شرافت « ویاړ»

کاري ډله:

مسوول مدیر: عزت الله مینه ناک
مسوول سکرتر: محمد موسی«ستانکزی»
د تصحیح مدیره: فوزیه «درماني»
خبریاله: فرحناز«نوابي»
ډیزاین: احمد «لاروی»



یادونه: اداره یوازې د سرمقالې مسؤلیت لري.
د اړیکې شمېره: ۰۲۰۲۳۱۱۷۱۱
پته: د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت، کابل افغانستان

# د کعبې شریفې ځانګړنې



د کعبې معظمې جګوالی (ارتفاع): ۱۵ متره
د دروازې جګوالی له ځمکې څخه: ۲,۲۵ متره
د دروازې لوړوالی: ۳,۱۰ متره
د حجر اسود لوړوالی: ۱,۱۰ متره
د حطیم شریف د دیوال لوړوالی: ۱,۳۲ متره
د ملتزم شریف له خوا اوږدوالی: ۱۲,۸۴ متره
د حطیم شریف له خوا اوږدوالی: ۱۱,۲۸ متره
د رکن یماني او حطیم تر منځ اوږدوالی: ۱۲,۱۱ متره
د رکن یماني او رکن شامي تر منځ اوږدوالی: ۱۱,۲۵ متره
د حطیم شریف د دیوال عرض: ۱,۲ متره
د کعبې شریفې د پوښ یا کسوې جګوالی: ۱۴ متره
په پوښ کې د کارول شویو وریښمو وزن: ۲۷۰ کیلو ګرامه
د کعبې مشرفې د بام مساحت: ۲۵۸ متره مربع د پوښ کمربند یې: ۴۵ متره
د پوښ د کمربند عرض یې: ۹۵ سانتي متره
د صفا او مروه د غرونو تر منځ مسافه: ۳۷۵متره
د حجر الأسود او مقام إبراهیم علیه السلام تر منځ مسافه: ۱۴,۵ متره
د حجر الاسود د ډبرو شمېر: ۸ قطعې.

# JIRGA MAGAZINE

JANUARY – MARCH 2023



د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې دزرګونه دينې عالمانواو قومي مشرانوپه ګډون د يووالي او همغږۍ غونډې جوړې شوې.



د کورنيو منابعو له لارې د مالي او اقتصادي ثبات د تامينولو هڅې د هېواد په ګټه دي.



پل سوخته نور په نشه يي توکود روږدوکسانو د را ټولېدوځای نه دی.

WWW.Mobta.af
@Mobta.af

سرمقاله

# انډولیزه پراختیا د ټولنیزې هوساینې لپاره یوه مهمه اړتیا ده

پر هېواد د پردیو یرغلونو په پایله کې زموږ مادي اومعنوي شتمنۍ له منځه لاړې او ډېری برخه یې له خاوروسره خاورې شوه چې هغه بیا رغونې او جوړونې ته اړتیا لري اویا یې رغول او جوړول اړین دي، تر څنګ یې دولتونه د خپلو مسؤلیتونو پراساس چې د خپل ولس او هېواد په وړاندې لري د پلان له مخې یو لړ پراختیايي او پرمختیايي پروژې پرمخ بیايي، کوم چې د هېواد او ولس د سوکاله ژوند لپاره مهمې او اړتیا ورته احساسیږي. د افغانستان اسلامي امارت همدې ته په پام د نورو پراختیايي چارو تر څنګ د ښارونو ښکلا او مزین کولو ته هم پام را اړولی او دغه چاره په متوازنه توګه د هېواد په بېلابېلو ښارونو کې له شته امکاناتوسره سمه روانه ده، اسلامي نظام نه یوازې دا، بلکې په نورو برخو کې یې هم لکه د بندونو، پلونو، سړکونو اوکانالونو جوړولو، د ښارونو تنظیمولو، د سوداګرې د پراختیا، پانګونې ته د زمینو برابرولو،له کانونو څخه په معیاري توګه د سمې ګټې اخیستنې ، له پانګوالو اوسوداګرو څخه د ملاتړ او د هېواد له سرحدونوڅخه د دفاع چارو اونوروبرخو ته پاملرنه کړې ده اوکه په دې اړه ستونزې شتون ولري، نو د حل لپاره یې هڅې کوي. له دې چارو سره بیا د کار موندنې مسله، د اقتصاد او سوداګرۍ د غوړېدا، د کرنې او مالدارۍ د ودې او له املیه یې وګړو ته په ژوند کې د اسانتیاوو د ایجاد مسله مطرح ده، چې ترې مثبت پیغام ترلاسه کولی شو.یوه موضوع چې د پام وړ ده هغه دا چې ستونزو شتون درلود چې نن یې د حل لپاره اقدام کېږي، ددې چارو پیل یو څه ستونزمن وي ، دا منو چې موږ ستونزو ښه کړولي یو، خو په دې باید باوري اوسو چې اسلامي امارت ددې هېواد ټولو اړتیاوو ته ځیر دی، شاید له حده زیاتو لګښتونو ته اړتیا وي، خو نېکمرغي داده چې هغه خپل کم امکانات هم د دا ډول چارو له ترسره کېدو څخه نه دریغوي، کرار کرار به ان شاءالله په هره برخه کې د لاسته راوړنو شاهدان واوسو، اوس نو خبره داده چې ښارونه زموږ د کور حیثیت لري، لکه څنګه چې خپل کور پاک ساتوهمدغه شان خپل ښارونه هم باید پاک وساتو. کوم څه چې د اسلامي نظام د خدمت په پایله کې د ټولګټوتآسیساتو په توګه رامنځته کیږي او نورې هغه ملي شتمنۍ چې موږ یې په هېواد کې لرو زموږ د ولس ګډ مال دی او ددې په ساتلو کې موږ ټول مسؤلیت لرو دا زموږ د ملي شتمنۍ برخه جوړېږي. له خپلو شتمنیو سره باید زموږ چلند ډېر مسؤلانه وي او دا بیا داسې برخه ده چې په ساتلو کې یې باید ټول سره همغږي او موافق اوسو او یوهم ،ځکه دا زموږ هېوا د دی او موږ ټول همدلته یوځای سره ژوند کوو، ددې هېواد له ښېګڼو موږ ټول اغېزمن کیږو، که چارې سم لور ته روانې وي ، ژوند به مو هم څه ناڅه له ستونزو خالي وي ټول باید سره یوځای د خپلو شتمنیو ساتنه وکړو، او پرې نږدو چې څوک ورته زیان ورسوي. زموږ د ښارونو په ټوله کې زموږ د هېواد ښکلا او پرمختګ زموږ پرمختګ اوښکلا ده. او زموږ د ښه،عالي اوملي فرهنګ استازولي کوي.راځئ چې ټول سره یو ځای له ستونزو سره سره د هېواد ودانولو ته ملا وتړو چې دا وړتیا الله جل جلاله موږ افغانانو ته را کړې ده او باید هېواد ته د خدمت کولو په برخه کې یې وکاروو اوخپلې شتمنۍ د سترګود کسویه څېر خوندي کړو.

# د وزارت خبرونه اوراپورونه

د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د مشرتابه او پلاوو په ګډون (د قومونو د یووالي او همغږۍ ) تر سرلیک لاندې د جوړو شویو غونډو او نورو اړوند موضوعاتو په اړه لنډ خبرونه او راپورونه

## د زابل ولایت شملزو ولسوالۍ ځنځیر سیمې ته سفر. ۷/رجب المرجب

د سرحدونو،قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله (نوري) چې د زابل مرستیال والي ملا سلیمان اغا بهیر او ددې ولایت د سرحدونو،قومونواوقبایلو چارو رئیس سحر اخندزاده یې هم ملتیا کوله شملزو سرحدي ولسوالۍ ته سفر تر سره کړ. ښاغلي نوري د شملزو ولسوالۍ له سرحدي کنډک، ډیورنډ فرضي کرښې، سرحدي پوستو او د ځنځیر په سیمه کې د نوي رسمي شوې ترانزیټي لارې څخه له نږدې لیدنه وکړه. د سرحدي کنډک قومندان ښاغلي ارماني د امنیتي وضعیت او په یاده سیمه کې د مېشتو مجاهدینو د ستونزو په اړه لنډ جریان شریک کړ او د همکارۍ غوښتنه یې وکړه. ددې سفر په جریان کې ښاغلي سرپرست وزیر د ځنځیر بازار او شملزو ولسوالۍ د ځینو نورو سیمو له مشرانو سره هم د یوې ناستې په ترځ کې وکتل. مشرانو په یاده سیمه کې د لارې، روغتیایي کلینکونو، ښوونځیو او مدرسو تر څنګ د کرنې، مالدارۍ په برخه او د څښاک پاکو اوبو د نشتون ستونزې یادې کړې. د سرحدونو،قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري د شملزو سرحدي ولسوالۍ د خلکو مشروع غوښتنو په اړه ډاډ ورکړ چې له اړوندو ارګانو سره به شریکې شي او هیله یې څرګنده کړه چې اسلامي امارت به ورته ځانګړې پاملرنه کوي.

## ۱۴۴۴هـ.ق د رجب المرجب ۱۰

په کندهار ولایت کې هم د قومونو د یووالي، د خلکو د ستونزو اوریدلو او د نظام په ملاتړ یوه لویه ولسي او قومي غونډه جوړه شوې وه. په غونډه کې د یاد وزارت د سرپرست الحاج ملا نورالله نوري په شمول د یاد وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین ملا عبدالخالق عابد، مل پلاوي، د یاد ولایت مرستیال والي د ادارو رئیسانو، علماوو او قومي مشرانو ګډون کړی و. په پیل کې د ولسوالیو او مرکز د خلکو په استازیتوب څو تنو مشرانو د یووالي پر ارزښت خبرې وکړې. وروسته د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست وزیر غونډې ته د وینا پرمهال یاد ولایت د اتلانو کور یاد کړ او زیاته یې کړه چې د امریکایي کرغېړن اشغال په اوږدو کې نه یوازې دا چې اسلامي نظام او خپلواکي له منځه تللې وه، بلکې د اسلامي او افغاني ارزښتونو تحریف، غلا، غصب، فساد او فکري انحراف خپل اوج ته رسېدلی او غربي فرهنګ رایج شوی وو، چې د اسلامي امارت په بریا سره ددې ټولو ناخوالو مخه ونېول شوه. د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین الحاج ملا عبدالخالق عابد غونډې ته په خپلو خبرو کې وویل: الله تعالی بشریت په قومونو وېشلی د دې لپاره چې دوی یو بل سره وپېژني او په دوی کې بهتر هغه دی چې له خدای جل جلاله څخه ډېر ویرېږي او تقوا کوي.

## په هلمند لښکرګاه کې ستره ولسي غونډه.

۱۱/رجب المرجب/۱۴۴۴ هـ ق

یاده غونډه چې د ولایت مقام د غونډو په تالار کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري، د جرګو معین الحاج ملا عبدالخالق عابد، ورسره مل پلاوي او ولایتي مسوولینو سرپېره د هلمند ولایت له اړوند ولسوالیو څخه راغلو سلګونه علماء کرامو او قومي مشرانو په ګډون ترسره شوه.

په پیل کې یې د مرکزاو ولسوالیو په استازیتوب څو تنو عالمانو او قومي مشرانو خبرې وکړې، چې په ترڅ کې یې یولړ ستونزې او غوښتنې شریکې کړې.

وریسې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري غونډې ته د وینا په ترڅ کې وویل: تېر شل کاله د ټول افغانستان خلکو خصوصا د هلمند ولس داسې چاپې او وحشتونه ولېدل چې موږ یې له بیانولوعاجز یو.

د جهاد برکت وو چې په هېواد کې مو اوس اسلامي نظام راغلی ، امنیت تأمین او د هر چا حقوق خوندي دي.

ښاغلی نوري زیاته کړه: د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د ولس او حکومت تر منځ پُل دی، دغه وزارت د ولس ستونزې اوري ، حل لارې ورته لټوي او قومي شخړې هواروي.

موږ تر اوسه ۱۷ قومي شخړې حل کړي چې په نورستان ولایت کې د ۹۱ کلونو د اوږدې شخړې حل یې ښه بېلګه ده . نوموړي په ډاګه کړه چې د قومي ستونزو او شخړو حلول او تر منځ یې د روغې جوړې اوهمغږۍ رامنځته کول ددې وزارت دنده ده.

د جرګو معین الحاج ملا عبدالخالق عابد پخپلو خبرو کې وویل: دا چې دا نظام په ډېرو قیمتي وینو تر لاسه شوی، نو ساتنه یې پر ټولو فرض ده، په وحدت او یووالي به د نظام ملاتړ کوو.

## په میدان وردګو ولایت کې د قومونو د یووالي او همغږۍ غونډه

پنجشنبه شعبان المعظم /۲/ ۱۴۴۴

د قومونو ترمنځ د یووالي او همغږۍ په یاده غونډه کې د سرحدونو،قومونواوقبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري، د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین الحاج ملا عبدالخالق عابد، مل پلاوي، د یاد ولایت والي، مرستیال والي د ادارو مسؤلینو، سلګونه قومي مشرانو او علماوو ګډون درلود. د غونډې په پیل کې د دیني عالمانو او مشرانو په استازیتوب څو تنو خبرې وکړې او ویې ویل چې دا نظام د ولس د سرښندنو له برکته را منځته شوی او له پیل څخه یې د اسلامي شریعت د نافذولو شعار درلود چې هغه ته یې د عمل جامه ور اغوستې ده او له حکومت څخه مو غوښتنه ده چې ولس ته په هره برخه کې ډېر کار وکړي.

د ولایت مرستیال والي شیر احمد حقاني د دغه ولایت د قومونو د یووالي په اړه ډاډ ورانديکړ زیاته یې کړه چې د دغه ولایت ټول اوسېدونکي په یوه غږ د یووالي پر ټغر را ټول دي. د وزارت د دفتر رئیس شیخ حضرت ولي حقاني وویل: دا یو ډېر قیمتي او ارزښت لرونکی نظام دی، د دې نظام او ازادي لپاره د افغانستان هر وګړي قرباني ورکړې ده، دا د افغانستان د هر وګړي وجیبه ده چې د دې نظام ملاتړ وکړي، او ورسره همکار و اوسي. د جرګو او قبایلي چارو معین ښاغلي عابد وویل: موږ د ولس ټولې غوښتنې د حکومت له مسؤلو اواړوند چارواکو سره په لیکلي ډول شریکوو او ستاسو د ستونزو د حل په موخه هلته ستاسو غږ رسوو. سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري د غونډې ګډونوالو ته وویل: په دې نظام کې

د هـر چـا حـق دی او ټـولـو قربانـۍ ورکـړې دي دا زمـوږ او تاسو ټولو هیله وه چې یو خپلواک اسلامي نظام ولرو. زه دا ډاډ درکـوم چـې د افغانسـتان اقتصـادي وضعیـت پایـدار دی. کـه د هېـواد ولسـونه همداسـې لـه خپـل نظـام ملاتـړ وکـړي پـه ډېـر کـم وخـت کـې بـه مـو هېـواد خودکفایـي تـه ورسـیږي او ستاسـو ټولـو هـره سـتونزه بـه د افغانسـتان داسـلامي امـارت لـه خـوا حـل کیـږي.

## د تـور غونـډۍ لـه بنـدر او لـه ترکمنسـتان سـره لـه ګـډې پولـې کتنـه

د سرحدونو قومونـو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج مـلا نـورالله نـوري او ورسـره مـل پـلاوي هـرات ولایـت تـه د خپـل سفر پـه ترڅ کـې د تـور غونـډۍ بنـدر، ترانزیتـي لاري او لـه ځینـو سـرحدي او صفـري نقطـو څخـه کتنـه وکـړه. ښـاغلي نوري د تـور غونـډۍ لـه کمېسـار ښـاغلي مولـوي صالح محمـد او نـورو مسـؤلینـو سـره وکتـل او د اوسـپنې پټلـۍ لـه لارې د تجارتـي مالونـو د انتقـال د بهیـر تـر څنـګ د مسـافرو د هوسـا تـګ راتـګ او لـه ترکمنسـتاني لـوري سـره یـې د دوئ د همغـږۍ پـه اړه ډاډ ترلاسـه کـړ. د سـرحدونو، قومونـو او قبایلـو چـارو سرپرسـت وزیـر الحـاج مـلا نـورالله نـوري ، سـرحد سـاتونکو ځواکونـو تـه د اسـلامي نظـام د سـاتنې او د هېـواد ځمکنـۍ بشـپړتیا د خوندیتـوب پـه اړه ګټـورې سپارښـتنې وکـړې. ښـاغلي نـوري وویـل: دا چـې تاسـو ویـښ او بیـدار یاسـت ټـول ولـس پـه ارامـه خـوب کـوي، تاسـو یاسـت چـې د قاچـاق او ناقانونـه تـګ راتـګ مخـه نیسـئ او دغـه راز د خپلـو پولـو څارنـه او سـاتنه کـوئ

چهارشنبه د رجب المرجب/۳/ ۱۴۴۴

## د دایـکـنـدي ولایـت ولـسـي او قـومـي جـرګـه کـې

د یـاد وزارت د جرګـو معیـن الـحـاج مـلا عبدالخالق عـابـد، د پـلان او پـالیسي رئیس مـولـوي نیـک محمد افغـانـي، مـل پـلاوي، د دایـکـنـدي مـرسـتیـال والـي احـسـان الله اخـنـدزاده، د ادارو مسـؤلیـنـو، سلګونه قـومـي مـشـرانـو او عـلـمـاء کـرامـو ګـډون کـړی وو. د جرګـې پـه پیـل کـې د یـاد ولایـت لـه ټولـو ولسـوالیو او سـیمو څخـه راغلیـو قومـي مشـرانو د افغانسـتان د اسـلامي امـارت لـه ټولـو خدمتونـو او هلـو ځلـو څخـه ډېـره خوښـي وښـوده او د دوی ټولـې کړنـې یـې د هیـواد د یـووالـي پـه برخـه کـې بـې بېلګـې یـادې کـړې او ترڅنـګ یـې د روغتیایـي مرکزونـو د فعالولـو، نیمګـړو پـروژو د بشـپړولو او لارو د رغولـو غوښـتنه یـې وکـړه. د سـرحدونو، قومونـو او قبایلـو چـارو وزارت د جرګـو معیـن پخپلـو خبـرو کـې د غونـډې ګډونـوال یووالـي او د نظـام ملاتـړ تـه را وبلـل او د دوئ سـتونزو تـه رسـېدنه او لـه اړونـدو ارګانونـو سـره شـریکول یـې خپلـه دنده وبلله. وربسـې د یـاد وزارت د پـلان او پالیسـۍ رئیـس مولـوي نیـک محمـد افغانـي پـه هېـواد کـې اوسـنۍ امنیـت او سـوکالي یـې د خلکـو لپـاره لـوی نعمـت یـاد کـړ.

## د کابل سروبي ولسوالۍ ته د مرستو د وېش په موخه سفر

د رجب المرجب /دریمه/ ۱۴۴۴

د سرحدونو، قومونـو او قبایلـو چـارو وزارت د کوچیانـو عمومي رئیس مولوي ګلزرین کوچي د جنوا غږ مؤسسـې لـه مسـؤلي اغلـې افیـلا سـره یـو ځـای د کابـل سـروبي ولسـوالۍ اړونـد د څرکـي درګاه، ګـړوچي، د خـوږ کوټـې، ځنګـوړه او اینځـرو سـیمو او کلیـو خلکوتـه د یـادي

مؤسسې لـه لـوري د خوراکي توکيـو د وېشلولپاره تللي و.
د خوراکـي توکیـود وېشـلو پـه پيـل کـې الحـاج ګـل زريـن کوچـي وويـل: چـې د سـرحدونو، قومونـو او قبايلـو چـارو وزارت ټولـو قومونـو پـه ځانګـړې توګـه کوچـي قومونـو تـه د هوسـا ژونـد او د تعليـم پـه برخـه کـې د اسـانتيا وو برابرولـو لپـاره ډېـرې هڅـې کـړې دي او هيـڅ وخـت بـه پـه دغـه برخـه کـې خپـل وس ونـه سـپموي.
ښـاغلي زريـن د جنـوا غـړ مؤسسـې لـه همکاريـو څخـه مننـه وکـړه او د يـادې مؤسسـې لـه رهبـري هيئـت څخـه يـې د کوچـي او نـورو قومونـو لپـاره د روغتيـا ، وترنـې، او نوروبرخوکـې د مرسـتو، او د مايـن لـه خطرونـو څخـه د ژغورنـې پـه اړه يـې د ورکشـاپونود جوړولـو غوښـتنه وکـړه.
وروسـته يـو تـن قومـي مشـرحاجي شـاه ولـي د ټولـو راغليـو قومونـو پـه اسـتازولۍ لـه جنـوا مؤسسـې او د سـرحدونو، قومونـو او قبايلـو چـارو وزارت څخـه ډېـره مننـه او قدردانـي وکـړه او پـه خپلـو سـيمو کـې يـې د ښـبناک د پاکـو اوبـو لپـاره د ځاګانـود کېندلـو غوښـتنه وکـړه. اغلـي افيـلا لـه دوی سـره ژمنـه وکـړه، چـې وړانديزونـه او غوښـتنې بـه يـې د نومـوړې مؤسسـې لـه رهبـري سـره شـريکوي او سـتونزو تـه بـه يـې د رسـيدګي پـه برخـه کـې همـکاري کـوي.
پـه پـای کـې د کوچيانـو عـمـومـي رئـيـس، مـلا امـامـانـو او د کـوچـيـانـو لـوسـتـو کـسـانـو تـه د تعليم الاسـلام يـو يـوکـتـاب ډالـۍ کـړ، چـې دوی او د کـورنـۍ غـړي يـې لـه مطالبوڅخه اسـتفاده وکـړي.
رجب المرجب ۲

## پـه ارزګـان ولايـت کـې هـم د قـومـونـو تـرمـنـځ د يـووالـي او هـمـغـږۍ پـه غـونـډه کـې د سـرحـدونـو، قومونـو او قبايلـو چـارو وزارت د جرګـو معيـن الحـاج ملا عبـدالـخـالـق عـابـد، مـل پـلاوي، د ارزګـان ولايـت ځـايـي چـارواکـو، د ولسـوالـيـو او مـرکـز عـلـمـاوو، قـومـي مـخـورو او سـلـګـونـه عـامـو خـلـکـو ګـډون کـړی وو.

ويناوالـو پـخپـلو خبرو کـې دافغانستان لـه اسلامي امارت څخه د ملاتړخرګندولو برسېره پخپلو سيموکې د لارو د جوړېدو، برښنا، روغتيا، د تعليم د پرمختګ او ناوړه دودونو د لـه منځه وړلو غوښتنه وکړه. همدا راز د وزارت د پلان او پاليسۍ رئيس مولوي نيک محمد افغاني د نظام او د قومونو تر منځ د يووالي او همغږۍ پر ارزښت خبرې وکړې.
دغـه راز د جرګـو معيـن الحـاج مـلا عبدالخالق عابد غونډې ته وويـل: دلته چې د نړۍ زبرځواک وپرځېده دا د دې ولس همکاري وه، د دې ولس قربانۍ پر دې نظام ورکې نه دي، د دې هېواد هر وګړی بايد د دې نظام شکر اداء کړي، همدا راز يې د قومونو د اتفاق په تړاو زياته کړه. راځئ له سيمه ييزو، ژبنيو، قومي او سمتي تعصبونو تېر شو، د دې واحد نظام تر قيادت لاندې متفق او يو شو.

## پـه نيمـروز ولايـت کـې قومـي جرګـه تـر سـره شـوه.

۱۳/رجب المرجب

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت له لوري د نيمروز ولايت مرکز زرنج کې يوه لويه قومي او ولسي غونډه جوړه شوه. په ياده غونډه کې د سرحدونو، قومونواوقبايلو چارو وزارت د جرګو او قبايلي چارو د همغږۍ معين الحاج ملا عبدالخالق عابد، ورسره مل پلاوي د نيمرزو ولايت د ادارو مسؤلينو، ديني عالمانو او قومي مشرانو ګډون درلود.
د غونـډې پـه پيـل کـې د علمـاوو پـه استازيتوب څـو تنـو خبـرې وکـړې، دوئ وويـل: دا د خوښـۍ او شـکر ځـای دی چې مشـران د خپـل ولـس د سـتونزو د اوريدلـو او د هغـوی د حـال اخيسـتلو لپـاره راغلـي دي، لـه څلوېښـت

کلنۍ جګړې وروسته یو واحد حکومت حاکم شوی او د هر افغان سر، مال او ټول حقوق خوندي دي. د قومي مشرانو له ډلې څخه یې څو تنو وویل: د افغانستان اوسنی نظام د افغانستان د ټولو قومونو نظام دی او په ګډه به یې ساتو، همدا راز د وزارت د پلان او پالیسي رئیس وویل: یو هېواد هغه وخت خودکفاء او استقلال تر لاسه کولای شي چې قومونه او ولس یې له نظام سره همغږې او تر څنګ یې ولاړ وي، افغانانو ته اوس الله جل جلا له موکه ورکړې چې د نظام ملاتړ وکړي او تر څنګ یې ودرېږي.
د جرګې په وروستیو کې د یاد وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین الحاج ملا عبدالخالق عابد وویل: د هېواد اقتصاد مو له بحران سره مخ و، خو موږ په لیږ وخت کې وکولای شول چې بېرته یې په پښو ودروو. هغه له ټولو هېوادوالو څخه د نظام د ملاتړ غوښتنه وکړه او زیاته یې کړه چې په همدغه نظام کې د ټولو عزت خوندي دی او ستاسو ټولو ستونزې به اوربدل کیږي. دلته زموږ د سفر یوازینۍ موخه همدا ده چې د دې مجاهدو ولسونو غوښتنې له نږدې واورو او تر اړوندې مرجع پورې یې ورسوو.
غونډه د هېواد د آبادۍ او تلپاتې سوکالۍ په دعا پای ته ورسېده.
یکشنبه۱۴رجب المرجب۱۴۴۴
په فراه ولایت کې هم د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین الحاج ملا عبدالخالق عابد ، ملګري پلاوي، د فراه ولایت د دولتي مسولینو، دیني عالمانو، قومي مشرانو، مخورو او عامه وګړو په ګډون غونډه جوړه شوې وه.
په یاده غونډه کې د فراه قومي مشرانو د اسلامي امارت په ټینګښت، له نظام څخه د ولسونو په ملاتړ، خلکو ته د چوپړتیاوو په رسولو او بیا رغونې په برخو کې ټولیزې خبرې وکړې ویې ویل: د افغانستان د اسلامي امارت تحکیم د همدې نظام د اقامې او ولسونو د خدمت لپاره دی لکه څنګه چې د دې نظام د قائمولو او فتحې ته د رسولو پر وخت مجاهدینو او عامه خلکو نه ستړې کېدونکې هلې ځلې ترسره کړې ساتل یې هم همداسې دنده او وجیبه ده چې موږ ټول یې باید په پوره صداقت او امانت داری په همغږې توګه تر سره کړو دوئ دغه راز پخپلو سیمو کې د اوبو بندونو د جوړولو او یو لړ نورو ټولګټو پروژو د بشپړولو غوښتنه وکړه.
وربیسې د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین الحاج ملاعبدالخالق عابد وویل: الله جل جلاله افغانانو ته د دوئ د وینو او قربانیو په بدله کې داسې عظیمه ازادي او خپلواکي وربه برخه کړه چې افغانان یې له تعصب، بدبختیو، خپل منځي شخړو او ځان ځانیو لرې وساتل او په یو تغر یې د یو واحد او خپلواک اسلامي نظام تر سیوري لاندې را غونډ کړل. همدا راز د وزارت د پلان او پالیسي رئیس مولوي نیک محمد افغاني پخپله وینا کې د شخړو په حل، د حکومت او ولس ترمنځ د واټن او لریوالي په له منځه وړلو کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت مهم او کلیدي وزارت یاد کړ زیاته یې کړه چې حکومتونه هغه وخت پرمختګ او ټینګښت موندلای شي چې له خپل ولس سره چارو کې په همغږۍ پرمخ ولاړ شي.

## د نیمروز ولایت مرکز زرنج کې له ایران سره د ترانزیټي لارې او سرحدي نقطو لیدنه

۱۴/رجب المرجب

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري د نیمروز ولایت په مرکز زرنج کې له ایران سره پر ګډه پوله د ورېښمو پل او سرحدي نقطو څخه لیدنه تر سره او د همدې ترانزیټي لارې له کمیسار مولوي حنظله او دفاعي او امنیتي مسوولینو سره یې وکتل.
ښاغلي نوري د یاد سرحد له مسؤلینو د سرحد په اړه معلومات ترلاسه او ددوئ ستونزې یې واورېدې.
د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر ښاغلي نوري پخپلو خبرو کې زیاته کړه: د هېواد د پولو څارنه او ساتنه یو ستر او سپېڅلی مسؤلیت دی چې باید په ډېر دقت ترسره شي.
د یادولو ده چې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري چې مرستیال والي الحاج محمد نبي عثماني او ځینو مسؤلینو یې هم ملتیا کوله د کمال خان بند له تأسیساتو او داوبو ذخیرې له دواړو کاسو څخه لیدنه وکړه .
ښاغلي نوري دغه راز د بند له ساتونکو، او د کنډک له مجاهدینو سره هم وکتل او ددوئ درانده مسؤلیت ته په اشارې یې زیاته کړه چې د عامه تأسیساتو او ملي پروژو ساتنه او نظارت که له یوې خوا درونه مسؤلیت دی له بلې خوا ډېره مهمه او له اجره ډکه دنده ده.

## د ننګرهار مرکز جلال آباد کې د قومونو ترمنځ د (یووالي اوهمغږۍ) ترسرلیک لاندې پراخه غونډه جوړه شوه

په یاده غونډه کې د سرحدونو،قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري ، د جرګو او قبایلي چارو دهمغږۍ معین ملا عبدالخالق عابد ، مل پلاوي ، ځایي یو شمېر چارواکو او د یاد ولایت له مرکز او بېلابېلو ولسوالیو راغلیو دیني عالمانو او قومي مشرانو ګډون کړی و.
یو شمېر قومي مشرانو پخپلو خبرو کې دا ډول غونډې د قومونو ترمنځ د یووالي د لاپیاوړتیا لپاره ګټورې وبللې، ویې ویل چې که له یوې خوا فاصلې لنډوي دغه راز مشران کولای شي د خلکو ستونزې له چارواکو سره شریکې کړي،ټینګار یې داو چې باید له نظام څخه چې زموږ د قربانیو ثمره ده ساتنه وکړو،دا نظام د افغانستان د خلکو په قربانیو راغلی، د نظام او ولس تر منځ فاصلې د دغسې ولسي ناستو له لارې ختمیږي.
موږ د نعمت کفران نه کوو ددې نظام بدیل نلرو.
د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین ښاغلي عابد وویل: له دې ناستې مو هدف د غیور ولس له مشرانو او علماوو سره له نژدې کتل او د هغوئ غږ اورېدل دي، اسلامي امارت د افغانستان له مختلفو قومونو څخه راټوکېدلی دی او د همدې قومونو په اتحاد او همغږۍ کې د نظام قوت نغښتی ،د هر قوم او ټبر د خلکو حقوق د اسلامي نظام له برکته خوندي دي.
د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري د ننګرهار ولایت د قومونو د یووالي اوهمغږۍ غونډې ته په وینا کې وویل: ۱۴۰۰ کاله وروسته هم دلته د اسلام توغ اوچت او اسلامي نظام حاکم دی دغې خاورې ډېر انقلابونه تجربه کړل، دلته هر چا خپل زور وازمایه، خو ددې خلکو وحدت او پر اسلام ثابت قدمي وه چې د خپلې خاورې د ازادۍ، ناموس د ساتلو او اسلامي نظام د

قیام لپاره د افغانستان ولسونو بې دریغه قربانۍ ورکړې یوازې هغه کسان مجاهدین نه دي چې ټوپک یې اخیستی وو، بلکې هر چا چې د امریکایي اشغال پر مهال یوه شپه هم ویښه تېره کړې وي، چاچې مجاهدین په دعا کې یاد کړي، هم مجاهدین دي.

الحاج نوري وویل: امریکایان د بشرحقونو د ملاتړ په نوم دلته راغلي وو خو دلته یې د مخدره موادو د مبارزې په نوم، د مخدره توکو تولید یو شرمونکې کچې ته لوړ کړ او زموږ ۴ میلیونه وګړي یې د اعتیاد په بلا اخته کړل.

د الحاج نوري پروینا د ولس او اسلامي امارت تر منځ هیڅ نوع فاصله وجود نلري، د اسلامي امارت مشران او عام مجاهدین د همدې قومونو له منځه راپورته شوي، د افغانستان خاوره او جغرافیه همدې قومي او قبیلوي جوړښتونو ساتلې، نه دا خاوره تجزیه کیږي او نه به یې په هیڅ قیمت پردي اشغالګر تر خپل تسلط لاندې وساتي. ستاسو هره غوښتنه موږ اورو او حل ورته را لټوو موږ د همدې ولس خدمتګاران یو او په دې ویاړو.

ښاغلی نوري زیاتوي چې موږ د پردې تر شا پټې کړنې او معاملې نلرو، زموږ ښکاره دریځ، ښکاره سیاست او ښکاره پالیسي ده په افغانستان کې سیاسي ثبات او د خلکو رضایت هغه حقیقت دی چې هیڅوک پرې سترګې نشي پټولای موږ پر خپلو منابعو اتکا کړې او له خپلو عوایدو مو د پرمختګ مزل پیل کړی.

## په لغمان ولایت کې د همغږۍ او یووالي په موخه غونډه جوړه شوه

سه شنبه/شعبان/۸

په یاده غونډه کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست ښاغلي الحاج ملا نورالله نوري، د وزارت د جرګو او قبایلي چارو معین ملا عبدالخالق عابد، ورسره مل پلاوي، د یاد ولایت والي د ادارو مسؤلینو، قومي مشرانو او علماوو ګډون کړی وو.

د غونډې په پیل کې د قومي مشرانو او علماوو له جملې څو تنو خبرې وکړې او د خپلو سیمو یو لړ ستونزې یې هم شریکې کړې. یو تن مشر پخپلو خبرو کې وویل: د یوه مستحکم اسلامي نظام د برم، د اسلامي شعائیرو او ارزښتونو ساتل او نافذول د ټولو افغانانو یو ارمان و چې الحمدلله پوره شو، دوی په خپلو خبرو کې له حکومت او ورغلي پلاوي څخه یې د زراعت، پراختیایي او اقتصادي پروژو او کوچیانو ته د څرځایونو او زده کړو د زمینې برابرولو په برخه کې د پاملرنې غوښتنه وکړه.

په پای کې سرپرست وزیر ښاغلي نوري په خپله وینا کې د لغمان د مجاهد ولس د جهاد او قربانیو ستاینه وکړه او د خلکو د غوښتنو په ځواب کې یې وویل: د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره ډېر بنسټیز پلانونه تر لاس لاندې لري، د زراعت په برخه کې به په راتلونکو څو کلونو کې یو انقلاب ووینو.

دا حقیقتونه باید درک کړو چې اسلامي امارت د خپلو خلکو غوښتنو ته لومړیتوب ورکوي. د نفتو په برخه کې د قشقرې استخراج یو ښه پیل وو.

## د کاپیسا ولایت په مرکز محمود راقي کې د قومونو ترمنځ د یووالي او همغږۍ غونډه جوړه شوه

۸شعبان المعظم ۱۴۴۴

په یاده غونډه کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین ملا عبدالخالق عابد، مل پلاوي ، ځایي یو شمېر چارواکو او د یاد ولایت له مرکز او بېلابېلو ولسوالیو څخه رابلل شویو دیني عالمانو او قومي مشرانو

ګډون کړی و. غونډې ته لومړی د کاپیسا والي ښاغلي قاري احسان بریال پخپلو خبرو کې کاپیسا ولایت د میړنیو او غیرتي قومونو ګډ کور یاد کړ ویې ویل چې د بهرنیو اشغالګرو پر وړاندې د جهاد په دوران کې یادو قومونو ډېرې قربانۍ ورکړې دي چې د اسلامي امارت مشران د دې ولس قربانۍ نه هېروي. وروسته د غونډې یو شمېر ګډونوالو په خپل وار ویناوې وکړې، د هیئت غړي مفتي زاهد په دوحه کې د کب د لسمې نېټې تاریخي معاهدې لاسلیک د امریکایي استعمار د سیاسي ماتې او افغان ولس د جهاد د بریا ورځ وبلله او ددې ورځې په مناسبت یې ټول افغان ولس ته مبارکي وویله په وینا یې هغه معاهده چې کتې متې د حدیبیې د تړون په څېر د فتح مبین پیلامه شوه. افغانستان خپلواکي واخیسته او د سولې، امن او ورورولۍ تغر په ټول هېواد کې خپور شو، مشرانو دغه راز له مراجعینو سره د ولایتي اداري له همکاریو مننه وکړه او د اسلامي امارت له مسولینو څخه یې و غوښتل چې د خلکو ستونزو ته رسیدګي وکړي. وروسته د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین ښاغلي ملا عبدالخالق عابد پخپلو خبرو کې وویل د دوحې تړون د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته ترلاسه کولو لپاره یوه ستره سیاسي بریا وه. الحمدالله نن ورځ په ټول افغانستان کې د اختلاف او بېلتون ټکی شتون نلري، د اسلامي نظام تر سیوري لاندې د هر چا حقوق مشخص او خوندي دي. نوموړي زیاته کړه هېواد مو تر ځلوېښت کالونو ډېره موده جګړو ځپلی او د رغولو لپاره یې ډېر کار ته اړتیا شته. اسلامي امارت به د دې ملت هرې غوښتنې ته مثبت ځواب وایي، خلکو ته د کار زمینې د برابرولو، کانالونو، بندونو او سړکونو جوړولو ته یې پلانونه جوړ کړي، چې د کاپیسا ولایت د خلکو ستونزو ته به هم رسیدګي کیږي. ښاغلي عابد وویل چې د امیرالمؤمنین حفظه الله عمومي عفوې دا ملت یو ځل بیا د انتقام طلبۍ او غچ اخیستنې له بدو پایلو وژغورلو. ان شاء الله چې د مشرانو په همکاري به د ملي وحدت په ټینګولو کې لا ډېرې هڅې کوو.

د پنجشېر ولایت مرکز بازارک کې د قومونو د یووالي او همغږۍ په غونډه کې چې د ۱۴۴۴ کال د شعبان المعظم پر ۱۵ مه جوړه شوې وه. د سرحدونو، قومونواوقبایلو چارو وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین الحاج ملا عبدالخاق عابد، مل پلاوي، د یاد ولایت له ولسوالیو څخه را بلل شویو دیني عالمانو او قومي مخورو ګډون کړی وو.

په غونډه کې د یاد ولایت والي مولوي محسن هاشمي، څو تنو قومي مشرانو او دیني عالمانو پنجشیر ولایت او د دغه ولایت په ولسوالیو کې د مېشتو قومونو یو لړ ستونزې شریکې کړې او له پلاوي څخه یې غوښتنه وکړه چې د یادو ستونزو په هوارولو کې مرسته او همکاري وکړي. وروسته د یاد وزارت د کوچیانو د اسکانو رئیس مولوي محمد نادر سنګین وویل: په تېرو شلو کلونو کې افغانان شهیدان شوي او ټکول شوي دي، خو اوس د یوه اسلامي نظام تر چتر لاندې هوسا ژوند کوي، نوموړي زیاته کړه نننۍ غونډه ستاسې د غږ اوربدلو او ستونزو ته د رسېدګي په موخه جوړه شوې ده، دا د ولس مسؤلیت

دی چې د دې نظام ملاتړ وکړي او تر ځنګ یې ودرېږي. وربسې د یاد وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین الحاج ملا عبدالخالق عابد وویل که د افغانستان ټول ولسونه همداسې متحد او همغږي و اوسي، نو د دنیا هیڅ زبر ځواک به ونه شي کولای چې دلته تېری وکړي، نو موږ او تاسو په خپل منځ کې په ملي وحدت او یووالي سره کولای شو له خپل دین، عزت او هېواد څخه په کلکه ساتنه وکړو.

نوموړي دغه راز په هېواد کې امنیتي وضعیت ته په اشارې سره وویل: چې د نړۍ ټولو هېوادونو د افغانستان امنیت خوندي نه کړ، خو د افغانستان اسلامي امارت وکولای شول چې په لنډ وخت کې د افغانستان امنیت تأمین کړي او ټولو ناخوالو او بد بینیو ته د پای ټکی کېږدي.

د یادولوړ ده چې د سرحدونو، قومونواوقبایلو چارو وزارت سرپرست وزیرالحاج ملا نورالله نوري ، د جرګواو قبایلي چارو د همغږۍ معین او د دغه وزارت پلاوو تردې د مخه پکتیکا، خوست ، پکتیا ،غزني اویوشمېر نورو ولایتونوته د سفرونوپه ترڅ کې د یادو ولایتونو د ځایي مسؤلینو، مرکز اوولسوالیو د سلګونه دیني عالمانواو قومي مشرانوپه ګډون د خلکو د ستونزو د اورېدو، تر منځ یې د یووالي او همغږۍ د پیاوړتیا ، شخړو د حل غونډې جوړې او د سرحدونو د برر سۍ په موخه یې سفرونه تر سره کړي دي له لارې یې قومي مشرانو د خلکوپه استازولۍ یو لړ ستونزې د حل په موخه شریکې او دغه راز یې د ورته غونډو په جوړولو چې د قومونو ترمنځ د یووالي د پیاوړتیا لپاره ګټورې دي ټینګار کړی و.

## یو ځوان وایي:

پلار سره مې مخالفت رامنځته شو، تر دې چې غږونه مو سره لوړ شول، زما لاس کې پاڼې وې، هغه مې په قوت سره په مېز وویشتلې او ووتلم، کله چې خپل ځای کې څملاستم سخت خپه شوم او له خپګانه د خلاصون لپاره مې خوب ته پناه یووړه. سبا پوهنتون ته ولاړم، طبیعت مې له حده زیات خراب و، موبایل مې راواخیست، پلار ته مې د هغه د خوشاله کولو په نیت لیک ولیکه، هغه ته مې ولیکل: اورېدلي مې دي چې د انسان د پښې لاندنۍ برخه له پاسنۍ هغې نه پسته وي، اجازه راکوئ چې پخپلو شونډو سره ستاسو په پښه باندې معلومه کړم چې دا خبره رښتیا ده که دروغ!؟

کور ته ورسېدم، دروازه مې خلاصه کړه، دهلېز کې مې پلار زما په انتظار ناست و او په اننګو یې اوښکې بهېدلې، راته کړه یې: زما د پښو ښکلولو اجازه نه درکوم، کومه خبره چې تاسو یاده کړې وه هغه سمه ده، ما پخپله معلومه کړې ده، کله چې ته ماشوم وې ستا د پښو لاندې او باندې دواړه برخې به مې ښکلولې. د پلار په دې خبره زما له سترګو هم اوښکې روانې شوې..

دا تر ټولو مهربانه انسان (پلار) به یو وخت کډه (کوچ) درنه کوي، مخکې له کډې یا کوچ کولو هغوی ته ورنږدې شئ، زړونه یې وساتئ، خوشاله یې ولرئ او که تللي وي د رحم او مغفرت دعا ورته وکړئ.

(د اسلامي معلوماتوله پاڼې څخه)

مولوي عبدالسلام طارق



# نبوي سيرت

(پنځمه برخه )

« د پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم په وړاندې بې ادبي» نبي اکرم صلی الله عليه وسلم يو ځلې په کعبه کې لمونځ ادا کاوه ، چې عقبه بن ابي معيط د هغه په مبارکه غاړه کې څادر واچاوه او دومره يې تاو کړ چې د هغه ساه په بندېدو شوه ، حضرت ابو بکر صديق رضی الله عنه چې خبر شو، نو په منډه منډه راغی ، هغه يې له شر نه بچ کړ او قريشو ته يې په خطاب کې وويل: اتقتلون رجلا ان يقول ربی الله ( آيا تاسې يو سړی له دې امله وژنئ چې هغه وايي چې زما رب الله جل جلاله دی) کافرانو پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم پرېښود ، خو له حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه نه را تاو شول ښه يې وواهه ، يو ځلې قريشو هغه د کعبې په غولي کې راګير کړ او پر وړاندې يې بې ادبي کول غوښتل ، حضرت حارث د ابي هاله زوی خبر شو ،په منډه ورغی او د اشرارو له شر نه يې د هغه د بچ کولو هڅه کوله، خو کفارو حضرت حارث همالته شهيد کړ، خو نبي اکرم صلی الله عليه وسلم ته يې د لاس اوږدولو جرئت ونه کړای شو، پر کومه لار به چې تېرېده ، کافرانو به ورته په هغې لار کې اغزي اچول ، چې هغه ته ضرر ورسيږي ، يو ځلې خاتم الانبياء حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د کعبې په انګړ کې لمونځ ادا کاوه ، قريش هم هلته ناست وو ، ابوجهل وويل په هغه ځای کې اوښ حلال شوی دی هلته

يې لړی پروت دی څوک شته چې هغه راوړي او پر محمد يې واچوي، د دې خبرې په ا وريدو عقبه د ابي معيط زوی پاڅېد او هغه لړی يې راوړ،چې کله هغه سجدې ته ولاړ، نو د هغه پرشا يې کېښود، پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم خو د توجه الی الله په مينه کې ډوب خبرهم نه شو، خو کافران له خندا نه چاودېدل، حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه هم هلته موجود و، خو د کافرانو د زياتوالي په لېدو يې دا جرئت ونه کړ،چې ور وړاندې شي، په ناڅاپي ډول حضرت فاطمه الزهرا رضی الله عنها چې لا کوچنۍ وه ، راغله او هغې د خپل پلار له شا نه لړی ايسته کړ او کفارو ته يې هم بد رد وويل ، د داعی اعظم حضرت محمد صلی الله عليه وسلم کور ته به ډېرې ګذارېدې ، مرداري او بد بويه شيان به هم د هغه کورته اچول کېدل. يوځلې هغه وفرمايل « اې بنوعبد مناف دا د ښه ګاونديتوب حق ادا کوي « کله به يې د هغه نوم شاعرکېښود ، کله به يې ورته ساحر او جادو ګر ويلو، او کله به يې ورته د ليوني خطاب کاوه لنډه دا چې د مکې کفارو د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم او د هغه ډلې ته په تکليف رسولو او د هغه په چارو کې د خنډونو په پيدا کولو کې هيڅ ډول ځنډ ونه کړ ، له بلې خوا نبي اکرم صلی الله عليه وسلم هم په پوره عزم ، استقلال او جرئت سره پخپل کار کې مشغول و ، کله چې د قريشو پر دې

خبره باور راغی ، چې زموږ کوښښونو له غو ښتنې سره سمه نتیجه ور نه کړه، نوهغوی مجبور شول چې بله لارغوره کړي.

**«ښکاره اوځرګند ځواب»**

قریش راټول شول، مشوره یې وکړه او عتبه بن ربیعه ته یې د خپل لوري نه پیغام ورکړ ، نبي اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم ته یې ولیږه،عتبه نبي اکرم صلی اللّٰه علیه وسلم ته راغی او په ډېره نرمۍ یې ورته وویل: چې اې محمده « ته ډېر شریف سړی یې ، ستا کورنۍ هم شریفه او معززه ده، خو تا په قوم کې فتنه اچولې ده، دا ووایه چې اخر ستا هدف څه دی ؟ که ته مال او دولت غواړې ، نو موږ به ستا لپاره دومره مال جمع کړو، چې ته تر ټولو زیات مالدار شې ، که ته حکومت او سرداري غواړې ، نو موږ ټول ستا سرداری او حکومت منلو ته تیار یو، که ته واده کول غواړې نو موږ به تر ټولو په قدر منه کورنۍ کې تاته یوه ښکلې نجلۍ واده کړو او که دا ټول شیان غواړې ، نو موږ دا هر څه درکولو او منلو ته تیار یو ، ته د خپل زړه غوښتنه ښکاره بیان کړه ، موږ ستا غوښتنو پوره کولو ته تیار یو. عتبه بن ربیعه چې کله خپله وینا پای ته ورسوله ، نو حضرت محمد صلی اللّٰه علیه وسلم ورته په ځواب کې د حم سجده سورة تلاوت پیل کړ ، چې هغه دې آیت ته راورسېد : « فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنْذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ» نو دعتبه رنګ زیړ وتښتېده او د آنحضرت صلی اللّٰه علیه وسلم پر خوله یې لاس کېښود او وې ویل: داسې مه وایه بیا هغه سجده وکړه او چې له سجدې نه فارغ شو ورته یې وویل تا زما ځواب واورېده ، عتبه له هغه ځایه راپاڅېد او قریشو ته راغی وې ویل دا زما نظر دی چې دا سړی پر خپل حال پرېږدئ او تاسې بیخي بې طرفه اوسئ ، که محمد صلی اللّٰه علیه وسلم دعربو پر هېواد بر یالی شو ، نو لکه څنګه چې هغه ستاسې ورور دی ، د هغه بریالیتوب به ستاسې بر یالیتوب وي او که تباه شو، نو تاسې به په آسانۍ سره ترې خلاص شئ ، د دې خبرو په او رېدو قریشو عتبه ته وویل: داسې ښکاري چې محمد پر تا هم جادو کړی وي ، عتبه وویل څه چې ستاسې زړونه غواړي ویې وایۍ او ویې کړئ ، ما خپله رایه ښکاره کړې ده .

**( د ابوطالب په خدمت کې د قریشو هیئت)**

کله چې د عتبه کوښښ ناکام شو، عتبه ، شیبه ، أبو البختری ، اسود ، ولید ، ابوجهل ، او د ځینو نورو کسانو یو هیئت ابوطالب ته ولاړ او شکایت یې وکړو چې ستا وراره زموږ بوتانو ته له بدو ویلو منع کېدل نه غواړي، ته هغه پوه کړه او له دې کاره یې منع کړه ، ابوطالب هغوی ته معقول ځواب ورکړ او د هغوی پام یې دې ته راوګرځاوه، چې تاسې هم په تکلیف رسولو کې له حده تیرې کوئ ، په هغه ورځ خو دا خلک له ابو طالب نه را پاڅېدل راغلل. خو په دویمه ورځ یې بیا مشوره وکړه ورغلل، د هغوی په راتلو سره ابوطالب خپل وراره حضرت محمد صلی اللّٰه علیه وسلم خپل کور ته را وغوښت او د هغه په مخکې خبرې اترې پیل شوې، د قریشو سردارانو هماغه خبرې په دې غونډه کې هم هغه ته وړاندې کړې، چې تر دوی د مخه ورته یوازې عتبه کړې وې ، هغوی وویل: اې « محمد صلی اللّٰه علیه وسلم « ته موږ دا مهال د ځینو خبرو له پاره دلته را غوښتی یې ، پر اللّٰه جل جلاله قسم چې یو سړی به هم پر خپل

قام دومره مشکلات رانه ولي په څومره مشکلاتو کې چې تا خپل قوم اخته کړی دی ، که ته د خپل نوي دین په وسیله مال او دولت جمع کول غواړې، نو موږ دومره مال درته راټولوو ، چې له بل چا سره نه وي ، که د شرف او عزت غوښتنه دي وي ، نو موږ دې له اوسه خپل سردار منو، که د حکومت او سلطنت هیله لرې ، نو موږ ستا دعربو پادشاه کولو ته تیار یو، که تا ته کوم پیري یا بل څه ضرر رسولی وي او د هغې له اثره ته دا خبرې کوې ، نو موږ د خپلو کاهنانو او حکیمانو په وسیله ستا علاج کولو ته تیار یو، هغه چې دا خبرې واورېدې، نو په ځواب کې یې د قرآن کریم څو آیتونه تلاوت کړل او وې ویل چې الله جل جلاله زه تاسې ته رسول رالیږلی یم چې د الله تعالی احکام تاسې ته ورسوم که تاسې زما لار ښوونې ومنۍ ، نو ستاسې له پاره پکې د دنیا او آخرت بر یالیتوب دی او که پر انکار ټینګار کوئ ، نو زه به د الله جل جلاله د حکم انتظار کوم ، چې ستاسې له پاره څه حکم کوي د دې خبرو په اورېدو د مکې کفارو وویل: ښه نو که ته د الله جل جلاله رسول یې، نو دا غرونه د عربو له هېواده لرې کړه ، دا شګلنې دښتې راشنې کړه ، زموږ پلرونه را ژوندي کړه او په هغوی کې قصي بن کلاب خامخا را ژوندی کړه ، که قصي بن کلاب را ژوندی شو او ته یې رښتینی وګڼلې او ستا رسالت یې ومانه ، نو موږ هم ستا رسالت منو، هغه ورته وفرمایل ، چې زه د دې کارونو له پاره پیغمبر نه یم رالیږل شوی، زما کار دادی چې تاسې ته د الله جل جلاله احکام چې پر ما نازلیږي واوروم او ښه موېږي

وپوهوم ، زه پخپل واک هیڅ نشم کولای، له دې ډول خبرو اترو وروسته د قریشو سرداران په غوسه له هغه ځایه راپاڅېدل ، او ابوطالب ته یې هم د مقابلې لپاره د تیارېدو وویل او ولاړل ، د قریشو سردارانو له تللو وروسته ابوطالب آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته وویل: وراره زه بوډا شوی یم او پخپل ځان کې له قریشو سره د مقابلې توان نه ګورم ، ته ما په داسې آزموینې مه اخته کوه ، چې زما له توانه وتلې وي غوره داده چې ته د خپل دین اعلان او د بوتانو ښکاره بدي بیانول پرېږده ، هغه چې دا واورېدل ، وې ویل: کاکا ! که زما په ښي لاس کې لمر او په چپ لاس کې سپوږمۍ کېږدي ، بیا هم زه له خپل کار منع کېدای نه شم ، د ابوطالب له خبرو هغه ته شک پیدا شو چې ګوندې تره یې اوس له ملاتړ نه لاس په سر کېدل غواړي ، ابوطالب د مکې په سردارانو کې تر ټولو د زیات درناوي او پرتم څښتن و، د بنوهاشم قبیلې ثابت سردار ګڼل کېده ، له همدې امله د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مخالفینو له حملې نه ډډه کوله او هغوی دا وېره احساسوله چې که یو ځل ټول بني هاشم د حضور صلی الله علیه وسلم ملاتړ ته ودرېدل ، نو معامله به ډېره نازکه شي، نو په دې خاطر د ابوطالب د ملاتړ له امله حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ته ډېر قوت په برخه وو اوس یې چې دا د ناهیلۍ خبرې واورېدې زړه یې را ډک شو داخبرې یې وکړې او غمجنې سترګې له هغه ځایه را روان شو او وې ویل چې کاکا ! زه به خپل کار تر هغه وخته پرې نږدم تر څو چې

د الله جل جلاله کار تر سره نه شي او يا د همدې کار په کولو، کولو کې مړ شم ، پر ابوطالب د دې خبرو ډېر اغيز وشو او هغه پيغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم ببېرته را وغوښت او ورته وې ويل: ښه نو ته خامخا پخپل کار کې مشغول اوسه ، تر څو چې په ما کې ساه وي ، ستا له ملاتړ لاس نه اخلم او تا به هيڅکله دښمنانو ته ونه سپارم.

د مکې کفار چې کله پخپلو ټولو کوښښونو کې ناکام شول ، د توحيد اوتبليغ لړۍ پر له پسې جاري وه ، نو هغوی ته اوس فکر پيدا شو ، هغوی ولېدل کوم تحريک چې موږ د کوچنيانو لوبه ګڼله ، هغې اوس وده وکړه او دومره ځواکمن شو ، چې اوس يې مخه نيول آسان نه دي ، هغوی اوس په اتفاق سره ملا وتړله او نبي کريم صلی الله علیه وسلم يې له کعبې نه منع کړ ، د ښار بې سره هلکان او لو چکان يې وټاکل، چې هر چيرې نبي کريم صلی الله علیه وسلم او يا ملګري يې ( مسلمانان ) وګوري چک چکې دې ور پسې وکړي، ښکنځلې دې ورته کوي او په لارو کوڅو کې دې له تلو راتلو منع کوي ، له بل ځايه راغلي مسافر دې له هغه سره خبرو اترو ته نه پريږدي، او په څه ډول يې چې وس او توان وي هغه دې تنګوي، د بې وسو مسلمانانو رټل او تنګول يې پيل کړل آن تر دې چې د مکې پراخه ځمکه اوس د مسلمانانو له پاره تنګه شوه او ژوندون ورته عذاب وګرځېد د دې حالت په لېدلو آنحضرت صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته اجازه ورکړه ، چې د حبشو هېواد ته ( چيرې چې د عيسويانو حکومت و ) ولاړ شي، په دې ډول د نبوت په پنځم کال د رجب المرجب په مياشت کې يوولس سړيو او څلور ميرمنو د حبشې په نيت مکه پرېښووده ، دا د پنځلسو کسانو کوچنی شان کاروان د شپې په تياره کې له مکې نه ووت، د جدې په بندر کې يې داسې جهاز « کښتۍ » ومونده چې د حبشې په لور د روانېدو په حال کې وه ، د هجرت د لومړي کاروان لاروي په کښتۍ کې سپاره شول او حبشې ته ورسېدل ، په ړومبنيو مهاجرينو کې د يادونې وړ شخصيتونه په لاندې ډول وو ، حضرت عثمان بن عفان او دهغه ميرمن ، حضرت رقيه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور، حضرت حذيفه بن عتبه ، حضرت عثمان بن مظعون ، حضرت عبدالله بن مسعود ، حضرت عبدالرحمن بن عوف ، حضرت زبير بن العوام ، حضرت مصعب بن عمير ، حضرت عامر بن ربيعه ، حضرت سهيل بن بيضاء ، رضی الله عنهم ، دې کسانو په عامه تو ګه د قريشو له ځواکمنو کورنيو سره اړيکې لرلې ، دا د دې خبرې دليل دی چې اوس د قريشو تيری او ناروا په غلامانو او بې وسو خلکو پورې محدود نه وو ، بلکې هغه مسلمانان که څه هم له ډېرې ځواکمنې قبيلې سره به يې اړيکې لرلې هغوی يې هم د خپلو وحشتونو ښکار ګرځول ، همدا ډول دا هم ترې ثابتيږي چې په کمزورو او بې وسو خلکو کې د دې توان نه وو چې د سفر وسايل د ځان له پاره برابر کړي ، کفارو ته چې د دغو مسلمانانو د هجرت کولو او د حبشې په لور د تللو احوال معلوم شو ، نو ورپسې ووتل ، خو

د هغوی د رسېدو د مخه سمندري جهاز د جدې له بندر نه د حبشې په لور روان شوی و ، حبشې ته په رسېدو مسلمانانو د آرام ساه واخیسته ، تردې وروسته مسلمانانو یو په بل پسې هجرتونه وکړل ، حضرت جعفر بن ابي طالب هم په حبشه کې له خپلو مسلمانانو ورونو سره یو ځای شو، د مسلمانانو شمېر درې اتیاو ته رسیدلی وو ، حبشې ته د مسلمانانو د تللو لا څو میاشتې تېرې نه وې چې هلته هغوی دا آوازې واورېدې، چې د مکې خلک ټول مسلمانان شوي دي او یا یې له مسلمانانو سره روغه شوې ده او اوس مسلمانانو ته په مکه کې هیڅ خطر نشته ، د دې خبر په اورېدو ځینې مسلمانان له حبشې نه بېرته را غلل او ځینو د دې خبرې د رښتیا او دروغو د تصدیق له پاره انتظار غوره و ګاڼه ، کوم خلک چې مکې ته بېرته را روان شوي وو هغوی له مکې نه د باندې واورېدل چې هغه آوازه غلطه وه ، نو په دې خاطر په هغوی کې ځینې له لارې نه بېرته د حبشې په لور ستانه شول او ځینې د کوم ځواکمن قریش په ضمانت مکې ته راغلل ، دا خلک چې مکې ته راغلل نور مسلمانان یې هم له ځانه سره کړل او حبشې ته ولاړل ، دا حبشې ته د مسلمانانو دویم هجرت بلل کېږي، له دې سره په حبشه کې د مسلمانانو شمېر تقریباً سلو تنو ته ورسېږي.

نوریه بله ګڼه کې

شپېکن خروټی

# څومره ښه دي

څومره! ښه دي، څومره! ښه دي هغه خلک
چې په څنګ کې دې پراته دي، هغه خلک

پیغمبره! چې دې زړه ته در نږدې وو
په ارمان درپسې مړه دي هغه خلک

د نړۍ سپک شوي خلک یې سپک ګوري
ګڼنې غرونه دي، درانه دي هغه خلک

اوس هم سر په سر ګوزار خوري، او زغمي یې
اوس هم کلک دي، پښتانه دي هغه خلک

ستا په دین او شریعت نړۍ ته ګوابښ دي
نور نو څه دي؟ او په څه دي هغه خلک؟

ستا خاطر دی ستا لپاره پرې مین یم
په شپېکن تر ځان خواږه دي هغه خلک

# د اسلامي حکومت کورنې سیاست ته لنډه کتنه

ځېړندوی وجیه الله ظهیر

## دریمه برخه (۱ـ۱۰ هـ ق)

### ج: د حدیبیې د سولې تړون

مکې معظمې نه یو پړاو لرې یوه ځاه ده، چې حدیبیه نومیږي او کوم کلی چې د دې ځاه په خوا کې پروت دی، هغه هم په دې نامه سره یادیږي. دا چې د روغې او سولې تړون په دې ځای کې لیکل شوی دی، له دې کبله ورته د حدیبیې د سولې تړون وایي.(۱: ۱۵۳مخ)

دا هغه سوله یا تړون دی چې د اسلام په تاریخ کې ډېر مهم او د اسلامي نظام د ټولو راتلونکو بریاوو سریزه ده او دغه راز دا هغه سوله ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیاسي کړنلاره تر په ښکاره ډول معلومیږي چې څنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو فکري دښمنانو سره سیاست کړی دی؟ له کوم بصیرت، پوهې او ځیرکتیا څخه یې ورسره کار اخیستی دی؟

که څه هم دغه پېښه ډېره اوږده ده او په بېلابېلو کتابونو کې په تفصیل سره ذکر شوې؛ خو موږ به تر هغه څه را واخلو او وڅېړو چې زموږ له موضوع سره اړخ لګوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیاسي تګلاره ترې څرګندیږي. د حدیبیې د سولې تړون هغه هوکړه ده چې د اسلامي حکومت د سیاست په سر کې ځای لري، دغه تړون چې د مکې مشرکینو سره ترسره او لاسلیک شوی، ډېر څه له ځانه سره لري.

په اړه یې عبدالرحمن عثماني په خپل اثر کې لیکي چې د خندق له جنګ نه وروسته په جزیرة العرب کې روان حالت د مسلمانانو په ګټه څرخېده او د لومړنۍ ستري فتحې نښې نښانې را څرګندېدلې. وایي، د هجرت شپږم (۲ = ۲۲۸ز) کال و، رسول صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو له یو ټولګي(۱۴۰۰کسان) سره د عمرې د حج د فریضې اداء کولو لپاره د مکې په لور حرکت وکړ او له ځینو بانډه چیانو(اعرابو) یې وغوښتل چې ورسره په دې سفر کې ملګري شي. که څه هم کمو بانډچیانو ورسره ملګرتوب وکړ، خو د رسول صلی الله علیه وسلم موخه له دې کار ځینې دا وه، چې د مکې مشرکینو ته وښايي چې د جنګ نه، بلکې د عمرې اداء کولو نیت لري.(۷: ۳۹مخ)

دغه راز ابو الحسن ندوي د دې سفرسبب، هغه خوب ګڼي چې رسول صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې ولید، چې مکې ته داخل شوی او له بیت الله شریف څخه طواف کوي او وروسته چې یې صحابه کرامو ته بیان کړ، د هغوی د خوښۍ لامل وګرځېد، ځکه هغوی هم ډېره موده شوې وه چې مکې ته نه وو تللي او د بیت الله زیارت پسې ډېر خفه وو.(۱۵: ۱۰۹مخ)

مولانا منصور احمد بیا لیکي چې له دې سفر څخه د رسول صلی الله علیه وسلم موخه که له یوې خوا مذهبي بڼه درلوده، خو له بلې لوري یې پوځي او سیاسي رازونه هم درلودل. وایي، رسول صلی الله علیه وسلم غوښتل چې د دې مذهبي سفر په ترڅ کې ضمناً د قریشو قوت او د هغوی د چال چلند ازموینه هم واخلي. مخکې زیاتوي، کله چې رسول صلی الله علیه وسلم مکې ته نږدې شو، نو د حدیبیې په دښته کې یې له خپلو ملګرو سره یوځای پړاو واچوه، وروسته

يې خبر ترلاسه کړ چې د مکې مشرکين نه غواړي چې دی عمره وکړي او کعبې ته نږدې شي.(۱۳: ۹۹مخ) مصطفی سباعي ليکي، له خزاعه قبيلې ځينې کسان راغلل، له رسول صلی الله عليه وسلم نه يې د راتګ سبب وپوښت، ويې فرمايل: يوازې د بيت الله شريف د زيارت او عمرې لپاره راغلی يم. د قريشو تسل ونه شو، بيا يې عروه بن مسعود راولېږه، هغه چې حالت وارزوه؛ لاړ او په سر کې يې قريش ووېرول. دغه راز د صحابه وو ادب او قدر يې د خپل مشر پر وړاندې ورته بيان کړ او بيا يې د رسول صلی الله عليه وسلم د عمرې اداء کولو له موخې خبر کړل، خو هغوی بيا هم ونه منله. وروسته رسول صلی الله عليه وسلم له دې لوري عثمان بن عفان ورواستوه، هغه ځنډ وکړ او داسې اوازه خوره شوه چې ګواکې عثمان رض يې په شهادت رسولی. دغه حساس وخت کې رسول صلی الله عليه وسلم خپلو ملګرو څخه د يوې ونې(کيکر) لاندې په جهاد او شهادت بيعت (بيعت الرضوان) واخيست. کله چې قريش له دې بيعت څخه خبر شول، ووېرېدل او سهيل بن عمرو يې د خپل استازي په توګه رسول صلی الله عليه وسلم ته ژر راولېږه، ترڅو د سولې په يو تړون ورسره پرېکړه وکړي.(۲: ۱۴۲ – ۱۴۷مخونه) سهيل بن عمرو د مکې د مشرکينو له لوري استازی وټاکل شواو د دغه سفارتي فعاليت په پايله کې د حديبيې مشهور د سولې تړون ترسره شو. حامد انصاري ليکي، قريشو د تړون د ليکلو په وخت کې په پوره «بسم الله» او بيا يې د «رسول الله» د ليکلو په لفظ اعتراضونه وکړل، رسول صلی الله عليه وسلم دواړه نيوکې د خپل حکمت او سياسي پوهې پر بنياد په داسې حال کې ومنلې چې صحابه کرام پوره قهرېدلي او غصه وو. ليکوال مخکې ليکي، دې سولې په ټوله کې څو مختصر شرايط درلودل چې په لاندې توګه وو:

۱ـ دا د سولې تړون د محمد بن عبدالله او سهيل بن عمرو ترمنځ فيصله کړی شوه.

۲ـ د لس کلونو لپاره به اوربند وي او دواړه لوري به له جنګ او جګړې څخه ځان ساتي.

۳ـ که له قريشو کوم تن پرته له اجازې مسلمانانو ته راشي، مسلمانان به يې قريشو ته ورکوي او قريش به بيا برعکس عمل کوي.

۴ـ نور قبايل آزاد دي چې دې دوو لورو کې هر لوري سره تړون کوي، کولای يې شي.

۵ـ دا کال به محمد بن عبدالله (رسول صلی الله عليه وسلم) او ملګري يې بېرته مدينې ته ګرځي، عمره نه شي کولای، راتلونکي کال ته به د درېيو ورځو لپاره راځي، په داسې ډول چې توري به يې په غلافونو(تيکو) کې وي او د وسلو د ګرځولو اجازه به هم نه لري.(۲: ۵۶مخ)

مولانا منصور احمد د دې تړون د ګټو په بحث کې ليکي چې لومړی ګټه اسلامي حکومت دا وکړه چې د مکې قريشو يې نظام په رسميت و پېژنده. دويم اغېز يې دا بولي چې د دې تړون له مخې هغه سيمې چې د دودونو او عنعناتو په توګه د قريشو تر اغېز لاندې وې، په ډېرې آسانۍ د اسلامي رياست تر چتر لاندې راغلې او وګړو يې له رسول صلی الله عليه وسلم او مسلمانانو سره تړونونه لاسليک کړل.ليکوال وړاندې ليکي، له هجرت څخه وروسته د دواړو لورو ترمنځ ډېرې ګډوډۍ او ستونزې پيدا شوې وې، امن نه و، په آسانۍ او آزاده توګه تګ راتګ نه کېده، خو

له ترون څخه وروسته مسلمانانو وکولای شول چې په آزاده توګه قریشو سره راشه درشه وکړي او د اسلام په خپراوي کې په ډاډه زړه فعالیت وکړي.(۱۳: ۱۰۰مخ)
دغه راز د دې سولې په پایله کې مسلمانانو وکولای شول چې د خپل دعوت په مرسته د خپلو ملګرو شمېر زیات کړي او ګڼ کسان د نور وخت په پرتله د اسلام مبارک دین ته را وبولي. همدارنګه یوه بله مهمه ګټه د سولې د ترون دا هم وه چې مسلمانان یې د قریشو له مخالفت او بې ځایه ربړولو څخه خلاص کړل او مسلمانانو وکولای شول چې د اسلام د خپرولو نوې – نوې هڅې پیل کړي او بیا یې له مخې تر ټولو سترې ګټې(مکې فتحې) ته لار پرانیځي.(۱۳: ۱۰۱مخ)
که پورته موضوع ته په دقت فکر وشي، دا ترې په ډاګه څرګندېږي چې رسول صلی الله علیه وسلم د پوره حکمت، بصیرت او سیاسي پوهې څښتن و. ځیرکتیا یې له دې معلومېږي چې ورسره د اسلامي نظام او نقشې فکر و. انعطاف او تېرېدنه یې د همدغه ستر هدف لپاره وه او غوښتل یې چې د مکې قریش د خپل لیکل شوي او لاسلیک شوي ترون له مخې ناچاره کړي چې بیا وروسته همداسې وشول. همدارنګه د دې موضوع په اړه ټول احادیث او تاریخونه په دې متفق دي چې د رسول صلی الله علیه وسلم درایت او سیاسي هوښیارتیا وه چې د دې ترون په پایله کې یې د حالاتو لوری او فضا بدله کړه. ټولو عربو ته یې وښودله چې اسلام د انسانیت دین دی، پیغام یې امن دی او مسلمانان په دې لاره کې تر دې حده رښتیني دي چې د نورو د ظلمونو سربېره بیا هم د اسلام په اړه خپل یقین له لاسه نه ورکوي او د ځان ترڅنګ نورو ته هم امن او عزت غواړي.

## د حجة الوداع وروستۍ خطبه

علامه عبدالحی حبیبي په خپل اثر کې لیکي، هغه وخت چې ټول بشریت د جهالت په تورو تیارو کې غرق و، هغه مهال چې زرګونه انسانان د سترو امپراتوریو د ظلم او ستم لاندې سوځېدل، شاهنشاهانو د وګړو د معبودانو حیثیت درلود، د علم روښنایۍ د انسان د مغز تیاره ګوټونه نه و رڼا کړي، هماغه مهال د مدینې په واړه ښار کې رسول صلی الله علیه وسلم د عربو ملت ته د خپلواکۍ، برابرۍ او د بشر د حقوقو تعلیم او درس ورکاوه. وړاندې لیکي او د حجة الوداع وروستۍ خطبه په خپلې لیکنه کې د بېلګې په توګه راوړي، وایي:
کله چې رسول صلی الله علیه وسلم په خپل وروستي حج کې ګڼو مؤمنانو ته وینا کوله، همدغه وینا او خطبه په تاریخ کې د بشر د حقوقو لومړنۍ اعلامیه ګڼل کېږي. هغه اعلامیه چې د اخوت، ورورولۍ او د برابرۍ په اصل استواره وه او هغه اعلامیه چې سوونه کاله پخوا یې د اسلام مبارک دین پیروانو ته وړاندې کړې او هغوی په ښه ډول تر نړیوالو رسولې.(۳: ۲۱۱مخ)
ابو الحسن ندوي لیکي، کله چې رسول صلی الله علیه وسلم د حرم پاکه ځمکه او بیت الله د بتانو او د شرک له پلیتۍ پاکه کړه، څه وخت وروسته (د هجرت لسم کال) بیا رسول صلی الله علیه وسلم د بیت الله شریف د لیدنې او د حج د اداء کولو په اراده له مدینې څخه ماسپښین مهال د ذوالقعدې د میاشتې په ۲۲مه نېټه ووت. رسول صلی الله علیه وسلم په دې سفر او حج کې غوښتل چې د مسلمانانو یو لوی جماعت سره لیدنه وکړي، هغوی ته د دین تعلیمات، د حج احکامات او وروستي وصیتونه وکړي

او له ټولو مسلمانانو څخه ژمنه واخلي او د جاهلیت ټول رسمونه او رواجونه لغوه اعلان کړي.(۱۵: ۱۲۹مخ)
رسول صلی الله علیه وسلم په دې سفر او د وروستي حج په دوران کې په ډېرو ځایونو کې څو خطبې وکړې، په دې خطبو کې د مسلمانانو لپاره ښه پندونه پراته وو او دا پندونه د هغه ستر او عظیم انسان و، چې اوس یې له نړۍ څخه رحلت کړی.
مولانا منصور لیکي، د حجة الوداع وروستۍ خطبه، رسول صلی الله علیه وسلم د عرفات په میدان کې شاوخوا(۱۴۰۰۰) یو لک څلوېښت زره مسلمانانو ته واوروله. وایي، په دغه خطبه او وینا کې رسول صلی الله علیه وسلم مسلمانان وحدانیت، یووالي، عدل او تقوی ته را وبلل. د جاهلیت وړاندوینې، رسومات او رواجونه یې ختم کړل. له غلامانو، په ځانګړې ډول له مېرمنو سره یې په ښه او نېک چلند امرونه وکړل. دغه راز یې د مسلمانانو وینه تویول، د مخکنیو دښمنیو ختمول حرام اعلان کړل او د مسلمان انسان د عزت او حیا درناوی، د مقدساتو او د مکې مکرمې د خاورې قدر ساتل، د خدای جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په احکاماتو منګولې خښول او نورو ته په رسولو یې حکمونه وکړل.(۱۳: ۱۴۹مخ)
همدارنګه رسول صلی الله علیه وسلم وویل:
ای خلکو! زما خبرې واورئ اوعمل پرې وکړئ، کېدای شي پس له دې کاله درسره ونه وینم او په دې ځای به درسره تر آبده ونه ګورم.(۲: ۲۷۹مخ)
عبدالکریم محب لیکي، په دې خطبه کې رسول صلی الله علیه وسلم د مېرمنو او نارینه وو حقونو د بیان ترڅنګ وویل چې ما تاسو ته دوه شیان پرېښودل، که منګولې مو پرې خښې کړې او پیروي مو وکړه، کله به هم بې لارې نه شئ چې هغه یو قرآن دی او بل زما سنت دي.(۱۲: ۵۰۲مخ)
علامه عبدالحی حبیبي لیکي، که څه هم د یادې جامع خطبې بحث د مسلمان انسان په خپلواکۍ، د ځان او مال پرتامین څرخېده او له سود(ربا) څخه یې مسلمانان منع کول، تر څنګ یې محتوا د افرادو او د ښځو په حقوقو هم بناء وه، وایي: په خطبه کې رسول صلی الله علیه وسلم دغوره والي معیار تقوی یاد کړ او ټول انسانان یې د یو پلار له نسل څخه وشمېرل او په حقیقت کې دا بیا هغه څه دي چې زر (۱۰۰۰) کاله وروسته د فرانسې د بشر د حقوقو په لومړۍ ماده او د نړیوالو حقوقو په دویمه ماده کې تشریح شوي. (۳: ۲۱۳مخ)
دغه راز لیکوال مخکې لیکي، په دغې وروستۍ او هر اړخیزه خطبه کې رسول صلی الله علیه وسلم نارینه و ته توصیه او امر وکړ، ترڅو د مېرمنو پر وړاندې له نیکۍ او غوره اخلاقو څخه کار واخلي، ځکه مېرمنې پر تاسو(نارینه و) ځانګړې حقوق لري او هغوی تاسې سره د خدای جل جلا له له لوري امانت دي. لیکوال وایي، سلګونه کاله وړاندې د مېرمنو پر حقوقو امر او د هغې رعایت، مېرمنو سره په نېک چلند امر، د هغوی له وژلو او یا ژوندۍ خښولو څخه منع، له شک پرته داسې یو څه دي چې زر (۱۰۰۰) کاله وروسته ورته نور انسانان د نړیوالو حقوقو په چوکاټ(۱۲ ماده) کې اشاره کوي او مېرمنو ته د حقوقو غوښتونکي دي، خو رسول صلی الله علیه وسلم سل ګونه کلونه وړاندې ټول انسانان دې اخلاقي عمل ته را بللي او توصیه یې پرې کړې، نو؛ باید د بشر د حقوقو په تاریخ کې دغه بې

ساري اقدام اساس وګڼل شي، په زړينو کړنو وليکل شي او د تاريخ حافظې ته يې وسپارل شي.(۳: ۲۱۴مخ) عبدالرحمن عثما ني ليکي، رسول صلی الله عليه وسلم د حج د اداء کولو او مسلمانانو ته د هراړخيزو لارښوونو وروسته د مدينې منورې په لور رهي شو. وايي، درې مياشتې وروسته بيا په مدينه کې ناروغ شو او وروسته له څو ورځو له ناروغتيا څخه يې د هجرت په لسم کال د ربيع الاول د مياشتې په ۱۲مه نېټه د دوشنبې په ورځ له دې نړۍ څخه مبارکې سترګې پټې کړې او بيا د ابوبکر رض په قول چې رسول صلی الله عليه وسلم څخه يې اورېدلی و، په هغه ځای(ام المؤمنين عايشه رضی الله عنها خونه) کې دغه ستر او عظيم انسان خاورو ته وسپارل شو، کوم ځای کې چې يې خالق تعالی ته خپل مبارک روح سپارلی و.(۷: ۴۵مخ)

## پايله

د څېړنې د دلايلو او شواهدو له مخې دې پايلې ته رسېږو چې د اسلامي حکومت يا نظام سياسي کړنلاره واضح او روښانه ده، داسې روښانه لکه د بې وريځو آسمان ځلېدونکی لمر. موږ ته په يادې څېړنه کې روښانه شوه چې اسلام د امن، ورورولۍ، برابرۍ او د مساوات دين دی. اصول، قواعد او قوانين يې څرګند دي. سياست يې په معنوياتو، پوهې او د متقابل احترام پر اصلونو ولاړ دی. دغه راز په دې پوه شو چې اسلام ناحقه وينه تويونه حرامه بولي. علم، پوهې، د بشر حقوقو، د بيان ازادۍ، زغم، صبر ته ترجيح ورکوي او په ټوله کې د انسانانو عزت او حيثيت قدرمن او ارزښتمن بولي. څېړنې دا هم را وښوده چې اسلام يوکامل، د حقانيت او د عدل دين دی، که چېرې په رښتيني معنا يې مسلمان امت امرونه او حکمونه عملي کړي، له شک پرته بريا يې لار څاري. نورو سره د سيال کېدو جوګه ګرځي، له خپلې جغرافيې، ارضي تماميت او ملي حاکميتونو په ښه ډول دفاع کولای شي، لکه څنګه چې رسول صلی الله عليه وسلم د ګڼو دښمنانو په منځ کې له خپل اسلامي حکومت او قلمرو څخه دفاع وکړه. همدارنګه په څېړنه کې په دې رمز هم پوه شو چې د اسلامي نظام د سياست تقاضا دا ده چې هر مسلمان فرد بايد په هر ډګر کې له نورو پرمختللی، ځيرک او هوښيار وي. د علم په ډګر کې عالم، د دعوت په ډګر کې داعي، د جهاد په ډګر کې پياوړی اخلاقي مجاهد، د مېرمنو پر وړاندې نرم زړی او عادل، د معمارۍ په برخه کې ښکلی معمار، د عبادت په برخه کې نه ستړی کېدونکی عابد او نورو(غير مسلمو) سره په اړيکو او مناسباتو کې، په اوسنۍ اصطلاح غښتلی او وېښ ډپلومات(استازی) وي.

همدا ډول له څېړنې مو دا الهام هم واخيست چې اسلامي حکومت له پيل څخه د خپل سياست او تګلارې په اجنډا کې د انسانيت، عزت او شرافت داسې موارد درلودل چې له څو سوه کلونو وروسته ورته د کفري نړۍ د ظالمو چارواکو پاملرنه اوښتې، او اوس پرې د مسلمانانو د تېرايستلو په نيت شخوندونه وهي، په داسې حال کې چې رسول صلی الله عليه وسلم ۱۴۰۰ کاله د مخه ټول بشريت انسانيت ته په ځانګړې ډول د ښځو او د بشر حقوقو ته متوجې کړی او په دې اړه يې په خپل وروستي حج او وينا(حجة الوداع) کې هر اړخيزې لارښوونې کړي، نو؛ د دې وخت مستکبر، ظالم او وحشي کفري چارواکي دې مسلمان امت ته د

سرېتوب او انسانیت درس نه ورکوي، دوی دې تکړه شي په رښتیني معنا دې ځان په اسلام پوه کړي او د مسلمه امت له ځورونې او له خپل بربریت څخه دې لاس واخلي.

## وړاندیزونه

دا چې اوس پر هېواد د اسلامي امارت سلطه ده او یاد اسلامي حکومت د اسلامي نظام د اقامې او راوستلو کلک هوډ او تکل لري، نو غواړم چې د دې لنډې څېړنې په پای کې د اسلامي امارت مسؤولینو ته دوه وړاندیزونه وکړم:

۱- کار اهل کار ته سپارل د اسلامي نظام د سیاست هغه اصل دی که په کې له دقت او عدل څخه کار واخیستل شي، له شک پرته له ځانه سره به ښې پایلې ولري. نو هیله او وړاندیز مو دا دی چې چارو ته د مسؤولینو په ټاکنه کې له پوره، ښه غور او دقت څخه کار واخلي، هغه چا ته مسؤولیت او دنده وسپاري چې د هغې وړتیا او قابلیت ولري.

۲- د قرآن او د رسول صلی الله علیه وسلم د قول له مخې علم رڼا ده او عالم او بې علمه کله هم سره برابر نه دي، دغه راز تعلیم او د پوهې تر لاسه کول په هر مسلمان نارینه او ښځې فرض شوي، نو عرض او وړاندیز مو دا دی چې په دې اړه اسلامي امارت شرایطو ته په کتو داسې فضا او ماحول په ټول توان سره برابر کړي چې څوک هم له دې ستر معنوي ارزښت څخه بې برخې نه شي او ټوله ټولنه د علم په ګاڼه سمبال شي.

## مأخذونه


۱. آبادي، اکبر شاه نجیب. د اسلام تاریخ، ژباړن، سید فضل مولا لټون، لومړی چاپ، پیغام خپرندوی مرکز: پېښور، ۱۴۲۵هـ ق.

۲. انصاري، حامد. د اسلام حکومتي نظام. ژباړن، ق-ح-صافی، لومړی چاپ، الهدی خپرندوی مرکز، پېښور، ۱۳۷۰هـ ش.

۳. حبیبي، عبدالحی. زر مقالې/هزار مقاله. لومړی چاپ، مرکز تحقیقات علامه حبیبي: مطبعه مسلکي افغان، ۱۳۸۷هـ ش.

۴. رحماني، شریف. اسلامي سیاست پوهنه. لومړی چاپ، اصلاح افکار:جلال آباد، ۱۳۷۷هـ ش.

۵. زیدان، عبدالکریم. فرد او دولت. لومړی چاپ، دار القرآن الکریم: پېښور، ۱۴۰۰هـ ش.

۶. سباعي، مصطفی. درسونه او عبرتونه. ژباړن، سلطان محمود صلاح، لومړی چاپ، الهدی خپرندوی مرکز: پېښور، ۱۳۶۹هـ ش.

۷. عثماني، عبدالرحمن. تاریخ تمدن اسلام. لومړی چاپ، ریاست عمومي تربیه معلم وزارت معارف: هند، ۱۳۹۱هـ ش.

۸. غزالي، امام محمد، فقه السیرة، ژباړن، دوکتور مصطفی نیازی، حکمت خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱ هـ.

۹. ګوهر رحمن. اسلامي سیاست. ژباړن، قریب الرحمن سعید، لومړی چاپ، پیغام نشراتي مرکز: پېښور، ۱۳۸۳هـ ش.

۱۰. ګیلاني، سید اسعد. د رسول اکرم ص د حکمت انقلاب. ژباړن، قریب الرحمن سعید، لومړی چاپ، پیغام خپرندوی مرکز: پېښور، ۱۴۳۰هـ ق.

۱۱. مبارکپوري، صفي الرحمن، الرحیق المختوم، ژباړن، پوهندوی مولوي جانباز، مکتبه فاروقیه، دریم چاپ ۲۰۰۸ م.

۱۲. محب، عبدالکریم. عظیم السیر د رسول صلی الله علیه وسلم عظیم اخلاق. لومړی چاپ، د افغانستان ټایمز مطبعه: کابل، ۱۳۹۰هـ ش.

۱۳. منصور احمد. د پیغمبر ص خوږې خاطرې. ژباړن، نجیب الله جالب، مومند خپروندیه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۱هـ ش.

۱۴. ناظم، محمد داود. دولت نو تشکیل پیامبر صلی الله علیه وسلم و تاثیرات آن. لومړی چاپ، انتشارات حامد رسالت: کابل، ۱۴۰۱هـ ش.

۱۵. ندوي، ابو الحسن علي. خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم محمد رسول الله. ژباړن، حسبان الله متوکل، دوهم چاپ، انتشارات اصلاح افکار: کابل، ۱۳۹۰هـ ش.

# د هېوادونو ترمنځ پولې

سيف الله ساعي د پوهنتون استاذ

## د پولو اړوند پرله پسې پنځمه برخه:

په مخکېنيو ګڼو کې مو د پولو اړوند ګڼ شمېر موضوعات او بېلا بېلې وېشنې، د هېوادونو ترمنځ د اوسنيو پولو اړوند ځينې مهم موضوعات تر بحث لاندې ونيول، په دغه ګڼه کې به د هېوادونو د پولو د ننه د مېشتو خلکو بېلابېل حالتونه تر بحث لاندې ونيسو، چې ډېر له پخوا څخه د بېلابېلو سيمو او هېوادونو د اوسېدونکو ترمنځ په ټولنيز ډول توپير شتون لرلو او بېلابېلو طبقو ته وېشل شوي وو لکه: ځينې نمونې يې په لاندې ډول دي:

### د پخواني يونان د ښاري دولتونو حالت:

پخوانی يونان د بېلابېلو مستقلو او خپلواکو ښارونو څخه جوړ و، چې هر ښار د يومستقل سياسي واحد او ښاري دولت په توګه پېژندل کېده، چې دغه مستقلو ښاري دولتونو بيا په خپل منځ کې سياسي او ډيپلوماټيکې اړيکې سره لرلې، خو د هر ښار خلک بيا په بل ښارکې پردي او بېګانه ګڼل کېدل، چې نوموتې ښاري دولتونه يې د آتن ، اسپارټ او مقدونيه له ښاري دولتونو .... څخه عبارت وو او د هغو ټولنيز جوړښت په طبقو او ډلو وېشل شوی و، لږ غوندې تفصيل يې په لاندې ډول دی:

الف: اصلي استوګن: د دې ډول خلکو لپاره دوه شرطونه په پام کې نيول کېدل: لومړی: دا چې د هغه ښار د اوسېدونکي مور او پلار څخه به پيدا شوي وي. دويم: دا چې د ښار په اړوند سيمو کې به آتلس يا شل کلنۍ ته رسېدلی وي چې دا ډول خلک بيا د ټولو مدني او سياسي حقوقو څخه برخمن وو.

ب: پردي يا بېګانه: ټول هغه بيروني آزاد خلک چې د يو ځه مودې لپاره يا په دائمي ډول په هغه ښار کې ژوند پيل کړي ببګانه يا پردي ګڼل کېدل چې دا ډول خلک به بيا له هيڅ ډول سياسي حقوقو څخه برخمن نه وو.

ج: غلامان يا مريبان: د يونان د ښاري دولتونو ډېرې اوسېدونکي همدغه غلامان او مريبان وو، چې د دولت توليدات د هغوی پر غاړه وو، د ناروغانو درملنه، ښوونه او روزنه، کسب کاري او په کورونو کې خدمت کول هم د همدغې ډلې او طبقې کار و، خو له هر ډول سياسي او مدني حقوقو څخه بې برخې وو، چې همدغه کار د يونان ډېموکراسي تر پوښتنې لاندې راوستلې وه.(۱)

### د پخواني روم ټولنيز جوړښت او حالت:

په روم کې هم خلک دوو ډلو يا طبقو ته وېشل شوي وو، چې يوه ډله يې د پېټرېشن(Patricians) او بله ډله يې د پلېبين (Plebeians) په نومونو يادېدلې، چې دغه دواړې طبقې او ډلې له برابرو حقوقو څخه برخمنې نه وې، بلکې لومړۍ طبقه چې د اشرافو وه له هر ډول سياسي او مدني حقوقو څخه برخمنه وه او دوهمه طبقه چې له عامو وګړو څخه وه، هغه بيا له هر ډول سياسي او حقوقي امتيازاتو څخه بې برخې وه.(۲)

### په اوسنۍ زمانه کې د هېوادونو استوګن:

په اوسنۍ زمانه کې هر څوک کولای شي په خپله خوښه او اختيار د ځان لپاره يو استوګنځی غوره کړي يا د يو ترون له مخې په يوځای کې ځای پرځای شي، خو په ځينو وختونو کې ځينې خلک تر ځانګړو

۱

حالتونو لاندې راځي چې د خپلې خوښې او ارادې پر بنسټ نه شي کولای چې د ځان لپاره استوګنځی وټاکي، بلکې د نورو خلکو استوګنځی پر هغوی تحمیلیږي له دې خبرو څرګندېږي چې استوګنځی پر درې ډوله دی چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

### ۱- اختیاري استوګنځی:

اختیاري استوګنځی عبارت له هغه ځای څخه دی چې یو څوک یې په خپله خوښه او اختیار د ځان لپاره وټاکي چې په دې کې د انسان له خپلې خوښې او ارادې پرته بل هیڅ کومه قانوني او قضایي اراده شتون نه لري، یوازې د استوګن خپله اراده له قانوني پلوه د باور وړګڼل کیږي، د بېلګې په ډول هرکله چې یو بالغ اهل تن په یو هېواد کې په دائمي ډول اوسېدل وغواړي په داسې حال کې چې اوسنی استوګنځی یې له پخواني استوګنځي سره توپیر ولري همدغه اوسني استوګنځي ته یې اختیاري استوګنځی ویل کیږي.(۳)

### ۲- اجباري استوګنځی:

اجباري استوګنځی له هغه ځای څخه عبارت دی چې د یو چا خوښه او اراده د هغه په ټاکلو کې هیڅ ډول اغېز نه لري، بلکې قانون هغه د خلکو پر اراده تحمیلوي، یا په ساده ټکو که وواېو قانون د ځینو خلکو لپاره د دې خبرې پربنسټ چې له نورو سره تړاو او اړیکه لري، یا په یو ځای کې دنده او بوختیا لري، استوګنځی ټاکي، چې دغه ډول استوګنځی یو څوک په خپله خوښه او اراده نه شي بدلولای، چې د افغانستان په حقوقو کې د لاندې کسانو استوګنځی اجباري شمېرل کیږي:

**الف: د مېرمنې او لور استوګنځی:** خو د مېرمنې او لور دواړو استوګنځی له دې پلوه چې آیا ښځه طلاق شوې ده او که په نکاح کې ده او لور واده شوې ده او که پېغله ده په دې بېلا بېلو حالتونو کې توپیرلري: (۴)

**- تر واده مخکې د لور استوګنځی:** د لور لپاره مخکې له واده هغه بیا که کوژده شوې وي او که یومخ مجرده وي، استوګنځی یې د پلار استوګنځی شمېرل کیږي، خو د پلار د نشتون په صورت کې یې بیا د شرعي ولي او سرپرست استوګنځی د هغې لپاره استوګنځی ګڼل کیږي.(۵) لکه څنګه چې د مدني محاکماتو د اصولو په قانون کې راغلي: په هغه صورت کې چې نجلۍ د واده سن ته رسېدلې وي یا د مدعي علیها د بشپړحقوقي اهلیت څخه برخمنه وي د دعوې څېړل د دې د پلار او یا د هغې د شرعي محارمو د استوګنځي د محکمې له واک څخه ده چې د هغه د اعاشې او پالنې متکفل دي(۶) په دغه ماده کې قانون جوړوونکي د لور استوګنځی نه دی په ډاګه کړی، خو دې خبرې ته په کتو سره چې قانون جوړوونکی په دې ماده کې د نجلۍ د پلار یا د هغې د شرعي محارمو له استوګنځي څخه بحث کوي؛ نو مونږ کولای شو له دې څخه دې پایلې ته ورسیږو چې د نجلۍ استوګنځی له واده مخکې د پلار یا د هغې د شرعي محارمو استوګنځی دی.(۷)

**- له واده څخه وروسته د لور استوګنځی:** لکه څنګه چې مېړه او مېرمن ګډ ژوند کوي؛ نو اړ دي چې په یوکور کې ژوند سره وکړي، چې دغه کور بیا مېړه له خپل وس سره سم چمتو کوي؛ نو د مېړه استوګنځی پر مېرمن تحمیلول وروسته له واده څخه دا د نکاح له طبیعت څخه سرچینه اخلي، ځکه پر مېړه د مېرمنې له مالي حقوقو څخه یو د نفقې برابرول دي چې په دې کې

استوګنځی هم راځي: لکه قانون وايي: په هغه صورت کې چې مېړوښه ښځه مدعي عليها وي د دعوې څېړل د هغې د مېړه د استوګنې سيمې د محکمې په واک کې ده.(۸)

- له طلاق وروسته د ښځې استوګنځی: له طلاق يا قضايي تفريق او يا خلع کولو وروسته د ښځې د استوګنځي په اړه مدني قانون او د مدني محاکمو د اصولو قانون چوپ پاتې دی،(۹) مګر د فقهاوو په اند د رجعي، بائن او مغلظ طلاق په صورت کې به ښځه خپل عدت د پخواني مېړه په کورکې تېروي، خو د رجعي طلاق په صورت کې ښځه له مېړه سره سفرکولای شي، هغه ته ځان ښايسته کولای شي او له مېړه څخه بېل اوسېدل ورته ناروا دي، مګر د بائن او مغلظ طلاق په صورت کې که چېرې د مېرمنې او مېړه په ګناه کې د اخته کېدو وېره وه؛ نو لومړی بايد مېړه له خپل کور څخه پرته بل ځای استوګنه غوره کړي، خو که داسې شونې نه وه؛ بيا دې ښځه بل ځای خپل عدت تېرکړي.(۱۰)

په غير اسلامي حقوقو کې د ښځې او بالغې نجلۍ استوګنځی اختياري دی، هر ځای چې د هغې زړه وغواړي کولای شي د خپل ځان لپاره استوګنځی غوره کړي.

- د محجورينو استوګنځی: محجورين لکه صغير، مجنون، معتوه او سفيه چې له هغوی څخه د هر يو استوګنځی په لاندې ډول دی:

الف: د صغير استوګنځی: چې صغير بيا په دوه ډوله دی: يو مميز، بل غير مميز، غير مميز ماشوم هغه ته ويل کيږي چې اووه کلنۍ ته نه وي رسېدلی، مميز بيا هغه ته ويل کيږي چې اووه کاله يې پوره کړي وي، خو دوولس کلونه نه وي رسېدلی، د مدني قانون له مخې طفل غير مميز او مميز دواړه ناقص الاهليت دي، همدارنګه مجنون (بشپړ لېونی) او سفيه (نيمه لېونی) چې دغه ټول بيا د وصيت، ولايت او قيموميت تر حکمونو، د هغو په اړه وړاندې کړل شويو شروطو او ټاکلو قواعدو پورې تړاو لري، لکه: د مدني محاکمو د اصولو د قانون په ۸۴ ماده کې راغلي: که اهليت نه لرونکي او د نيمګړي اهليت څښتنان مدعي عليهم وي د دعوې څېړل يې د ولي، وصي يا قيم د استوګنځي د محکمې له واک څخه دي.(۱۱)

ب: د غائب، مفقود، وسلوال پوځ استوګنځی: د مدني محاکمو د اصولو په قانون کې د مخکې يادو شويو کسانو په اړه داسې راغلي دي: پنځه اتيايمه ماده: د محجور، مفقود او غائب استوګنځی د هغوی د قانوني ځای ناستي استوګنځی دی.

شپږاتيايمه ماده: که د دولت کارکوونکي يا د وسلوال پوځ منسوبين په مدني قضيو کې مدعی عليهم وي د دعوې څېړل يې د هغوی د کار ځای د محکمې له واک څخه دي.(۱۲)

- د شخص د سوداګرۍ استوګنځی: د سوداګرۍ د ځای په اړه په مدني قانون کې راغلي: په هغه ځای کې چې شخص تجارت کوي يا يې کسب غوره کړی وي، تر هغه پورې د اړوند اداري له امله د هغه د اوسېدو ځای ګڼل کيږي.(۱۳)

حقوقپوهان وايي: د دغې مادې عبارت ګڼګ معلومېږي، ځکه د مدني قانون جوړوونکي په څرګندو ټکو نه دي په ګوته کړي چې دا ډول استوګنځی، اختياري استوګنځی دی که اجباري دی او يا قراردادي دی، خو دې خبرې ته په کتو سره چې دغه استوګنځی د شخص لپاره د قانون له خوا ټاکل شوی دی د شخص خپله اراده د هغو په ټاکلو کې کوم اغېز نه لري؛ نو داسې ښکاري چې دا به د اجباري استوګنځي له ډولونو څخه يو ډول وي.(۱۴)

۳- قراردادي استوګنځی:

قراردادي يا انتخابي استوګنځی هغه ځانګړی استوګنځی

دی چې د معاملې دواړه اړخونه یې د خپلو تعهداتو یا د هغه مدني دعوو چې د تړونونو د نه ترسره کولو له امله راپورته شوې دي وټاکي، یا په نورو ټکو انتخابي استوګنځی عبارت له هغه ځای څخه دی چې د هغه د رامنځته کېدو لامل د یوې معاملې په تړون کې د دواړو اړخونو یا یو اړخ اراده وي.(۱۵) لکه: په مدني قانون کې راځي:

(۱) شخص کولای شي د یو ټاکلي قانوني عمل د اجراء کولو لپاره د اوسېدو اختیاري ځای ولري.

(۲) د اوسېدلو هغه ځای چې د یوې ټاکلې قانوني معاملې لپاره غوره کیږي، د ټولو اړوندو کارونو لپاره په ګډون د اجراءاتو د اجباري تنفیذ د باور وړ دی، خو دا د اوسېدلو یاد شوی ځای باید په ډاګه د ځانګړو معاملو لپاره ټاکل شوی وي.

(۳) د اوسېدلو د اختیاري ځای ثابتول پرته د لیکل شویو اسنادو څخه جواز نه لري.

د دغې مادې له بېلابېلو فقرو څخه څرګندیږي چې قراردادي استوګنځی غالباً هغه ځای ته ویل کیږي چې یو څوک له هغه سره دائمي اړیکه ونه لري او د تل لپاره هلته نه اوسیږي؛ نو د همدې خبرې پر بنسټ یوازې د دواړو اړخونو اراده هغه ته د استوګنځي نوم ورکولای شي او دغه استوګنځی یوازې د تړون له مخې د یو حقوقي اغېز رامنځته کوونکی وي. بله خبره داده چې د دې مادې له متن څخه څرګندیږي چې د قراردادي استوګنځي په صورت کې د استوګنځي د قضایي حوزې اړوند محکمه له ټولو هغو صلاحیتونو څخه برخمنه ده کوم چې تر تړون یا معامله پورې تړاو لري؛ نو د همدې خبرې پربنسټ دائن (د پور څښتن) کولای شي د معاملې یا تړون د اجباري تنفیذ غوښتنه د خپل اختیاري استوګنځي په محکمه کې وکړي، یا د مالي ګواښ، د بدل ترلاسه کولو، د غیرمستقیمي دعوې او د عدم نفاذ دعوی او یا هم پر مدیون (پوروړي) د بندیز غوښتنه وکړي.

لکه څنګه چې د قراردادي استوګنځي ټاکل له اصولو، قواعدو او د حقیقي استوګنځي له اړوند اغېزو څخه عدول او مخ ګرځول دي؛ نو اړینه ده چې غیرقابل د تردید وي او د استوګنځي ټاکونکي شخص له ارادې سره سم وي او د رسمي یا غیررسمي سند له مخې تنظیم شي.(۱۲)

## مأخذونه:


(۱ )- دکتورعنایت الله خلیل هدف، تاریخ افکارسیاسي، دریم چاپ، انتشارات محمدی، ص ۱۱۳-۱۱۴، دچاپ کال ۱۳۹۳.

(۲) - مخکېنی مرجع، ص ۱۷۲.

(۳ )- نظام الدین عبدالله، حقوق بین الملل خصوصي،ص ۲۰، انتشارات سعید.

(۴ )- نظام الدین عبدالله، حقوق بین الملل خصوصي، مخ۲۱.

(۵ )- د مدني محاکماتو د اصولو قانون، ماده ۸۳.

(۶ )- نظام الدین عبدالله، حقوق بین الملل خصوصي،ص ۲۱.

(۷ )- د مدني محاکماتو د اصولو قانون، ماده ۸۲.

(۸ )- نظام الدین عبدالله، حقوق بین الملل خصوصي،ص ۲۱.

(۹ )- زین الدین ابن نجیم الحنفي ابن عابدین،څلورم ټوک، ص ۱۵۴.

(۱۰ )- د مدني محاکمو داصولو قانون، ۸۴ماده.

(۱۱ )- مخکېنی مرجع ۸۵ او ۸۲ مادې.

(۱۲ )- د افغانستان مدني قانون، ۵۳ماده.

(۱۳ )- نظام الدین عبدالله، حقوق بین الملل خصوصي،ص ۲۴

(۱۴ )- مخکېنی مرجع ص ۲۴

(۱۵ )- نظام الدین عبدالله، حقوق بین الملل خصوصی، ص ۲۵

# د احمدشاه بابا د واکمنۍ پرمهال د افغانستان فرهنګي وضعیت

څېړنپوه دوکتور محمدشریف ځدران

احمدشاه بابا د (۱۷۴۷م) کال د جولای پر پنځلسمه نېټه د شېر سرخ په لویه جرګه کې د افغانستان د پاچا په توګه وټاکل شو (۱: ۴۲ مخ). نوموړی په (۱۷۲۲م) کال په هرات کې زېږېدلی او هغه وخت د ده پلار زمان خان د هرات واکمن و (۲: ۱۲ مخ). د (۱۷۷۲م) کال د ډسمبر پر ۲۳ نېټه وفات شوی دی (۱: ۴۳۷ مخ).

افغاني مؤرخین په یوه خوله دي چې احمدشاه بابا یو نومیالی شاعر او مؤرخ و او آثار به یې وروسته در وپېژندل شي، ختیځپوهان هم احمدشاه بابا د یوه شاعر او مؤرخ په توګه را پېژني چې دلته په لنډ ډول بحث وربانديې کوو: جرمنی فیلسوف او سیاستوال فریدریک انګلیس (Friedrich Engele) د (۱۸۵۷م) کال په اګست کې د (افغانستان) تر سرلیک لاندې مقاله کې لیکي: ((احمدشاه ابدالي له خراسانه تر ډهلي پورې سیمه تر خپل فرمان لاندې ساتله؛ خو د سولې له روښه بې برخې نه و، دی یو شاعر او مؤرخ هم و. ۳: ۸۴ مخ. دغه راز انګرېز لیکوال الفنستن د احمدشاه بابا د سیاسي ورتیاوو تر څنګ د ده فرهنګي شخصیت ستایي او لیکي چې هغه یو مصنف او مؤرخ هم و)) (۴: ۲۲۷ مخ). امریکایي لیکوال آرنولډ فلېچر لیکي چې احمدشاه بابا د خپلې سیاسي او پوځي ورتیا تر څنګ د یوه شاعر او مؤرخ په توګه ورتیا درلوده او د پوهې د فلسفې او ادبیاتو روزونکی و (۵: ۷۲ مخ).

روسي لیکوال ګانکوفسکي لیکي چې احمد شاه بابا د پوهانو او عالمانو غونډې درلودې، پر مذهبي او علمي موضوعاتو باندې غږېدل، د ادبیاتو ملاتړ یې لومړیتوب و او حتی د دربار منشي محمودالحسیني ته یې د دربار د مؤرخ دنده وسپارله (۲: ۴۱، ۴۹ مخونه).

هندي لیکوال ګنډا سنګهـ لیکي چې احمدشاه بابا په مدرسه کې څه زده کړې کړې وې؛ ځکه چې په پښتو او فارسي ژبو کې یې شعر ویلی او په دغه برخه کې یې ډېر استعداد درلود، اشعار یې د ژبې له مخې ساده او په جوړښت کې عنعنوي برېښي؛ خو د احساس له مخې هغه ډېر پاخه او فوق العاده دي، د ده د اشعارو یوه مجموعه په (۱۳۱۹هـ،ق) کال په کابل کې خپره شوې ده چې سرلیک یې لوی احمدشاه بابا دی (۲: ۴۴۵- ۴۴۲ مخونه).

په (دانشنامه ادب فارسی) دریېم ټوک کې د احمدشاه بابا د فرهنګي شخصیت په اړه داسې راغلي دي: احمدشاه بابا په خپله شعر وایه او دېوان یې (۲۵۰۰) بیتونه لري، په فارسي یې هم شعر ویلی او د پښتو په دېوان کې یې شپږ فارسي غزلونه ثبت دي، په عربي یې هم ځینې نثري موضوعات کښلي او ملا محمدغوث په خپل اثر (شرح الشرح) کې د هغوی شرح په فارسي کړې ده (۲: ۵۵ مخ).

### د احمدشاه بابا آثار

۱) پښتو دېوان: دا د احمدشاه بابا یو په زړه پورې

شعري اثر دی چې تقریباً درې زره بیتونه لري، لومړی وار په (۱۳۱۹ هـ ق) کال د پوهاند عبدالحی حبیبي په مقدمه او تصحیح د (لوی احمدشاه بابا) په نامه په کابل کې پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی او دویم ځل په (۱۹۲۳م) کال د پېښور پښتو اکاډمۍ له خوا د (دېوان احمدشاه ابدالي) په نامه چاپ شوی او دریم ځلي د ښاغلي محمدمعصوم هوتک له خوا د (احمد شاه بابا دېوان)؛ یا دېوان هرا) په نامه په کوټه کې چاپ شوی دی.

احمدشاه بابا د خپل پښتو دېوان په اړه داسې وايي:

کتاب ختم شو په دوشنبې
یارانو موږ خو و تاسې دلې
په اخـر ورځ کـې د روژې
سنه هزارو صد شصت وسې

۲) دري دېوان: بهرنیو پوه الفنستن لیکلي دي چې احمدشاه بابا په دري ژبه کې هم څه شعرونه لري.

د پېښور په چاپ دېوان کې یې هم غزلې شته؛ نو ځکه یو شمېر پوهان وايي چې دري دېوان یې هم درلود.

۳) عربي اشعار: له احمدشاه بابا نه یو څه عربي اشعار هم راپاتې دي چې ترجمه او شرح یې په فارسي ژبې سره د هماغې زمانې نامتو عالم خانعلوم ملا محمدغوث کړې ده،

۴) علم ګنج: دا د احمدشاه بابا یو شمېر عرفاني او تصوفي مقولې دي، په دغې رسالې د احمدشاه بابا په ژوند خانعلوم ملا محمدغوث شرحه لیکلې ده، دغه شرحه د (شرح الشرح) په نامه یادېږي، دري سوه مخونه لري او یوه نسخه یې د کابل په خطي کتابتون کې خوندي ده.

۵) جامع الفواید احمدشاهي: نوموړې رساله په پارسي ژبه د تصوف په باب کښل شوې ده، یوه نیمګړې خطي نسخه یې د تاجکستان د علومو اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې په څانګه کې خوندي ده.

۶) د افغانستان تاریخ: حافظ نورمحمد کهګدای د کابل مجلې د ځلورم کال د دویمې ګڼې په (۵۰) مخ کې لیکلي دي چې احمدشاه بابا (د افغانستان تاریخ) په نامه په پښتو ژبه تاریخ هم لیکلی دی.

۷) الفنامه: دا په معنوي لحاظ یو خاص ډول نظم دی، چې د نړۍ په څو ژبو کې او په ځانګړې توګه په شرقي ژبو کې ځانګړی دود و او شته، احمدشاه بابا هم د پخوانیو شاعرانو په څېر دوې الفنامې کښلې دي چې یوه یې په خفیف بحر کې بوللې ده او د پېښور چاپ دېوان په (۱۹) مخونو کې ځای شوې ده.

۸) نامه احمدشاه بابا: احمدشاه بابا دغه لیک د پاني پت له تاریخي سوبې وروسته د عثماني دولت دریم سلطان مصطفی ته ولېږه، په دغه لیک کې یې هغه ته څرګنده کړه چې د افغان جلیل قوم (۲۹) کسانو پر هندوستان پاچاهي کړې او زه د مسلمانانو په غوښتنه هندوستان ته ولاړم او کفار مې وځپل او مسلمانان مې د هغوی له ظلمه وژغورل.

بې له شکه احمدشاه بابا یوازې د توري او سیاست ډګر اتل نه و؛ بلکې په علم او قلم کې یې هم له ډېرو څخه میدان وړی و، لکه د خپلو آثارو په اړه وايي:

وصف د یار به تمام نه وي
احـمـد جـوړ کړل کتابونه (۹: ۱۲ مخ).

د احمدشاه بابا د واکمنۍ پر مهال فرهنګي وضع

احمدشاه بابا په داسي وخت کې د افغانستان پاچا شو، چې افغانستان د چنګیزیانو او تېموریانو د دوو پېړیو له وحشت نه ډکه دوره او د صفویانو، شیبانیانو او بابریانو ترمنځ د ۲۵۰ کلونو سیاسي تجزیه زغملې وه او د افغانستان تمدن او فرهنګ پوپنا شوي و، د خاورې تمامیت او سیاسي استقلال یې له لاسه ورکړی و.

خو احمدشاه بابا وکولای شول چې د میرویس نیکه له خوا د افغانستان د بیا جوړولو نقشه په خپلو نه ستړې کېدونکو هلو ځلو سره بشپړه کړي، هغه نه یوازې د افغانستان استقلال او د خاورې تمامیت تأمین کړ؛ بلکې له خپلو زیاتو سیاسي او پوځي بوختیاوو سره- سره یې د نوي تمدن او فرهنګ بنسټ اېښودلو ته پاملرنه وکړه.

احمدشاه بابا د خپلې واکمنۍ پر نهم کال د اوسني کندهار ښار بنسټ کېښود چې په اشرف البلاد احمدشاهي کندهار باندې یې شهرت پیدا کړ. په ۱۱۲۹ هـ ق ، کال کې د دې ښار له جوړولو څخه هدف د امپراتورۍ د مناسبې پلازمېنې او د نوي تمدن او فرهنګ د ودې او پرمختیا لپاره د ښو شرایطو برابرول وو (۱۰: ۱۲ مخ).

د غبار په وینا: په احمدشاهي جومات، د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د سپېڅلې خرقې مبارکې او د احمدشاه قبر ودانۍ په شاهي بڼ کې یې جوړې کړې؛ تر ټولو ښکلې ودانۍ وې، احمدشاه بابا دغه راز د کابل بالاحصار پر شاوخوا دېوال را چاپېر کړ او د شاه شهید په نامه (شاه اسحاق ختلاني) زیارت ودانۍ یې ترمیم کړه او د اوسني تاشقرغان او د حیدراباد د ښارونو بنسټ یې کېښود او هم یې د افغاني حاجیانو لپاره په مکه معظمه کې د استوګنې ودانۍ جوړه کړه (۱۱: ۹۲ مخ).

د احمدشاه دراني په دوره کې د افغانستان پایتخت کندهار و چې رسمي نوم یې احمدشاهي و، په ۱۷۶۱ م، کال یې د جوړولو کار پیل شو او دغه ښار په شپږو کلونو کې جوړ شو. احمدشاه د کندهار نوي ښار ته د ارغنداب له سیند ه دوې د اوبو ویالې راتېرې کړې، دغه دوې ویالې د ښار په ورو لښتیو وېشل شوي وې او کابو د ښار ټولو کوڅو ته اوبه رسېدې. د دراني امپراتورۍ په لومړیو لسو کلونو کې د ښارونو د پرمختګ لپاره زیات امکانات برابر شول؛ دا ځکه چې ښارونه د سوداګرۍ او صنعت مهم مرکزونه وو (۱۲: ۵۲ - ۵۹ مخونه).

احمدشاه بابا چې له تاریخي آثارو او ویاړونو سره مینه درلوده او د هغوی په ارزښت پوهېده؛ نو ځکه یې په ۱۷۵۴ م، کال د کندهار په ښار کې د (بیت الاشرف) په نامه د یوه موزیم بنسټ کېښود.

همدا راز احمدشاه د خپل سلطنت په دوران کې درې غټې مدرسې په هرات، کندهار او پېښور کې جوړې کړې او ده په خپله د کندهار مدرسې په درسونو کې برخه واخیسته (۱۲: ۷۴ مخ).

روحانیون له احمدشاه بابا څخه خوښ وو؛ دا ځکه چې احمدشاه هغوی ته درناوی کاوه او ټول جوماتونه او محکمې د همدوی په واک کې وې، هغه په سزا ورکولو کې د انسان د بدن د غړو پرې کول منع کړل او په تشریفاتو کې یې د ملا ټیټول هم تحریم کړل. احمدشاه د افغانستان په اداره کې د سیاسي

یووالي بنسټ کلک کړ او دغې موخې ته د رسېدو لپاره یې د افغانستان د خلکو ترمنځ حقوقي مساوات په پام کې ونیول او د مذهب، ژبې، نژاد، سیمې او قبیلې تر منځ توپیرونه یې راکم کړل. په دولتي چارو کې یې د هر دین او قوم پیروان ګډ کړل، احمدشاه په ۱۷۶۱م. کال د کندهار اوسنی ښار د افغانستان د پلازمېنې په توګه جوړ کړ چې په هغه کې د ده خپل زیارت د افغانستان د هغه مهال د معمارۍ یوه بشپړه بېلګه ده (۱۴: ۴۱۸ - ۴۲۱ مخونه). ښارونو وده وکړه، جوماتونه او مدرسې په ښارونو کې بیا د لرغونو علومو په تدریس بوختې شوې؛ خو فرهنګ د خپل بیا ژوندي کېدو په تړخ کې یواځې هماغه د کړکېچ د دوران یو یادګار و (۱۴: ۴۸۰ مخ).

اعلیحضرت احمدشاه بابا چې د نوي افغانستان مؤسس و، د زړه له کومې یې غوښتل چې د افغان شیعه ګانو لپاره د خپل پوخ په اړانه کې د چنداولانو یوه پوځي قطعه او د هغوی قوماندان یې د چنداول باشي په نامه منظور کړل؛ ولي محمدخان د لطف علي بېګ جوانشیر زوی، چې احمدشاهي دولت ته یو له صادقو او خدمتګارو کسانو څخه و او د کابل بالاحصار په شا کې له خپلو قومیانو سره اوسېده، د دې قطعې قوماندان وټاکل شو، د دوی د اوسېدو ځای هم د چنداول د ناحیې په نامه د احمدشاه له خوا د یوه فرمان په صادرولو سره ونومول شو (۱۵: ۲۰۰ – ۲۰۲ مخونه).

د احمدشاه بابا د واکمنۍ پرمهال عصري معارف له بده مرغه رامنځ ته نشو او د پخوا په څېر عنعنوي ښوونې او روزنې په کورونو، جوماتونو، مدرسو او دربار کې جریان درلود. د احمدشاه بابا او د هغه د اولادونو د واکمنۍ پرمهال معقول او منقول علوم دود وو او په هغوی کې دیني علوم؛ لکه د حدیث او فقهه، تفسیر، فلسفه، تصوف، تاریخ، نجوم، طب او ادبي علوم؛ لکه نظم او نثر او نور موضوعات شامل وو (۱۲: ۱۳۷مخ).

احمدشاه بابا که څه هم عصري معارف رامنځ ته نه کړ؛ خو خپل هېوادوال یې د شعر په ژبه د علم او پوهې زده کړې ته راوبلل او دوی ته په خطاب کې داسې وایي:

علم ګوره څه څرګنده لوی دریاب دی
بیا هم در رابهېدلی په څو باب دی
دا د علم دریاب هر چېرې محیط دی
علم زده کړه چې د علم لوړ جناب دی

روحانیونو د افغاني ټولنې قاضیان تربیه کول، دولتي خیریه کارونه هم د دوی په غاړه وو او سربېره پر دې یې د هېواد ټولې تعلیمي مؤسسې اداره کولې، دولت دوی ته ځمکې او مستمري معاشونه ورکول (۱۲: ۴۵ مخ).

احمدشاه هر وخت ډوډۍ ته عالمان او پوهان رابلل، له دوی سره یې په مذهبي او علمي موضوعاتو خبرې اترې کولې، د رسم او رواج له مخې د دولت رئیس باید د ادبیاتو ملاتړ کړی وای. په ۱۷۴۲م. کال کې احمدشاه دراني نظام الدین سیالکوټي ته په همدې وجه جایګیر ورکړ او هم یې په کشمیر کې د قضایي چارو آمر (مین) وټاکه، نظام الدین سیالکوټی یو له هغو شاعرانو څخه و چې د احمدشاه لوی کارونه یې په شعر کې بیان کړل او شهنامه یې ورته ترتیب کړه (۱۲: ۴۹ – ۵۰ مخونه).

احمدشاه دراني یو دینداره او مذهبي شخصیت و؛

له علماوو، منورينو او له روحانيونو سره يې مينه درلوده، ټول لويان او لوړ رتبه ماموړين به د ده په حضور کې په درنښت ولاړ وو؛ سيدانو او ملايانو ته د ناستې اجازه ورکړل شوې وه، علما، فقرا او ديندار ه ملنګان يې د شپې ورېلل او له هغوی سره يې د علومو او مذهبي مسايلو په اړه بحث کاوه (۱۲: ۴۴۱ مخ). د لوی احمدشاه بابا که په يو لاس کې توره وه؛ په بل لاس کې يې قلم و، څومره چې ده د تورو د خاوندانو قدر کاوه؛ د قلم د خاوندانو قدر تر هغو کم نه و؛ د ده په دربار کې به د قلم خاوندان، ملايان او بزرګان د پاچا ښي لاس ته کېناستل او د توري خاوندان به کيڼ لاس ته (۱۷: ۵ مخ).

د احمدشاه بابا د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د فرهنګي وضعې يوه ځرګنده ځانګړتيا دا ده چې د احمدشاه په لارښوونه افغان تاريخ ليکنه پيل شوه، په دې اړه د (تاريخ نويسی در افغانستان) کتاب ليکوال ليکي چې احمدشاه د شيراز له حاکم محقق محمدتقي خان شيرازي سره چې د ده له نږدې همکارانو څخه و؛ د افغانستان د تاريخ ليکنې موضوع شريکه کړه او له ده يې وغوښتل چې يو داسې منشي پيدا کړي چې د ده د زماني تاريخ او د حوادثو بيان په وضاحت او روښتيا سره وليکي محمدتقي خان يو مطلوب تاريخ ليکونکی ژر پيدا نه کړای شو؛ خو کله چې په ۱۷۵۳م. کال د احمدشاه لښکرو مشهد ونيو؛ نوموړي د يوه پخواني دوست محمودالحسيني بن ابراهيم الجامي په اړه پاچا ته خبر ورکړ او احمدشاه ته يې د هغه په اړه وويل: دی يو ازموېل شوی منشي دی او د مهدي خان د تاريخ ليکنې له سبک سره اشنا دی او د هغه له شاګردانو څخه دی. محمودالحسيني مخکې له دې چې د احمدشاه خدمت پيل کړي؛ يوه ځانګړې ازموينه ترې واخيستل شوه او ده ته وويل شول چې يو څه وليکي او د پاچا او د ده د دربار د پوهانو هر يو: ملا شريف، ملا ادريس خان دولت شاهي، د دراني حکومت د شيخ الاسلام او نورو په وړاندې يې ولولي؛ ازموينه په برې سره تېره شوه او محمود الحسيني د دربار منشي شو (۱۸: ۳۴۴مخ).

محمودالحسيني (۲۰) کاله د احمدشاه په پوځي سوقياتو کې برخه وال و او ټولو دولتي او رسمي اسنادو ته يې لاسرسی درلود او په تاريخ کې يو جامع اثر د (تاريخ احمد شاهي) په نامه په فارسي ژبه وليکه چې احمدشاه بابا د واکمنۍ (۱۷۴۷ – ۱۷۷۲.م) د هرکال پېښې په جلا- جلا توګه په کې کښل شوې دي. محمودالحسيني د (تاريخ احمدشاهي) په سريزه کې د کتاب څېړلي موضوعات په لنډ ډول بيانوي چې: د نادرشاه د فعاليتونو لنډ راپور، د وفات کيسه او د هغه د ځايناستي حکومت. د پارس د مشرانو ترمنځ مخالفتونه، د خراسان بې سر او ساماني، د شاهرخ شاه او ميرعالم خان عروج او سقوط. د احمدشاه دراني نسب، واک ته رسېدل او د ده د واکمنۍ پرمهال پېښې. د احمدشاه په قلمرو کې د شمالي افغانستان او شمالي هند او د پارس پېښې. د (تاريخ احمدشاهي) اهميت په دې کې دی چې په افغانستان کې ليکل شوی او د اتلسمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې د افغانستان د تاريخ په اړه يو مهم او په زړه پورې مأخذ ګڼل کېږي (۱۸: ۳۴۵ – ۳۴۷ مخونه).

همدا راز احمدشاه بابا په ۱۷۵۳م. کال د مشهد د سوبې پرمهال نه يوازې د (احمدشاهي تاريخ) ليکوال محمودالحسيني په لاس راوړ؛ بلکې د خوشحالخان

ختټک کلیات د افغانستان علماوو او فضلاوو له خوا ورته ډالۍ شو. افغان شاهنشاه دا ادبي، تاریخي او حماسي اثر د خپل دفتر د مسؤل خرم خان په جمع کې قید او د کندهار دولتي کتابتون ته یې وسپاره. د انګرېزانو د یرغل پرمهال دغه خطي کتاب د استعمارګرو په لاس ورغی او اوس د انګلستان د کېمرج په پوهنتون کې په ۸۲۲ شمېره ساتل کېږي (۱۵: ۲۳۴ – ۲۳۵مخونه).

احمدشاه بابا دغه راز یو بل د وخت شاعر حافظ ګل محمد مرغزي ته دنده وسپارله چې د ده د سلطنت په اړه یو کتاب ولیکي؛ هماغه و چې حافظ مرغزي (احمدشاهي شهنامه) په ۱۱۷۶هـ ق ، ۱۷۶۳م) کې وکښله او دا شهنامه د احمدشاه بابا د دور (۱۷۴۷ – ۱۷۷۲م) یو منظوم تاریخ دی (۱۹: ب ،ا ، ج، ۵ مخونه).

همدارنګه احمدشاه بابا نظام الدین عشرت سیالکوټي ته چې کابل ته ورسره راغلی و؛ لارښوونه وکړه چې د ده د سلطنت په باب یو کتاب ولیکي؛ لکه چې شاعر په خپله وایي:

د احمد شاه له توصیې سره سم یې دغه شهنامه وکښله.

دغه مشهور اثر د (شهنامه احمدیه) په نامه احمدشاه دراني ته ډالۍ شو. د شاهنامه نادري (نادرنامه) شعرونو احمدشاه بابا ډېر تر اغېز لاندې راوستی و؛ نو ځکه یې له نظام الدین څخه غوښتنه وکړه، چې د ده سلطنت بیان کړي هره شپه یې شاعر دربار ته غوښت او د ده له اشعارو یې ګټه اخیستله نظام الدین وغوښتل چې نوموړی اثر په خپل وطن کې بشپړ کړي؛ هماغه و چې احمدشاه د دارالانشا مسؤل میرزا محمود ته لارښوونه وکړه چې ټول اړین مدارک او اسناد د ده په واک کې ورکړي. نوموړي له لازمو اسنادو او مدارکو سره سیالکوټ ته ستون شو او هلته یې (شاهنامه احمدیه) په ۲۱۴ مخونو کې ولیکله (۱۸: ۳۶۰ - ۳۶۱ مخونه).

وکیلي پوپلزی د (شاهنامه احمدیه) د لیکوال نظام الدین سیالکوټي په اړه لیکي، چې نوموړی د چناب سیند پر غاړه د احمدشاه بابا حضور ته ورغی او ځان یې د یوه عالم، شاعر او لیکوال په توګه ور وپېژنده او د احمدشاه بابا له خوا په ډېر درنښت ومنل شو او د ۱۱۷۰ هـ ق ، کال د جوزا (۱۷۵۷ م) په میاشت کې کابل ته ورسره راغی او تر ۱۱۷۲ هـ ق، کال پورې په کابل کې واوسېده. نظام الدین په ۱۱۲۲هـ ق، کال کې (نادرنامه) نظم کړې وه او دغه مهال یې د احمدشاه په حضور کې ولوسته او په دې ډول یې د تاریخ په لیکلو کې خپل لیاقت، استعداد او ورتیا پاچا ته وښوده او هم یې له افغان پاچا څخه هیله وکړه چې ده ته اجازه ورکړي چې د ده د سلطنت تاریخ د (شاهنامه احمدیه) تر سرلیک لاندې نظم کړي.

اعلیحضرت احمدشاه بابا د ده هیله ومنله او د دربار منشي او مؤرخ محمود الحسیني ته یې لارښوونه وکړه چې په کندهار او کابل کې د پېښو لیکنو په دفترونو کې اسناد نظام الدین سیالکوټي ته وسپاري، چې له هغه نه په ګټې اخیستنې سره د پېښو بیان ثبت کړي.

محمودالحسیني د سوبو مسودې او د حالاتو او

واقعاتو اړوند اسناد نوموړي شاعر او مؤرخ ته په واک کې ورکړل. دغه راز میر عبدالهادي موسوي لاري منشي باشي د شهزاده تیمورشاه د حضور وقایع نګار هم د شهزاده د دربار یادښتونه او مسودې ورکړې، نظام الدین سیالکوټي د دغو اسنادو پر بنسټ په ۱۱۸۶هـ ق، کال کې چې د احمدشاه بابا د وفات کال (۱۷۷۲م) کېږي؛ د (شاهنامه احمدیه) منظوم تاریخ په ۷۱۴ مخونه کې وکاږه د دراني اصیل تاریخ هماغه فرمانونه، سکې، قبالې او کتابونه وو چې نظام الدین په خپله منظومه کې ور نه ګټه واخیسته. پوپلزی زیاتوي چې د نظام الدین لومړنی لقب عشرت و چې د خوشحاله ژوند او خوشدلۍ په معنا دی؛ خو وروسته یې دغه لقب په عشاري (د شعري صفت نوم دی) له دې امله واړاوه چې د میر عبدالهادي خان موسوي منشي باشي د شهزاده تیمورشاه د دربار وقایع نګار تخلص هم عشرت و چې د دواړو ترمنځ توپیر وشي (۱۵: ۲۳۱–۲۳۴ مخونه).

ګنډا سنګهـ په خپل اثر (دراني احمدشاه) کې لیکي چې د نظام الدین (شاهنامه احمدیه) د احمدشاه د سلطنت یوه په زړه پورې شعري شرحه ده چې په (۱۷۷۲م،) کال کې یې بشپړه کړې ده، نظام الدین د احمدشاه په غوښتنه دغه شاهنامه په فارسي ژبه وکښله او د شاه په لارښوونه د دربار مؤرخ محمودالحسیني ده ته د لیکلو لپاره مواد او مدارک هم ورکړل (۱: ۲۴۷ مخ).

احمدشاه بابا د مجرمینو د هر ډول ګناه په مقابل کې د پزې او غوږ پرې کول بند کړل او د مریيي د وژلو حق یې د هغه له باداره واخیسته. دغه راز ده افغاني فرهنګ ته په کتو سره غلام ډوله دود چې یو بل ته به په ملا تیتېدل او ځمکه به یې ښکلوله؛ یو ناوړه دود په توګه له منځه یووړ او امر یې وکړ چې د سلام لپاره دې یواځې په تندي لاس کېښودل شي.

احمدشاه بابا د افغانستان ټولو مذهبونو ته د عباداتو په برخه کې پوره ازادي ورکړه او لارښوونه یې وکړه، چې هېڅوک باید مجبورنشي چې د بل مذهب مراسم او اصول په زوره وربانديي ومنل شي (۱: ۴۵، ۴۵۴ - ۴۵۷ مخونه).

احمدشاه بابا د خپلې واکمنۍ پرمهال د طلاق نابرابره دود چې په هغه کې نارینه تر ښځې زیات امتیازات لرل؛ له منځه یووړ، ده په جدي توګه د کونډو ودول منع کړل، یواځې د کونډې نږدې خپلوان؛ لکه: پلار، زوی او سکه ورور کولای شول؛ هغه واده کړي (۱: ۴۵۸ مخ).

**د احمدشاه بابا د عصر لیکوال، پوهان او شاعران**

د احمدشاه بابا په دوره او عصر کې ډېر زیات عالمان، پوهان او شاعران تېر شوي؛ موږ یې ځینې مهم او پېژندل شوي دلته په لنډه توګه درپېژنو:

محمودالحسیني، د احمدشاهي دربار منشي او مؤرخو د (تاریخ احمدشاهي) کتاب لیکوال. حافظ ګل محمد مرغزی، په پښتو ژبه د (شاهنامه احمدشاهي) منظوم تاریخ لیکوال او شاعر، واقف بټالوي لاهوري، شاعر چې احمدشاه بابا خپل دربار ته رابللی و. نظام الدین سیالکوټی، په فارسي ژبه د (شاهنامه احمدیه) تاریخ لیکوال. شاه ولي الله دهلوي، عالم، پوه او ولي چې احمدشاه یې د مرهټانو پر ضد جګړې ته بللی و. میراولاد محمدذکا، حاجي هاشم

سندي، الفتي کابلی، عبدالهادي موسوي لاري، د شهزاده تېمورشاه منشي، میا فقیرالله جلال ابادي عالم، صوفي او لیکوال، قاضي ادریس، د احمدشاه بابا د لښکرو قاضي او پاچا او هم د ده مرید و، ملا دوست محمد، عالم او پوه، ملا محمدغوث، عالم او لیکوال، سید خواجه میردرد، حافظ رحمت خان، تاریخپوه او لیکوال، مولوي هدایت الله، ملا ابوالوفا، سامي، صافي، حضرت جي، ملا پیرمحمد کاکړ، نوموتی لیکوال او شاعر، کرم الله بابا، حیا، میر غیاث الدین بدخشانی، عبدالرحیم هوتک، د پښتو او فارسي پیاوړی شاعر، پښتو دېوان یې دوه ځلې چاپ شوی دی، فیض الله کاکړ، اخندزاده او داسې نور... (۱۲: ۱۲۸ مخ).

د پښتو ژبې په تاریخ کې د احمدشاه بابا دربار لومړی دربار دی چې د پښتو ژبې ګرامر، صرف او نحوه په کې لیکل شوي او منل شوې ده، احمدشاه خپلو زامنو ته هم پښتو ورښودله؛ نو ځکه یې د پښتو خوږژبي شاعر پیرمحمد کاکړ دوی ته ښوونکی وټاکه، پیرمحمد کاکړ د پاچا په امر د شهزاده سلیمان لپاره د (معرفة الافغاني) په نامه د پښتو ګرامر ولیکه او د هغې له مخې به یې درس ورکاوه، دا کتاب په افغانستان کې د پښتو لومړنی ګرامر دی، چې تر اوسه پورې زموږ په لاس کې دی او ویاړ یې د احمدشاه بابا د دربار په برخه دی (۲۰: ۱۰۰- ۱۰۱ مخونه).

پیرمحمد کاکړ د پښتو ژبې یو ډېر ښه ادیب او په (۱۱۹۲ هـ. ق) کال یې د پښتو اشعارو یو لوی دېوان وکاږه، د عبدالرحمان بابا او حمید مومند له سبکونو اغېزمن و، په کندهار کې وفات او خاورو ته وسپارل شو (۲۱: ۷۹- ۹۸ مخونه).

برهان خان د احمدشاه بابا د وخت شاعر او د پاني پت په جګړه کې د احمدشاه بابا په لښکرو کې شامل و، ده د همدغې تاریخي جګړې بیان په یوه قصیده کې داسې بیان کړی دی:

احمدشاه پادشاه په جار وویله
د غزا په نیت وځمه له کابله
پښتني مېړمني لاندې کړې کفارو
دا خبره مې په زړه وګرځېدله
یا به ننګ د پتانه ببرته په ځای کړم
یا به بایلم ککری، پرې باندې خپله
امیران، وزیران واړه ترې چاپېر وو
د هندوستان په لارې تله واړه خوشدله
د اټک په سیند یې دوه پوله تیار کړل
پادشاه پرېوت په (مانځه) یې مېشته کړله
هر سپاهي یې له برېښو نه کم نه و
د (روتاس) کوټ یې بې جنګه واخیستله
د باهو نه لکه پوځ ورپسې راغی
شپه او ورځ یې خالي نه وه له مزله
مخامخ شو جنګ یې وکړ په میدان کې
دو روخه یې توپخانه وچلوله
سمندخان، مؤمن خان دواړه شهیدان شول
احمدشاه د زړګي ستن ونړېدله
اوه ورځې وه تیاره؛ بیا رڼایي شوه
د باهو تنه په مځکه لوغړېدله
مرټي په لور د غم نارې سوري شوې
پښتانه توره یې هاله ومنله

پادشاه جنګ وګټه هر څوک پرې خوشحال شو
بیا برهان یې مدام ستایي له غزله (۲۱:۸۱ مخ)

### د احمدشاه بابا د وخت علمي او فرهنګي کورنۍ

۱) د علومي او خانعلوم کورنۍ: دا کورنۍ د کندهار له بارکزیو څخه وه، چې تر (۱۹۱۹ م) کال پورې د قاضي القضات پر څوکۍ یې کار کاوه.

۲) د هرات د سلجوقیانو علمي کورنۍ: علامه ملا میرزا د احمدشاه بابا له خوا هرات ته راوستل شو او د ده په اولاده کې لوی پوهان پیدا شول، چې مرحوم علامه صلاح الدین سلجوقي او مرحوم عبدالرؤف فکري سلجوقي له همدغې کورنۍ څخه و.

۳: د ملا اسماعیل الکوزي کورنۍ: دا کورنۍ د احمدشاه له وخته په کندهار کې مېشته وه او د ملا اسماعیل الکوزي زوی ملا احمد د احمدشاهي ښار قاضي و چې په معقولو او منقولو علومو کې استاد و. د دغې کورنۍ یو بل علمي شخصیت پیرمحمد و چې (۱۲۳۳ هـ. ق) کې یې د (عقیدة المشایخ و العلما) په نامه یو پنډ کتاب په عربي ژبه لیکلی و.

۴) د پېښور د قاضي خېلو کورنۍ: د احمدشاه بابا له وخته یې د افغانستان په سیاست او علم کې لاس او د کابل پاچاهانو په دربارو کې یې شهرت درلود؛ لکه چې قاضي فیض الله د تېمورشاه په مهال کې او قاضي محمدحسن د شاه شجاع په دربار کې د لوړ مقام څښتن وو، قاضي عطاالله خان د خدایي خدمتګارو د غورځنګ فعال غړی، شاعر او لیکوال او د پښتو تاریخ مؤلف د همدغې کورنۍ غړی و (۱۲: .... مخ).

## پایله

احمدشاه بابا داسې مهال واک ته ورسېد، چې د چنګېزیانو او تېموریانو د څه کم درې سوه کلن وحشت او ناورین او د صفویانو، شیبانیانو او بابریانو له خوا د افغانستان د دوه نیم سوه کلنې سیاسي تجزیې په بهیر کې د افغانستان مادي او معنوي فرهنګ پوپنا شوی و، احمدشاه بابا نه یوازې د افغانستان خپلواکي، د خاورې تمامیت ، سیاسي حاکمیت او یووالی ټینګ کړ؛ بلکې د یوه فرهنګي، علمي، ادبي شخصیت او لیکوال په توګه یې د افغانستان د فرهنګي وضعې ودې او پرمختیا ته هم پاملرنه وکړه، ده د یوه ادیب، شاعر او مؤرخ په توګه په پښتو، دري او عربي ژبو یو شمېر آثار ولیکل او راتلونکي نسل ته یې په میراث پرېښودل.

احمدشاه بابا دغه راز نور افغان پوهان او شاعران وروزل او وهڅول چې افغاني فرهنګ ته غنا وروبخښي، په فرهنګي ډګر کې یې له ستونزو او تعصبونو سره مجادله وکړه او په افغانستان کې یې مېشتو قومونو ته د قلم چلولو او د بېلابېلو عقایدو د پاللو اجازه ورکړه.

تاریخ لیکنه دود شوه او په هېواد کې عنعنوي ښوونې او روزنې دوام درلود، پښتو او دري ژبې د ادب او لیکنې ژبې وي.

مأخذونه:

۱: ډاکتر ګنډاسنګهـ. درانی احمدشاه د نصرالله سویمن ژباړه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۲ ل.
۲: مرغزی، حافظ ګل محمد، احمدشاهي شاهنامه، ۱۷۶۲ م، د مشتاق احمد ترتیب او تدوین، پښتو اکاډمي، کابل، ۱۳۶۵ ل.
۳: مارکس، فریدریک انګلیس، پیرامون استعمار، مسکو، د پروګرس نشراتي اداره، ۱۹۸۴ م.
۴: الفنسټن، مونټ ستوارټ. د کابل سلطنت بیان، دویم ټوک، د ډاکتر محمدحسن کاکړ ژباړه، د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۶۱ ل.
۵: فلیچر، آرنولډ. افغانستان د سوبې لویه لار، د عبدالجبار نادر ژباړه، د علومو اکاډمي، کابل، د ښووني او روزني مطبعه، ۱۳۶۹ ل.
۶: دانشنامه ادب فارسی به سرپرستی حسن انوشه، جلد سوم، تهران، سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنګ و ارشاد اسلامی، ۱۳۷۸ ل.
۷: د احمدشاه بابا د دیوان غورچاڼ، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۵۷ ل.
۸: نامه احمدشاه بابا، بنام سلطان مصطفی ثالث عثمانی، تطبیق و تحشیه غلام جیلاني جلالي، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۳ ل.
۹: خانعلوم. د احمدشاه بابا د اشعارو پښتو شرح، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۲ ل.
۱۰: هوتک، محمد معصوم. احمدشاهي کندهار، رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار، ۱۳۸۳ ل.
۱۱: غبار، میر غلام محمد. احمدشاه بابا افغان، ژباړن: امین الله دریځ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۷۷ ل.
۱۲: ګانکوفسکي، یو. و. د درانیانو امپراتوري، ژباړن: دکتور ګل محمد نورزی، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۵۷ ل.
۱۳: منیب، عبدالعزیز. د افغانستان معاصر تاریخ، کابل، محمدي انتشارات، ۱۳۹۳ ل.
۱۴: غبار، غلام محمد. افغانستان د تاریخ په تګلوري کې، بشپړ متن، لومړی او دویم ټوک، ژباړن: پوهاند محمدبشیر دودیال، کابل، میوند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ ل.
۱۵: وکیلي پوپلزی، عزیزالدین. فرهنګ کابل باستان، جلد اول، وزارت اطلاعات و فرهنګ، کابل، مطبعه طباعتی و صنعتی احمد، ۱۳۸۷ ل.
۱۶: نګاهی بر نقش فرهنګی افغانستان در عهد اسلامی وزارت اطلاعات و کولتور، مدیریت سالنامه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۵ ل.
۱۷: رشاد، عبدالشکور. د پاني پت قهرمان لوی احمدشاه بابا د خلکو په نظر کې، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، د ښووني او روزني مطبعه، ۱۳۷۰ ل.
۱۸: محمود، شاه محمود. تاریخ نویسی در افغانستان، پوهنتون کابل، پوهنځی علوم اجتماعی، شعبه تاریخ عمومی، کابل، ۱۳۷۷ل.
۱۹: حافظ مرغزی. احمدشاهي شهنامه، کندهار، علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۸۷ ل.
۲۰: بېنوا، عبدالروف. پښتو روزنه، د پښتو څېړنو بین اللملي مرکز، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۷ ل.
۲۱: رښتین، صدیق الله. د پښتو ادب تاریخ، پښتو ټولنه، کابل، عمومي مطبعه، ۱۳۲۵ ل.

# شعر د جذبو او ولولو پاروونکی

حمدالله حلمیار

څرنګه چې د دین او وطن دفاع ته هر وخت سر په لاس زلمي راوتلي او د سپیڅلي شهادت په مینه مست یې د لمبو منځ ته دانګلي دي، همداراز همدغو زلمیو د جهاد سنګرونه په حماسي زمزمو وېښ ساتلي دي، انقلاب حماسي زېږوي او حماسې بیا د ولس مبارزه د فتحې تر بریده رسوي.

دا یو څرګند حقیقت دی چې فزیکي جهاد په جنګي وسایلو کیږي، خو د وسایلو تر څنګ جهاد ته د جذبو او ولولو اړتیا شته، او حماسي شعرونه هغه بڅرکي دي چې په مړو او ارامو رګو کې ولولې را ټوکوي او غازیان د اور لمبو وردانګلو ته تیاروي تاریخ شاهد دی چې ډېر ځله مو د رزم یوې ټپې د دښمن پښې لړزولې او دهلاکت کندې ته یې ټیل وهلي دي؛ کله چې د میوند پر ډګر وریو ترو غازیانو په مړاوو څېرو او لوېدلي مورال خپلې سینې د انګرېزي تاړاکي لښکر د آسونو تر غوبل لاندې لیدلې!!

خو چې د یوې غازۍ او اتلې خور (ملالۍ) دا حماسي ټپه یې تر غوږ شوه، نو په رګونو کې پاتې وینې یې پر جوش راغلې او له لاسه لوېدلې توري یې یوځل بیا را پورته کړې ؛ له ژوند او مرګ نه بې پروا په انګرېزي لښکر ورپریوتل، په لنډ وخت کې یې دښمن ټول تر تیغ تېر کړ او د فتحې توغ یې هسک وساته.

که په میوند کې شهید نشوې
خدایږو لالیه بې ننګي ته دې ساتینه

تر دې وړاندې هم په تاریخ کې د ډېرو حماسي شعرونو او رزمي ترانو د پرېکنده اغېز او بریالیو پایلو کیسې لیکل شوې دي، په پټه خزانه کې د امیر کروړ، سلطان ملخي توخي او احمدشاه ابدالي ډېر حماسي شعرونه ثبت شوي دي چې هر یو یې د یوې معرکې او سترې فتحې سرلیک دی.

حماسي شعرونه وطنپاله رزمي ترانې دي چې د هر هېواد وال په سینه کې یې د وطن مینه په څپو کړې او د هېواد دفاع ته یې ملاوې تړلې... شعر یوازینی ادبي ژانر دی چې ګڼ شمېر پښتانه ورسره اشنا دي او په ځانګړي ډول په شعر کې رزمي او وطنپاله شاعري داسې ده چې د کلیوالو او نالوستو هېوادوالو خاصه علاقه اولېوالتیا ورسره ده .

د شفاهي ادب ډېره برخه وطنپال او حماسي شعرونه تشکیلوي؛ په سلو کې اتیا نالوستي خلک په شفاهي ادبیاتو کې له حماسي شعرونو ،هېوادپالو ترانو او د میړانې له کیسو سره مینه لري او هر یوه ته دا ډول ډېر شعرونه او کیسې یادې هم دي ؛ پښتنه مور له زانګو تر لویېدو پورې خپلو بچیانو ته د نیکونو او پلرونو د مېړانې او غیرت کیسې کوي او له همدې ماشومتوبه یې د غیرت په روحیه را لویوي.

مور ټولو ولېدل چې د چنګیز، انګرېز او روس پر وړاندې د مقابلې ډګرونه د شاه زلمیانو د تورو له شرنګا سره سره د حماسي شعرونو زمزمو او د تکبیرونو ملکوتي انګازو فتح کړي او ددې شاهد هم وو چې د امریکایي ښکلاک پر وړاندې د غزا ډګرونه هم د جهادي ترانو په زمزمو ګرم او ځوانان

يې پر خپل وطن سر ځارولو ته تيار کړي دي.
، چې پر روان جهادي بهير، ادب او په ځانګړې توګه شعر ډېرې مثبتې اغيزې لري، که ووايو شعر او شعار دی چې ارادې غښتلې کوي او ځوانان د نا هيليو له ګرداب نه د بري د ساحل پر لور بيايي.چې دا خبره به راسره ومنئ.
دا حقيقت دښمن هم درک کړی، چې شعرونه او ترانې په شل کلن جهادي بهير کې څومره اغېزمن اومؤثر ثابت شوي!!

په سلو کې اتيا نالوستي خلک په شفاهي ادبياتو کې له حماسي شعرونو ،هېوادپالو ترانو او د مېړانې له کيسو سره مينه لري او هر يوه ته دا ډول ډېر شعرونه او کيسې يادې هم دي ؛ پښتنه مور له زانګو تر لوييدو پورې خپلو بچيانو ته د نيکونو او پلرونو د مېړانې او غيرت کيسې کوي او له همدې ماشومتوبه يې د غيرت په روحيه را لويوي. مور ټولو ولېدل چې د چنګيز، انګرېز او روس پر وړاندې د مقابلې ډګرونه د شاه زلميانو د تورو له شرنګا سره سره د حماسي شعرونو زمزمو او د تکبيرونو ملکوتي انګازو فتح کړي او ددې شاهد هم وو چې د امريکايي ښکېلاک پر وړاندې د غزا ډګرونه هم د جهادي ترانو په زمزمو ګرم او ځوانان يې پر خپل وطن سر ځارولو ته تيار کړي دي.

څو کاله وړاندې مې له کومې راډيو څخه په دې اړه جوړ شوي يو پروګرام نه واورېدل، چې د ځينو نړيوالو رسنيو په حواله يې دا خبره کوله، چې د دولت مخالفين خپلو ليکو ته خلک د شعرونو او ترانو له لارې را جذبوي او جنګ ته يې چمتو کوي.
د دوی په اند ترانې اورېدل پر ځوانانو ډېره اغېزه لري، احساساتي کوي يې او له هر ډول خطرونو بې پروا د جهاد ليکو ته وردانګي.
په فکري مبارزه کې هم شعر او ادب ډېر مهم رول لري، که څه هم اسلامي امارت هغه مهال داسې نشرات يا خپرونې نه درلودلې چې له لارې يې خپل اواز او خپل پيغام دعامو خلکو تر غوږونو وررسولای وی، همدا ترانې او شعرونه وو چې په لږه موده کې د هر هېوادوال تر غوږونو ورسېدل او څه نا څه يې دا تشه ډکه کړه.
د جهادي ادب سنګرونه په همدې حماسي شعرونو او رزمي ترانو ژوندي وي اود هر مجاهد قلمي مبارزه او د هر ترانه خوان غړيز خدمت د قدراوستايلو وړ دي.
الله تعالی دې د دوی هڅې پخپل دربار کې قبولې کړي او رب دې د لا ډېر خدمت کولو توان ورکړي.

**شعر په اسلام کې:**

-وعن أبي بن كعب - رضي الله عنه - قال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : «إن من الشعر حكمة» .رواه البخاري.
له ابی بن کعب رضی الله عنه نه روايت دی، هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: بې شکه ځينې شعرونه له حکمته ډک وي.
د الله رسول صلي لله عليه وسلم به د مسلمانو شاعرانو شعرونه اورېدل او ځينې شعرونه به يې ډېر زيات خوښېدل

-وعن أبي هريرة- رضي لله عنه - قال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «أصدق كلمة قالها الشاعر كلمة لبيد: ألا كل شيء ما خلا الله باطل».متفق عليه.
له ابی هریره رضی الله عنه روایت دی، هغه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: په هغو خبرو چې شاعر کړې دي تر ټولو رښتینې خبره د لبید خبره ده: «خبردار له لوی خدای جل جلاله نه پرته هر څه فنا کیږي.»
-وعن عمرو بن الشريد، عن أبيه - رضي الله عنه - قال : ردفت رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يوما فقال : «هل معك من شعرأمية بن أبي الصلت شيء ؟ « قلت: نعم. قال: « هيه»فأنشدته بيتا . فقال : « هيه» ثم أنشدته بيتا فقال : « هيه « حتى أنشدته مائة بيت.رواه مسلم.
له عمرو بن الشرید د هغه له پلار رضی الله عنهما نه روایت دی، هغه وایي: یوه ورځ په سپرلي کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ردیف وم (په یوه سپرلۍ سره سپاره وو) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د امیه بن ابي صلت د شعر نه یو څه نشته درسره؟ ما ویل: هو، شته راسره.
راته یې وویل: بیان یې کړه!
ما یو بیت ورته واوراوه.
بیا یې وویل: نور ووایه!
(ما نور بیتونه هم ورته واورول) آن پوره سل بیتونه مې ورته واورول. ۴_ ۴۷۸۹ - وعن البراء - رضي الله عنه - قال : قال النبي - صلى الله عليه وسلم - يوم قريظة لحسان بن ثابت: «اهج المشركين ، فإن جبريل معك»وكان رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يقول لحسان: «أجب عني ، اللهم أيده بروح القدس «.متفق عليه.
اوهمدا شان له براء رضی الله تعالی عنه نه روایت دی، هغه وایي: د قریظې په ورځ (په هغه ورځ چې د بني قریظه چې د یهودو یوه قبیله وه او د مدینې په څنډو کې مېشته وه، محاصره وو) رسول الله صلی الله علیه وسلم، حسان بن ثابت ته وفرمایل: د مشرکینو بدي بیانوه له شکه پرته جبرائیل علیه السلام دي ملګری دی او رسول الله و چې حسان ته یې ویل زما له لوري ځواب ورکوه. اې لویه خدایه په جبرائیل علیه السلام سره د ې احسان وکړې.
رسول لله صلی لله علیه وسلم به مسلمان شاعران هڅول چې د مشرکینو بدي بیان کړي وعن عائشة - رضي الله عنها -أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قال : «اهجوا قريشا، فإنه أشد عليهم من رشق النبل» .رواه مسلم.
عائشه رضی الله عنها وایي: (د مسلمانانو شاعرانو ته) رسول الله وویل: د کافرو بدي بیانوئ! ځکه چې دا پر دوی د غشو له ویشتلو هم بد لګیږي.
نود پایلې په توګه ویلای شم چې زموږ په اکثروجهادي لیکو کې لکه څومره مهم او اغېزمن رول چې مجاهدینو درلودلی، همدومره رول مجاهدوشاعرانوهم لرلی ځکه هم یې د جهاد سنګرونه ګرم ساتلي، هم یې د مجاهدینو مورال پیاوړی کړی ، چې همدا د یوه رښتیني شاعر رسالت او دنده هم ده.

# د روږدو کسانو راټولول او درملنه مثبت ګام دی !

زهير

دلته غواړو د افغانستان د اسلامي امارت مشرتابه په لارښوونه د اړوند ادارولخوا په نشه يي توکود روږدوکسانود راټولولو په اړه لنډ ي خبرې ولرو. لومړۍ خبره دا چې نشه يي توکي او استعمال يې د اسلام د سپېڅلي دين له نظره حرام دي، څه چې دين حرام ګرځولي مسلمان ته نه ښايي چې هغه ترسره کړي. نشه يي توکي لومړی د انسان فزيکي او رواني حالت ته سخت زيان رسوي، نورمال حالت له لاسه ورکوي چې له امله يې کېدای شي په يو لړ ناوړه عملونو لاس پورې کړي ، انسان په کورنۍ اوټولنه کې خپل باور او کوم محبوبيت چې د خلکوترمنځ يې لري له لاسه ورکوي.کورنۍ اوټولنه ورسره په ستونزو کې ښکيليږي ،روږدي کسان اړ وي چې له هرې لارې کيږي بايد نشه يي توکي ترلاسه کړي، د خپل کورمال غلا او د خلکود مالونوپه لوټلو لاس پورې کړي،چې ددغو اعمالوپه ترسره کولو نا امني زېږوي، د ټولنې نظم ګډوډوي، بشري ځواک يې کمزوری اوله ټولو منفي اغېزو سره سره طبعا د نورو وګړوپه رواني حالت هم بده اغېزه کوي او ورسره ورسره د نيکو عملونوله ترسره کولوهم بې برخې کېږي، ډېری کورنۍ له دې امله چې د کورنۍ سرپرست يې په نشه يي توکوروږدی شوی، کم عمره اولادونو يې اوس د پلار هغه دروند مسؤليت ته غاړه ورکړې او له مجبورۍ ورځې يې د درنو کارونوسرته رسولو ته لاس اچولی دی يعنې په ټوله کې دا ډول کسان خپل ځان او د ټولنې سالميت ته هم زيان رسوي او...

دغې چارې په تېروشلوکلونو کې ښه ډېره وده اوپراختيا موندله او د روږدو کسانوشمېرلکونو ته ورسېده.تر څنګ يې د نشه يي توکو د کاروباريانو سوداګرۍ هم پراختيا موندله. له پلازمېنې نېولې



تر ښارونوپورې ځانګړې ځايونه د نشه يي توکود استعمال په ځايونواومرکزونومشهور شول چې له ډلې يې د کابل په لويديځه سيمه کې پل سوخته، هغه سيمه وه چې زرګونه روږدي کسان به پکې راټول او هلته به يې په ټوليزه توګه نشه يي توکي کارول. په دوی کې داسې روږدې کورنۍ هم لېدل کېدلې چې له خپلو کوچنيوماشومانو سره يې هلته هستوګنه لرله اوپه ډېر بد او نامناسب وضعيت کې يې د ژوند شپې اوورځې تېرولې چې اوسمهال د لومړي ځل لپاره د اړوند ادارو د هڅو په پايله کې ياده سيمه په نشه يي توکو د روږدو زرګونه کسانو له شتون څخه پاکه شوې ده.چې اوس همدغه د روږدو کسانو مرکز د اړوند ادارو له خوا مزين شوی دی او د کتاب د مطالعې درې ورځنۍ نندارتون هم پکې جوړشوی و. که چېرې هم هغه مهال يعنې په پيل کې يې په رښتيني توګه د مخنيوي هڅه شوې وه او د مخنيوي لپاره يې چې امکاناتو هم شتون درلود، پروخت

اقدام شوی وی ،نو نن به دغه شمېر هېوادوال د سالموانسانانوپه توګه پخپله ټولنه کې د ژوند په سالموچاروبوخت و، چې له بده مرغه په وړاندې یې رښتیني هڅې او مبارزه ترسره نه شوه پایله یې




دا چې نن یې موږ ټول پخپلو سترګووینواو ګورو. په دې وروستیو کې د افغانستان اسلامي امارت د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د دوی په راټولو اقدام وکړ، چې ویل کېږي تر زرګونو کسانو پورې یې راټول اوپه مناسبوځایونو کې یې خوندي کړل چې خلکو دا یو مثبت ګام وبللواو په دې سره یې خوښي څرګنده کړه، ددې بهیر د دوامداره کېدو غوښتونکي شول اودا یې د ټولنې اوهمدغو روږدو کسانوچې زموږ هېوادوال دي په خیر یوډېر ښه او ګټورګام وبللوله یوې خوا دوی په دغه ساړه ژمي کې د یخنۍ له ګواښ څخه په امن کې شول، له بلې لوري به یې د امکان تر حده درملنه وشي، همدارنګه به هغه ښاري نظم چې زموږ ټولو اړتیا ده تآمین شي، د جرمونوکچه به ورسره راټیټه شي.تر ټولو مهمه دا چې دوی به روغتیا چې موږ هر یو یې شتمني بولو ترلاسه کړي. په دې اړه هر اقدام که هغه د روږدو کسانوراټولول، د نشه یي توکود استعمال اوقاچاق مخنیوی ، په وړاندې مبارزه یا یې د کاروباریانونیول دي، کوم رښتیني ګامونه چې په دې ټولوبرخو کې پورته شوي دي د ستاینې وړدي. دا زموږ د ولس د خیر خبره ده ټینګار به دا وي چې د افغانستان اسلامي امارت اړوند اداري خپلې هڅې لا نورې ګړندۍ اودوامداره وساتي او




دغه راز له ملي ، سیمه ییزواونړیوالوهغو ادارو کوم چې په دې برخه کې کار کوي او امکانات هم په لاس کې لري غوښتنه دا ده چې د افغانستان له اسلامي امارت سره په همغږۍ توګه هم د ناروغانوپه درملنه اوهم یې په مخنیوي کې همکاري وکړي دغه هڅې یو فرصت دی هغه فرصت چې وړاندې تر دې یې د رامنځته کېدو هڅه نه وه شوې. او که شوې هم وه پایله یې مثبته نه وه. دلته موږهم باید خپل مسؤلیتونه د ټولنې د غړیوپه توګه هېر نه کړولازمه دا ده چې ټولې درنې کورنۍ د خپلو کورنیو غړو ته د نشه یي توکود استعمال زیانونه په ګوته کړي او هغوی ته د دغه ناکاره پدیدې د استعمال په صورت کې په ډېر بد برخلیک د اخته کېدو په اړه معلومات ورکړي او هغوی د خپلې روغتیا ساتنې، ورزش اونوروهغو چارو ترسره کولوته وهڅوي کوم چې مناسبې اوزموږ لپاره ګټوري وي.له هڅو سره سره سالمه بوختیا او په اړه یې کمپاینونه هم موثره چاره ګڼل کېږي، او د دیني علما وو او قومي مشرانو رول بیا په دې برخه کې له ارزښته ډک او اغېزمن دی.

# ولې لیکل ستونزمن دي!؟

سید نظیم سیدي

په څېړنه کې د فرضیې تر ټولو لوی آر (اصل) دا دی، چې که چېرې موږ وغواړو یوه موضوع تشریح کړو، باید د موضوع په اړه له ځان سره یوه پوښتنه مطرح کړو؛ نو د همدغه آر په پام کې نیولو سره موږ پوښتو، چې ولې وېل یا خبرې کول اسان دي او لیکل ستونزمن؟ د دې لپاره، چې دا موضوع مو له خپل مسلک سره سمه روښانه کړې وي بېلابېلو اړخونو ته یې نغوته کوو. که چېرې موږ وغواړو هغه پېښه، چې زموږ په مخ کې پېښه شوې او موږ یې د پېښېدو شاهدان وو او یا هم هغه مهمه غونډه، چې د هېواد د ملي ګټو په اړه وه او موږ په کې ګډون کړای وو خپلو ملګروته یې تشریح کړو؛ نو په ویلو کې یې له کومې ستونزې سره نه مخ کېږو او کولای شو په ډېرې اسانۍ سره ورته ټول د سترګو لیدلی حال بیان کړو. دغه راز که چېرې وغواړو د خپل یون (سفر) ټولې ښېګڼې او بدګڼې؛ خپلو ملګرو ته بیان کړو، نو په هغې کې هم کومه ستونزه نه لرو او پرته له کوم تکلیف څخه یې ورته ویلای شو، خو عجیبه خبره دا ده، کله چې وغواړو پورته یادې ټولې خبرې ولیکو او د یوې ادبي او فرهنګي شتمنۍ په توګه یې خوندي کړو؛ نو په لسګونو ستونزو سره مخ کېږو او په ځینو حالاتو کې یې سم نشو لیکلای؛ نو پر همدې پار ځینو لیکوالو لیکوالۍ ته د ستونزمن کار نوم ورکړی. د ستونزې معنا ده یو چا ته تکلیف رسول او له آرام حالت څخه یې د نا ارامۍ پر لور بیول. لیکوالي هم د همداسې یو کار نوم دی، په دې معنا انسان باید لومړی په خپل فکر کې په منظم ډول یوه فرضیه جوړه کړي او تر هغې وروسته باید هغه خاکه یا اومه مواد، چې ده راټول کړي منظم او ترتیب کړي، تر هغې وروسته د پیل، منځ او پای په اړه یې فکر وکړي او پر دې هم باید فکر وکړي، چې د لوستونکي د سترګو او یا زړه توری لامل نه شي، کله چې دا ټول پړاوونه بشپړ شول؛ نو بیا یې بویه په لیکلو پیل وکړي او تر لیکلو وروسته یې څو څو واري هم په خپله او هم په بل چا ولولي، چې کومه لیکدودیزه او یا منځپانګیزه نیمګړتیا ونه لري که څه هم انسان له سهوې او خطا څخه خالي نه وي؛ خو د بنده ګۍ هڅه په کار ده. کله یې چې اثر چاپ شي، نو بیا باید په خپل زړه او ذهن کې د ټولنې د ځینو خلکو کره کتنې او پر ځای او بې ځای خبرو ته هم ځای پیدا کړي او په غبرګون کې یې جدي یا احساساتي نه شي، ځکه یو شمېر لیکوال، چې د دې ټولو خبرو حوصله نه لري د همدغو ستونزو قرباني شي او ډېره لویه شتمني، چې هغه د نوموړي لیکوالي ده پر سیند لاهو شي، پر دې بنسټ موږ لیکوالۍ ته ستونزمن کار وایو؛ خو اوس آره خبره دا ده، هغه پېښه چې زموږ په مخ کې پېښه شوې او موږ هغه خپلو ملګرو ته تشریح کوو، ګټه یې څه ده او هغو ته څومره ارزښت لري؟ د دې لپاره چې د دې پوښتنې په ځواب پوه شو ډېره اسانه لار شته، چې کولای شو په وسیله یې خپله پوښتنه ځواب کړو. د ساري په ډول: که چېرې موږ وغواړو د پېښې شوې پېښې ریوټ لومړی ثبت او بیا یې واورو او تر اورېدلو وروسته یې په هماغه بڼه کټ

مت ولیکو؛ نو دا کار نشو کولای ځکه دا ډېر ستونزمن کار دی، موږ چې کله له خپلو ملګرو سره خبرې کوو؛ نو له تکلف پرته په ډېرې بې تفاوتۍ ورسره خبرې کوو او هېڅکله داسې نه احساسوو، چې زموږ د دې خبرو په اړه دې څوک څه و وايي او يا دې کومه ستونزه راته پېښه شي؛ خو په ليکلو کې يې بيا داسې نه ده، هلته بايد ډېرې خبرې په پام کې وساتل شي او د ژورناليزم د آرونو له مخې هغه شپږ پوښتنې چې (ولې، چېرته، څه وخت...) دې ځواب شي او په عين حال کې د امنيتي چارواکو، د سيمې د ځايي اوسېدونکو او يا عيني شاهدانو او که شونې وي د مخالف لوري نظرونه دې هم را واخيستل شي، چې په دې صورت کې ښايي زموږ رپوټ د منلو وړ شي او که داسې نه وي؛ نو بې له شکه پر ځان به مو په خپله ملنډې وهلې وي؛ خو په ويناييز رپوټ کې بيا داسې ستونزې نه شته؛ ځکه که چېرې موږ کومه ګونګه يا مبهمه خبره وکړو، سم له واره مخامخ لورې د هغې د روښانولو غوښتنه کوي او له اضافي او بې اړتيا خبرو څخه مو منع کوي او راته وايي، چې حاشيې ته لاړ نه شو او نېغ په نېغه پر موضوع خبرې وکړو؛ خو په ليکلو کې بيا ستونزه دا ده، چې دغو نيمګړتياوو ته ښايي د ليکوال فکر نه شي او کټ مټ يې هماغسې وليکي، چې وروسته ورته بيا نورې ډېرې ستونزې پيدا کوي او ښايي په ځينو مواردو کې ورته پر بند سربېره د مرګ ګواښ هم وشي.

نو که خبره لنډه کړو موږ په ويلو کې کومه ستونزه نه لرو او نه تکلف ته اړتيا لرو، کولای شو چې په خپلو خبرو کې د موضوع د لاروښانولو لپاره ځينې فرعي مسايل هم ورسره غبرګ کړو او يا ځينې داسې مسايل بيان کړو، چې په عادي حالت کې يې بيانول راته له ډاره خالي نه وي.

دغه راز په ويناييز رپوټ کې بله خبره دا هم ده، په ځينو ستونزمنو حالاتو يا خبرو کې اړينه نه ده، چې د هرې خبرې لپاره دليل راوړو؛ ځکه موږ د کوم ډار احساس نه کوو او په دې ډاډه يو که چېرې کومه پوښتنه پيدا شي؛ نو هرومرو به کوم اورېدونکی د هغې د روښتيا پوښتنه وکړي او موږ به يې په ډېرې اسانۍ سره ورځواب کړو. پر همدې بنسټ ويلای شو، کله چې موږ کومه موضوع خپلو ملګرو ته تشريح کوو په ډېرې اسانۍ يې ورته تشريح کولای شو؛ خو په ليکلو کې يې بيا داسې نه ده، هلته هره خبره ثبوت او دليل ته اړتيا لري او بايد د هغو ټولو قيدونو زولنو ته يې ځوابونه پيدا کړو، چې وروسته ترې موږ ته ستونزه پيدا کېږي؛ ځکه موږ ډېر ځله د خپلې ليکنې لوستونکي او مخاطبين نه پېژنو، چې څوک دي او څه ډول خويونه لري، چېرته اوسېږي، په کوم ځای کې کار کوي، د پوهې کچه يې څومره ده، څومره ژر يوه موضوع درک کولای شي او څومره ملي ګټو ته ژمن دي؟

په ليکوالۍ کې موږ اړ يو ټول هغه آرونه، چې د ادب ليکوالي او يا د بل هر مسلک ليکوالي او په ټوله کې ټوله ليکوالي يې لري په پام کې ونيسو او بيا د دلايلو په وړاندې کولو سره خپله ليکنه وړاندې کړو او که داسې ونه کړو؛ نو لکه څنګه مې چې پورته هم نغوته وکړه ښايي داسې پايلې ولري، چې موږ يې هډو اټکل هم ونه کړلای شو؛ نو ځکه وايو، چې ويل او خبرې کول تر ليکلو ډېرې اسانه او بې تکليفه دي.

# پاراټیکسټ که د متن ځلا او خپرنیز ارزښت

خېړندوی حمایت الله ښاد

د پاراټیکسټ تر پېژندنې او سپړنې وړاندې اړینه ده چې ټیکس(متن) وپېژنو. لومړی په متن پوهېدل ځکه اړین دي چې پر متن پوهېدل راته د پاراټیکسټ دروازې په اسانۍ پرانیزي او موږ کولای شو چې د پاراټیکسټ ودانۍ ته اسوده ددننه شو. په اصل کې خو متن ماڼۍ ده او ظاهري ښکلا یعنې رنګ، لوړوالی، پلنوالی او ځینې نورې څرګندې ښکارندې چې ماڼۍ ځلوي او خلک اغېزمنوي پاراټیکسټ ګڼلای شو، په هر حال دا به د پاراټیکسټ تر پېژندنې وروسته زیاد شي، اوس متن ته راځو: د متن په اړه فرهنګ لغت داسې لیکي: ( متن په لغت کې سختې او کلکې ځمکې ته ویل کېږي او مجازاً د مؤلفینو په نظر د شرحې او حواشي خلاف، د کتاب اصلي عبارت ته ویل کېږي. یا هغه لیکل شوی مکتوب چې حاشیې او زیاتونې و نه لري متن ګڼل کېږي.) (فرهنګ فارسی معین: www.Vajehyab.com ) میرزا غلام محمد او پروفیسور ممتاز احمد په (current English dictionary ) کې د متن تعریف داسې راخیستی دی: د کتاب اصلي برخه چې له حاشیو او شرحو څخه بېله وي، د لیکوال اصلي کلمات چې بل چا بدلون پکې نه وي راوستی. له پورته پېژندنې څرګندېږي چې په مخ کې له اصلي او مرکزي لیکنې پرته نور لیکل شوي شیان د متن په دایره کې نه داخلېږي. خو د متن په باب وروستنی څېړنې په پاسنیو پېژندنو د بطلان کرښه راکاږي او هره لیکنه چې مفهوم لېږدوي متن بولي. شرحې، حاشیې او نورې متني برخې له متن بېل توکي نه ګڼي، بلکې هره لیکنه متن بولي. هر تر غور لاندې تحریر او تقریر ته متن ویلای شو. د شاعر شعر، د نثر لیکونکي نثر، د ناظم نظم، د مؤرخ تاریخ، د مکتوب نګار لیک، د منصف فیصله، د مفتي فتوا، د خطیب خطبه، دغه ټول د متن تر سرلیک لاندې راځي. (متن څېړنې مېتودولوژي: ۱۴۲ مخ) یعنې هره تحریري وینا چې معنا او مفهوم ولري متن بلل کېږي. متن یا ټیکس اوس یوازې د پخواني تعریف له مخې پر فلزاتو، ټوکر او یا د یو کتاب د پاڼې او حاشیې پر مخ، ښځ او خواو شا لیکلې بڼې ته نه وایي، بلکې د همدې تعریف په ګډون ټولو هغو لیکلیو او ګړنیو بڼو ته ویل کېږي چې د ژبې، فکر او پوهې پرېنسټ د انساني شعور برخه وي.( متن سپړنې: ۲۵ مخ) پر دې سربېره متنپوهانو د متن د ښې پېژندنې له پاره ځینې ځانګړنې په ګوته کړې دي چې دلته به یې لنډه یادونه بې ګټې نه وي. د متن لومړۍ ځانګړنه دا ده چې متن باید لیکلی شکل ولري. کېدای شي متن منظوم یا منثور وي او یا هم چاپ یا ناچاپ او خطي وي. د متن له پاره د لنډوالي او اوږدوالي، زوړوالي او نویوالي پابندي نه شته او همدارنګه یوه بشپړه

او نیمګړې لیکنه دواړه متن بلل کېږي. د متن له پاره ضروري خبره دا ده چې متن باید مانا لرونکی وي او بې مانا لیک د متن له دايرې څخه بهر دی. (متن څېړنې مېتودلوژي: ۸۷ مخ)

پاراټېکسټ له متن څخه منشا اخیستې او له متن سره سروکار لري. په پورته کرښو کې متن ته نا څه روښانه شو، اوس به د همدې متن پر څلولو یعنې د پاراټېکسټ کلمې پر مفهوم او ځینې نورو اړخونو هم بحث وکړو چې دا کلمه کله راڅرګنده شوه؟ آیا اوسنی کلمه ده که پخوانی ریښې هم لري؟

پاراټېکسټ کلمه په خپل جوړښت کې یو ډول ابهام لري. د یوناني ژبې(پارا) مختاړې د (سره)، (ورته، مشابه)، (ترې تېرې)، (تېروبېر)، (څنګ ته)، (نږدې)، (ورسره نښتې) او (مخالف) معناوې ښندي. لکه مخکې چې یادونه وشوه چې پاراټېکسټ مفهوم ساده مفهوم نه دی، ځکه یې د نوموړو لپاره هم همداسې یو مبهم توری تاکل شوی دی.( په پښتو کره کتنه کې دغه مفهوم لا تر اوسه سم نه دی څېړل شوی، که د اصلي نامه له تاریخچې څخه په الهام یې په پښتو کې (پورې متن) وبولو زیاتې به مو نه وي کړې.)

ژونیت د پاراټېکسټ دوه برخې سره بېلوي، لومړۍ برخه یې(Epitext) (پرمتن) او دویمه برخه یې (Peritext) (پري متن) ګڼي.

پاراټېکسټ ترکیبي کلمه ده او په ګرېوهنیز چاپېریال کې مرکب یا ترکیبي نوم یا اسم دی چې له پارا (para) او ټېکسټ (text) څخه رغېدلی دی. پارا د سربېره، پرته، اضافه او ورها خوا معنا لري او ټېکسټ متن ته ویل کېږي. یعنې هغه څه چې له اصلي متن ور هاخوا د اصلي متن په تشریح او تفسیر کې برخه ولري د پاراټېکسټ په نامه یادېږي. په ادبیاتو کې پاراټېکسټ یو مفهوم یا نظریه ده چې متن تفسیروي، یعنې د یو چاپ شوي مطلب په ښه څېړنه او نورو ته په ښه رسونه کې مرسته کوي. دا مفهوم تر ډېره په کتابونو پورې اړه لري، ځکه کتاب د متن ټولګه ده، د بېلګې په ډول: د لیکوال د کتاب اصلي متن پر نورو توکونو پټ او پوښل شوی وي او ډېر وخت نور ښاغلي (مدیران، چاپګران او خپرونکي) د کتاب بهرنۍ برخې چمتو او برابروي چې د پاراټېکسټ په نوم یادېږي.

د نورو له خوا دا اضافه شوي عناصر د اصلي متن له پاره چوکاټ راجوړوي او کولای شي د دغو عناصرو په مرسته د متن استقبال یا د خلکو له خوا د هغه تفسیر بدل کړي. پاراټېکسټ ډېر ځله په کتاب پورې ځان نښلوي او معمولاً د کتاب پښتۍ، د پاڼو شمېره، صحافت، د لیکوال نوم، سرلیک، مقدمه، وروستۍ نتیجه او داسې نور توکي چې د لیکوال د اصلي متن برخه نه وي، خو د کتاب په تفسیر او پېژندنې کې مرسته کوي، همدغه برخې پاراټېکسټ نومېږي.

د پاراټېکسټ په اړه دلته د یو ځوان ناول لیکونکي د دروغو یوه قضیه رااخلم چې پاراټېکسټ ورته جوړه کړې وه. د ناول لیکوال د کتاب په پوښ د یوې سپینې انجلۍ عکس ترسیم کړی و، خو د کیسې په متن کې توره او بدرنګه جینۍ انځور شوې وه. د کتاب په پښتۍ د ښایسته جینۍ انځور هغه څه دي چې لوستونکو ته متن تفسیروي او لوستونکي انګېري چې د ناول کیسه به د ښکلې جینۍ په شاوخوا څرخي؛ خو د کتاب متن تورې جینۍ نیولې. یعنې پاراټېکسټ هغه څه دي چې

لوستونکو ته متن په بېلا بېلو تعبیرو تفسیرولی شي.(p definition www.definition.net>...)
د پورتنیو شرحو په استناد ویلای شو، ټول هغه شیان چې د اصلي متن په وړاندې کولو او تفسیرولو کې مرسته کوي او د منځپانګې د وړاندې کولو یو ښه انځور وړاندې کړي، لکه د کتاب ښه او مناسب صحافت، په زړه پورې عنوان، ښکلې پښتۍ... پاراټیکسټ ګڼل کېږي؛ خو دا هم باید ومنو چې له کتاب ورهاخوا مجله، ورځپاڼه او هغه څه چې متن په یوه قالب کې خلکو او ټولنې ته وړاندې کوي په پاراټیکسټ پورې تړلې برخې دي.
د ټیکسټ او پاراټیکسټ اصطلاح لومړی ځل په ۱۹۸۰م. کال په فرانسه کې یو ادبپوه، لیکوال، نقاد، ژبپوه ژېرار ژونیت وکاروله. دغه لیکوال په دې عقیده و چې هر ادبي اثر یو متن دی، مګر دغه متن د دې له پاره چې لوستونکو ته وړاندې شي، باید یوه بڼه ورکړل شي او له دې سره څه نور هم یو ځای شي. متن په خالص ډول ډېر کم د لوستونکي لاس ته ورځي. ټول هغه څه چې له متن سره مرسته کوي چې لوستونکي ته ورسېږي.(ادبیاتو دنیا: ۴۵۲ مخ)
ژېرار ژونیت په ۱۹۸۷م. کې په خپل کتاب (درشلونه) کې هغه څه په ګوته کړل چې د (متن) او (نه متن) تر منځ پولې په کې ښېړل شوي دي. ژېرار په خپل دغه اثر کې دې ټکي ته په پام سره چې یو متن ډېر کم لوڅ (د یو لړ نورو تولیداتو له مرستې پرته) میدان ته راوځي. د متن او د ورسره ملو تولیداتو تر منځ بېلوونکې کرښه لټوي. دغه دویمه ډله تولیدات په خپل وار یا د وینا په بڼه کې وي او یا بې وینا بیان وي. د لیکوال نوم، سرلیک، سریزه، انځورونه داسې څه دي چې اکثره پرې نه پوهېږي چې د متن برخه یې وبولي که نه خو په هر صورت ورسره مله وي، متن(text) وړاندې کوي... دا هغه څه دي چې ژونیت یې پاراټیکسټ بولي.( منلی: مرکه)
د پاراټیکسټ اصطلاح نوې ده؛ خو د معنا او مفهوم له مخې د نړۍ په ادبیاتو او په تېره په پښتو کې پخوانی او زوړ بېنومه توک دی چې په غیرشعوري ډول د متن ځلونې په ورځنۍ چارو کې کارېدلې ده او له زرګونو کلونو راهیسې یې موږ کاروو؛ خو د شلمې میلادي پېړۍ په وروستیو لسیزو کې د فرانسوي لیکوال(ژرار ژنیت) له خوا یو څه د نوي او ځانګړي مفهوم په بڼه وکارول شوه. زوړ توک په دې معنا چې موږ په پښتو ادبیاتو کې درې سوه کاله پخوا د شاعرانو دیوانونه او کتابونه درلودل. دغه دیوانونه او کتابونه به خطاطانو او کاتبانو په ښکلي خط رنګینول، ځینو به پرې شرحې او سریزې لیکلې او لوستونکو او مینه والو ته به یې وړاندې کول. په حقیقت کې د خطاطانو ښکلي خط، شرحو او سریزو د شاعرانو او لیکوالو اصلي متن ډېر ښه تفسیراوه. یعنې ښکلی خط، شرحه، سریزه او مقدمه له اصلي متن پرته هغه توکي وو چې اصلي متن یې لوستونکو ته رساوه او د شاعر او لیکوال د متن په شرحه، رسونه او ځلونه کې یې مرسته کوله. د متن رسونې دغه مرستیال توکي په شلمه میلادي پېړۍ کې د پاراټیکسټ په نامه د یوه فرانسوي لیکوال له خوا څرګند شو.
په پخوانیو آثارو کې به د اصلي متن تر څنګ د لیږو رموز، مثلاً متن ورلاندې به ژباړه لیکل کېده. یا به د متن ترڅنګ ځینې یادښتونه لیکل کېدل، یعنې له

متن پرته ټول هغه څه چې لوستونکو ته متن رسوي، لکه د کتاب تصویرونه، شرحې، حاشیې، مقدمې او نور ټول په پاراټیکسټ کې شاملې برخې دي. همدارنګه ټول هغه شیان چې د کتاب له لوستو سره یو ځای نه لوستل کېږي، مګر د کتاب په لوستو باندې اغېز کوي، پاراټیکسټ دی. مثلاً که تاسې یوه علمي څېړنیزه پروژه لولئ او لومړی تقریظونه ولولئ، ښايي د تقریظ لوستل ځینو ټکو ته ستاسو فکر وراړوي چې تر تقریظونو پرته شاید ور وا نه وړي. همدارنګه د کتاب له پاره سرلیک ټاکل، د کتاب په پښتۍ باندې د لیکوال په باب معلومات هغه څه دي چې اوسنۍ ادبي او علمي دنیا یې پاراټیسکټ بولي. په ټوله کې پاراټیکسټ له متن سره کار لري او له متن پرته هېڅ دی؛ خو په متن کې بیا ډېر کار د کتاب له متن سره لري او له کتاب څخه چاپېره تاوېږي، نو د پاراټیکسټ په ډولونو هم پوهېدل او بحث کول اړین دي. پاراټیکسټ د کتاب په اړه کرکتنه ده چې لوستونکو ته یې ښه یا بد معرفي کوي، د لوستونکو له پاره عینکې دي چې په اسانۍ د کتاب ښېګڼې او بد ګڼې یا ښې او نیمګړې خواوې ورښيي. که ووایو چې پاراټیکسټ د کتاب له پاره بازار موندنه ده، نو بده به مې ویلې نه وي. باهنره او لوړ معیار پاراټیکسټ کولای شي چې د کتاب په پلورلوکې ګټور تمام شي. زه به د خپلې ټولنې یوه بېلګه ورکړم: زموږ په ټولنه کې زیاتره ځوانان هغه ناولونه ډېر خوښوي چې پښتۍ یې د یوې ښکلې جینۍ په عکس سینګار شوې وي، کېدای شي د ناول منځپانګه په سیاسي، ټولنیزو او نورو مسایلو پوښل شوې وي؛ خو د باهنره پاراټیکسټ په وزر دغه اثر ښه الوت کولای شي او په کمه موده کې بیا د بازار په پنجرو کې کم پیدا کېږي.

پاراټیکسټ دوه برخې لري یا په دوو برخو وېشل شوی دی. یوه برخه یې د لیکوال هملاسي د لیکوال مرستندویان دي یعنې خپروونکي، تقریظ لیکونکي، د سریزې او مقدمې لیکونکي، د پښتۍ ډیزانوونکي. دا ټول هغه کسان دي چې د لیکوال هملاسي دي. دوی د متن په وړاندې کولو او ځلولو کې مهم رول لوبوي چې پېرېټکسټ ورته ویل کېږي. د دې ورهاخوا د پاراټیکسټ دویمه برخه په همدغه متن باندې ځینې داسې شیان لیکل شوي دي چې اصلاً شاید په دغه کتاب کې نه وي، لکه کرکتنې، د لیکوال مرکې، د ناشر اعلانات، د لیکوال پېژندنه، دا ټول هغه شیان دي چې په متن رسولو کې مرسته کوي او په یو نه یو ډول له متن سره تړلي دي. ( د ادبیاتو دنیا: **۴۵۹** مخ)

پورتنی بحث څرګندوي چې زموږ په پخوانیو کتابونو کې پاراټیکسټ ته په غیرشعوري ډول ځای ورکړل شوی و، یعنې د شاعرانو شعري ټولګې ، دیوانونه او د لیکوالو ادبي، هنري او څېړنیزې لیکنې به د خطاطانو له خوا د کتاب په بڼه ترتیبېدې. خطاطانو به ورته ښکلا ورکوله او پښتۍ به یې ورته سینګارولې، ځینو لیکوالو به پرې خپلې تبصرې، شرحې او مقدمې لیکلې، خپرندویه ټولنو به په ښه صحافت

ورکولو او خپرولو کې مرسته کوله، دا ټول هغه شیان وو چې د شلمې میلادي پېړۍ په وروستیو لسیزو کې د پاراټیکسټ په نوم ونومول شول. پورته یاده شوه چې پاراټیکسټ دوه برخې لري، د همدغو برخو د سمې پېژندنې او سپړنې له پاره د امیر حمزه خان شینواري (بادِ خیبر) اثر درپېژنو: بادِ خیبر د امیر حمزه شینواري د اردو او فارسي شاعرۍ ګډه شعري ټولګه ده. د دې اثر د پښتۍ ښي خوا پاسنۍ برخه د خیبر په واورینو غرونو ښکلې شوې او لاندې ترې(بادِ خیبر) په نسخ خط لیکل شوی دی. ترې لاندې د پښتۍ کیڼ خوا ته د امیر حمزه شینواري رنګین عکس چې لونګۍ یې پر سر ده راغلی دی. د عکس ښي اړخ ته شعري ټولګه، د شاعر او ترتیبوونکي او د خپروونکې جرګې نومونه راغلي دي. د پښتۍ په بل مخ د امیر حمزه د ځوانۍ عکس راغلی او بګراونډ یې په سوربخن رنګ رنګین شوی دی. تر پښتۍ دننه یو مخ کتاب پېژندنه او بل مخ ډالۍ ته ځانګړی شوی دی. وروسته د کتاب په باب د طاهر بخاري مقدمه، د فیروز آپریدي تبصره او د کلیم شینواري شرحه راغلې ده چې لوستونکو ته د کتاب د اصلي متن په رسولو کې مرسته کوي. د امیر حمزه پر شاعرۍ سربېره دغه نور ټول هغه شیان لکه، د پښتۍ رنګیني، د شعري ټولګې سرلیک (بادِ خیبر)، د کتاب پېژندنه، ډالۍ، د طاهر بخاري، فیروز آپریدي او کلیم شینواري تبصرې او شرحې هغه څه دي چې پاراټیکسټ ورته ویلای شو. دا ټول شیان د امیر حمزه د شاعرۍ په خپرولو، ځلولو او رسولو کې مرستندویه دي او همدغه شیان پاراټیکسټ دی. له دې ور ها خوا په څېړنیزو آثارو کې پیلیزه، سریزه، د لارښود استاد ګزارش او تقریظونه هغه څه دي چې د اصلي متن په تشریح او تفسیر کې پراخه ونډه لري.

د متن لومړۍ ځانګړنه دا ده چې متن باید لیکلی شکل ولري. کېدای شي متن منظوم یا منثور وي او یا هم چاپ یا ناچاپ او خطي وي. د متن له پاره د لنډوالي او اوږدوالي، زوړوالي او نویوالي پابندي نه شته او همدارنګه یوه بشپړه او نیمګړې لیکنه دواړه متن بلل کېږي. د متن له پاره ضروري خبره دا ده چې متن باید مانا لرونکی وي او بې مانا لیک د متن له دایرې څخه بهر دی. (متن څېړنې مېتودلوژي: ۸۷ مخ)

## مأخذونه:

۱ـ غضنفر، اسد الله. منلی، نجیب.د ادبیاتو دنیا. ۱۳۹۹. ل.ل.
۲ـ هېوادمل، زلمی. د متن څېړنې مېتودلوژي، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۲ ل، ل کال.
۳ـ صدیقي، نعمت الله. د متن سپړنې هنر. کلاسیک خپرندویه ټولنه: ننګرهار. ۱۳۹۹ل.ل.
۴ـ فرهنګ فارسی معین: .www.Vajehyab (com

# د پښتو معاصر ادب په وده او پرمختیا کې د پوهاند رښتین ونډه

اکاډمیسین دوکتور سید محی الدین هاشمي

د پښتو ادب معاصرې دورې پیلامه ډېر ادب څېړونکي د نوولسمې میلادي پېړۍ له وروستیو لسیزو څخه ګڼي. دا هغه مهال و چې امیر شیر علي خان دویمه پلا واکمنۍ ته ورسېد، په هېواد کې یې د یو نوي او عصري دولت بنسټونه کېښودل، عصري ښوونځي جوړ او د چاپ ماشین راغی، د شمس النهار اخبار او کتابونو په خپرېدو پیل وشو او بېلا بېل عصري پوځي او ملکي تاسیسات او اداري رامنځته شوې او ورسره د نوي عصر او مدني ژوند لړۍ پیل شوه، خو ځینې ادبي مؤرخین یې د شلمې میلادي پېړۍ له لومړیو د امیر حبیب الله خان له واکمنۍ په ځانګړې توګه د سراج الاخبار د خپرېدو او د حبیبې عصري ښوونځي او مشروطیت غوښتنې غورځنګ رامنځته کېدو څخه بولي، چې همدغه مهال رامنځته شوي ادبیات د منځنۍ دورې له ادبیاتو سره د بېلې، منځپانګې، ژانرونو او ادبي منظومو او منثورو کالبونو له پلوه څرګند توپیر لري او د یو ادبي تحول او بدلون نوې دوره بلل کیدای شي .(۱)

په هر صورت، ښایي په دې باب هره ډله د معاصرې ادبي دورې د تثبیت د عواملو او ځانګړنو له پاره خپل دلیلونه او نظریات ولري، خو دا چې دلته زموږ خبره د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا د بهیر په اړه ده، نه پر معاصره ادبي دوره، نو ځکه د خپلې ژبې او ادب د ودې او پرمختیا لړۍ د همدغې نولسمې میلادي پېړۍ له وروستیو لسیزو، هغه مهال چې امیر شیرعلیخان په دویمه پلا واکمنۍ کې نوی عصري دولت، کابینه ، پوځي او ملکي عصري تاسیسات او اداري تشکیلات ( ښوونځي، پوستي سیستم،عصري اردو، چاپ او خپرونې او...) رامنځته کړل، خپلې ژبې (پښتو) ته یې ځانګړې پاملرنه وکړه او د یوې ملي ژبې په توګه یې د هغې رسمي کولو لپاره علمي او عملي هلې ځلې پیل کړې. د ملکي او نظامي اداري تشکیلاتو لپاره یې په پښتو ژبه نوې نومونې رامنځته کړې، له انګریزي او نورو ژبو څخه یې د عصري اردو لپاره په پښتو ژبه ځینې نظامي مسلکي کتابونه را وژباړل او عسکري نومونې په ځانګړو کتابونو او شمس النهار په جریده کې د ملي ټرمینالوژۍ په توګه چاپ او خپرې شوي دي. وروسته د امیر عبدالرحمان د واکمنۍ پر مهال که څه هم ځانګړې مهالنۍ خپرونه نه وه، خو بیا هم پښتو ژبې ته په دولتي کچه پاملرنه شوې د امیر ځینې ویناوې ، فرمانونه او ترځنګ یې پښتو کتابونه،لکه: د عبدالقادر خان خټک یوسف زلیخا او نور چاپ شوي، خو وروسته بیا د امیرحبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال چې د مشروطیت غورځنګ، حبیبې عصري ښوونځی او سراج الاخبار جریده رامنځته شوي، پښتو ژبې او ادب نه یوازې دا چې اخبار ته لاره موندلې، بلکې د حبیبې ښوونځي د نصاب او تعلیم دویمه ژبه هم ګرځیدلې او د اعلیحضرت غازی امان الله خان د واکمنۍ په دوره کې یې دومره عمومیت او پرمختګ وکړ چې په اخبارونو او ښوونځیو سربېره یې د ودې او پرمختیا لپاره په کابل کې پښتو مرکه (۱۳۰۰ل) رامنځته شوه ، د پښتو ژبې ګرامر او قاموس ولیکل شو، ځینې

پښتو کتابونه او ان دا چې د اساسي قانون متن لومړی په پښتو ولیکل شو او بیا دري ته وژباړل شو.
د نادر خان د واکمنۍ په وخت کې چې په کابل کې ادبي انجمن جوړ شو(۱۳۱۰ل) او کابل مجله یې د خپرنیز ارګان په توګه رامنځته شوه، په خپرونو کې یې د پښتو ژبې او ادب ودې او پرمختیا ته پاملرنه کېدله. د دولت په پاملرنه په (۱۳۱۱ل) په کندهار کې پښتو ادبي انجمن جوړ شو ډېر لیکوال پکې د خپلې ژبې او ادب خدمت ته راټول شول، پښتو مجله یې د خپل خپرنیز ارګان په توګه خپروله او ترڅنګ یې د طلوع افغان اخبار هم ټول پښتو شو. کله چې په (۱۳۱۴) لمریز کال دکندهار ادبي انجمن د ځینو ملحوظاتو له امله کابل ته راغی دلته یې لومړی د پوهنې وزارت په چوکاټ کې خپلواک فعالیت پیل، بیا د کابل ادبي انجمن سره یو ځای او پر ۱۳۱۶لمریز کال یې پرینسټ پښتو ټولنه د یو علمي – اکاډمیک مرکز په حیث د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا لپاره رامنځته شوه. کابل مجله او زیري جریدې یې د خپرنیزو ارګانونو په توګه په خپرونو پیل وکړ(۲) وروسته چې د همدې پښتو ټولنې تر سیوري لاندې د ویښ زلمیان سیاسي غورځنګ سر راپورته کړ، پښتو ژبې او ادب ته خدمت یې په کړنلاره کې لومړیتوب درلود.
همدا مهال چې د شاه محمود خان د صدراعظمۍ د لنډ مهالي دموکراسۍ او سیاسي فضا کې د بدلون او بیا وریښې د پښتونستان د ملي داعیې د رامنځته کېدو له امله ځینې آزادې او دولتي خپرونې، لکه انګار او ولس، آزادې جریدې او د هېواد په نوم د دولتي اخبار (چې بیا وروسته ورځپاڼه شوه) رامنځته شول، د مخه په ۱۳۲۳ لمریز کال په کابل پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځۍ او پکې پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه تاسیس شوه، دغو ټولو په خپل ځای د پښتو ټولنې په ملاتړ او ونډې د پښتو ژبې او ادبیاتو د پرمختګ لپاره بنسټیز کارونه وکړل د دموکراسۍ په لسیزه (۱۳۴۳-۱۳۵۲) کې د سیاسي ګوندونو ، خپلواکو خپرونو، د افغانستان اکاډمۍ (۱۳۴۹ل) ، د پښتو د پیاوړتیا او پرمختیا آمریت، بیا وروسته ریاست، دجمهوري نظام په دوره کې د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، (۱۳۵۴ل) په رامنځته کېدو سره پښتو ژبې او ادب د خپلې ودې او پرمختیا په لار کې اغېزناک ګامونه پورته کړل.
(۳ ) د ثور د غمیزې په پیلامې او ادامې کې تر ننه، سره له دې چې په بېلابېلو پړاوونو کې یې زموږ هېواد او ولس د بهرنیو یرغلونو او کورنیو جګړو له امله له ډول ډول ستونزو او کړاوونو سره مخامخ دی، بیا هم په بېلابېلو بڼو د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا لپاره د ننه په هېواد، بهرنۍ نړۍ، په ځانګړې توګه د افغانانو د هجرت په چاپېریال (پښتونخوا) کې د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لارې چارې برابرې شوې او دا لړۍ ترننه په چټکۍ روانه ده، چې د لیکنې دې لنډ تنګ چوکاټ ته په کتنه موږ نشو کولای د هغې پر څرنګوالي په تفصیل سره بحث وکړو، پورتنۍ لنډې یادونې او ځغلندې کتنې یې هم د بېلګې په توګه د ودې او پرمختیا انځور وړاندې کولای او وروسته له موږ سره د اصلي موضوع په څېړنه او سپړنه کې لازمه مرسته کولای شي.

## د پښتو ژبې په وده او پرمختیا کې د پوهاند رښتین ونډه

د پښتو ژبې د ودې او پرمختیا د بهیر په دې لنډه ځغلنده خاکه کې به د دغه بهیر د ځرنګوالي یو تت شان انځور تاسې ته وړاندې شوی وي، اوس د دې اړتیا شته چې د استاد رښتین ژوند ته په یوه لنډه کتنه ځان په دې پوه کړو چې نوموړي د خپل ژوند (۱۲۹۸- ۱۳۷۷ل ) په کومو پړاوونو کې څنګه او څومره له دغه بهیر سره مل پاتې شوی او په خپل شپږ لسیزې فرهنګي ژوند کې یې علمي او عملي هلو ځلو، لیکلو آثارو او وړاندې کړیو افکارو د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا په بهیر او زموږ د ژبې او ادب په بډاینه کې څومره او څنګه مرسته کړې ده.

صدیق الله رښتین د مولوي تاج محمد چې په (مهتمم صاحب مشهور و) زوی، پر ۱۲۹۸ لمریز کال د مومندو په غازي آباد کې زېږېدلی، په ځته سلیمان خېل پښتون، نیکونه یې د لوګر اوسېدونکي او بیا پښتونخوا ته تللي او هوري مېشت شوي وو. لومړنۍ زده کړې یې په خپل کور کلي او بیا د نادر خان د واکمنۍ په دوره کې د ننګرهار په نجم المدارس کې شامل شو، په ۱۳۱۵ لمریز کال د لوړو دیني زده کړو لپاره د کابل په عربي دارالعلوم کې شامل او پر ۱۳۱۸ لمریز کال یې دغلته د دیني علومو منځنۍ زده کړې پای ته ورسولې، د دې پرځای چې چېرته قاضي ، مفتي او یا د دیني علومو مدرس شي، د خپلې ژبې او ادب مینې پښتو ټولنې ته وروست او هلته یې په علمي او عملي ډول د خپلې ژبې او ادب خدمت پیل کړ، شاعري، لیکوالي او ژباړې یې دمخه له ۱۳۱۲ کال څخه له اصلاح اخبار او کابل مجلې څخه پیل کړې وې.

استاد رښتین له ۱۳۱۸ل څخه تر ۱۳۵۲ کال پورې لومړی په پښتو ټولنه کې علمي غړی بیا د قواعدو څانګې مدیر، د پښتو آریانا دایرة المعارف د ترجمې څانګې آمر، د پښتو ټولنې مرستیال، د آریانا دایرة المعارف امر،د پښتو ټولنې لوی مدیر، رئیس(۱۳۳۳- ۱۳۳۵ ، د پوهنې وزارت سلاکار، د کابل پوهنتون د پښتو ادبیاتو استاد او بیا له ۱۳۴۲ څخه تر ۱۳۵۲ کال پورې لس کاله د پښتو ټولنې رئیس او دکابل پوهنتون د پښتو ادبیاتو استاد، په همدغه کال چې په پوهنتون کې د پوهاند په علمي رتبه استاد او د پښتو ټولنې رئیس و، له رسمي دندې یې تقاعد وکړ، بیا تر ۱۳۷۱ لمریز کال پورې دننه په هېواد کې دخپلو آثارو په لیکلو راټولولو او ترتیبولو بوخت و، په دغه کال پښتونخوا پېښور ته کډوال او تر ۱۳۷۷ کال پورې هلته د خپلو آثارو په تدوین، تنظیم، چاپ او خپراوي بوخت و، په همدغه کال د ورپېښې ناروغۍ له امله د پښتونخوا پېښور په لیډي ریډنګ روغتون کې وفات او د ننګرهار په بهسود ولسوالۍ کې خاورو ته وسپارل شو. (۴)

دا وه د استاد د ژوند یوه لنډه خاکه چې د هرې برخې تفصل یې موږ ته د پښتو ژبې او ادب په وده او پرمختیا کې د هغوی ونډه زیاتولای شي، خو دلته د لیکنې لنډ تنګ چوکاټ ته په کتنه دا کار نشو کولای، یوازې په ډېر لنډیز سره په دې لاندې یادونو او ځرګندونو بسنه کوو:

پوهاند صدیق الله رښتین په پښتو معاصر ادب او فرهنګي بهیر کې له لوړ نوم او شهرت نه برخمن دی علمي فرهنګي شخصیت یې ګڼ اړخونه لري: پیاوړی لیکوال، څېړونکی شاعر، د هنري ادبیاتو

پنځوونکی چې لـه ۸۰ څخه زیات ځانګړوچاپ او ناچاپ آثار و سربېره یې تر( ۱۰۰۰ ) زرو زیاتې مقالې پـه مطبوعاتو کې خپرې شوې دي. د پښتو ژبې او ادبیاتو استاد، چې کلونه کلونه یې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پـه پوهنځي کې د پښتو ژبې او ادبیاتـو د تدریس چارې ترسره کړي، ښه ژورنالیست چې د کابل مجلې ، زیري جریدې ، هېواد اخبار، ورانګې او سیستان جریدو د خپرېدو پر مسؤلیت سربېره یې پـه کابل راډیو کې کلونه ځینې ادبي پروګرامونه پرمخ نېولي دي. پیاوړی ادبپوه چې د ادبپوهنې پـه بېلابېلو څانګو (ادبي تیوري، ادبي تاریخ، ادبي کره کتنه ، متنپوهنې او نـورو ) کې یې پـه لسګونو ځانګړې څېړنیز او غوره تحلیلي آثار لیکلي او د تدوین چارې یې ترسره کړې دي. یو نومیالی ژبپوه چې د پښتو ژبې له لـه لسو څخه زیات ځانګړي ګرامري او ژبني څېړنیز آثار لیکلي دي، نو د پښتو ادب معاصر بهیر پـه وده او پرمختیا کې د دغسې یو ګڼ اړخیز علمي ـ فرهنګي شخصیت د ونډې د څرنګوالي او څومره والي جوتول او پـه مناسبه توګه زباتول د مقالې پر څو مخونو کې څه چې پـه یو پنډ کتاب کې هم ستونزمن دي، خو ماتـه چې دا چار را ترغاړه ده اړ یم چې پـه دې پورتـه یادو تولو اړخونو کې یې د کړي کار د بېلګې پـه توګـه یوازې د ځینو آثارو یادونه وکړم او بیا یې د ونډې د څومره والي او څرنګوالي پـه باب قضاوت د دې لیکنې د پایلې پـه څو کرښو کې پـه ډېر لنډیز سره وړاندې کړم:

۱-د لیکوال او څېړونکي پـه حیث: استاد د خپل ۲۱ کلن فرهنګي ژوند پـه بهیر ۱۳۱۲- ۱۳۷۷ م کې پښتو ژبې او ادب تـه د خدمت، ودې او پرمختیا پـه موخه د بېلابېلو علمي، ادبي، ژبنیو، ټولنیزو، ملي، سیاسي، تاریخي او فولکلوري مسایلو پـه اړه ډېرې لیکنې او څېړنې کړې دي. لـه زرو زیاتې مقالې یې پـه مطبوعاتـو (اخبارونـو او مجلـو) کې خپرې شوي او د ۸۰ پـه شاوخوا کې چاپ او ناچاپ آثار یې د ژبې، ادب تاریخ، هنر، فرهنګ، فولکلور، کلتور او نورو بېلابېلو موضوعاتو پـه باب اوس زموږ پـه واک کې دي، پـه ادبي څېړنو کې یې د بېلګې پـه توګه: پښتو ادبیات (رساله) ، د پښتو د ادب تاریخ، د پښتو نثر هنداره، د پښتو اشعارو ډولونه، د پښتو ادبي مکتبونه او نور. پـه ژبنیو څېړنو کې یې: د پښتو ګرامر، د پښتو ژبې لیارښوونکی، پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، ژبښودنه، لرغونی پښتو، نوې څېړنه او نور چې دغو یادو او نورو ټولو آثارو تـه کتنه موږ تـه د پښتو ژبې او ادب پـه وده او پرمختیا کې د دوی ونډه زباتوي. (۵ )

۲- د پښتو ژبې او ادبیاتو د استاد پـه حیث: استاد رښتین پـه پښتو ټولنه کې د دندې ترڅنګ لـه ۱۳۲۵المریز کال څخه تر ۱۳۵۲ل کال پورې د پښتو څانګې استاد و چې تر ۱۳۵۲ لمریز کال یې د پوهاند پـه علمي رتبه تقاعد وکړ. دغسې د پښتو ژبې او ادب تـه د خدمت پـه موخه پـه دې ۲۷ کلونو کې پـه زرګونو ښوونکي، ژورنالیستان ، لیکوال او څېړونکي روزلي او پـه دې برخه کې یې پښتو ژبې تدریس لپاره پرې ځیني ادبي او ژبنی څېړنې چاپ او خپرې کړي دي، د پوهنې وزارت د سلاکار، د درسي کتابونو لیکوال پـه حیث یې هم د پوهنې شاګردانو تـه درسي کتابونـه تالیف کړي، د پښتو ټولنې د پښتو کورسونو د تدریس لپاره یې هم درسي کتابونـه لیکلي چې دا ټول پـه مجموع کې

د پښتو ژبې د زده کړې او تدریس په ډګر کې د دوی فعاله ونډه اخیستنه جوتوي. د ښوونځیو او پښتو کورسونو په برخه کې یې د پښتو د ادب تاریخ، پښتو کلي شپږم ټوک، د دویم ټولګي پښتو، د درېیم ټولګي پښتو او د دولسم ټولګي پښتو او د پوهنتون د محصلینو لپاره یې د پښتو د ادبیاتو تاریخونه (د درېیم او څلورم ټولګیو لپاره) پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، د پښتو اشعارو ډولونه او نور تالیفات د یادونې وړ دي. (۶)

۳- د شاعر، ادبي – هنر نثر لیکوال په توګه: شاعري یې له ۱۳۱۶ المریز کال څخه پیل کړې ده، خو بیا وروسته چې یې ادبي او رسنیزو لیکنو او څېړنو ته مخه کړې، بیا یې کله ناکله د ځینو خاصو مناسبتونو لپاره شعرونه هم ویلي، د شعرونو ځانګړې ټولګه یې د ((خوږې ورمې)) په نوم او ځینې نور خواره واره شعرونه یې په اخبارونو او مجلو کې چاپ دي چې له امله یې موږ نوموړی ښه شاعر بللی شو. ترکومه چې یې په هنري ادبي نثرونو پورې اړه لري، په دې لړ کې هم د پیاوړي استعداد خاوند و، ډېرې سفرنامې، ادبي ټوټې، تکلونه او نور ادبي ژانرونه یې لیکلي، په سفرنامو کې یې د هند سفر، د ننګرهار سفر، د پښتو تاریخي سیمینار، د بدخشان سفر، د هېواد ننداره او په ادبي ټوټو او نورو ژانرونو کې یې د ژوند پلوشې، د ښکلا ورمې، ادبي لیکونه او نورې خوږې وږې ادبي لیکنې یادولای شو چې دا هم په خپل ځای او وخت کې د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا په بهیر کې اغېزناکه ونډه لري. (۷)

۴- د ژورنالیست په حیث: استاد له هماغه مهاله چې کابل ته په عربي دارالعلوم کې د زده کړې لپاره شامل شوی او بیا په ځانګړې توګه کله چې د پښتو ټولنې په غړیتوب منل شوی، د څېړنو ترڅنګ یې مطبوعاتي او ژورنالیستي کارونه پیل کړي. د اصلاح جریدې همکار، د کابل مجلې مرستیال او مسؤل مدیر، د زیري جریدې مسؤل، د هېواد اخبار مسؤل مدیر، د وړانګې او سیستان جریدو مؤسس او چلوونکی، په کابل راډیو کې یې د بېلابېلو پښتو ادبي پروګرامونو د چلوونکي، په کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي کې د ژورنالیستانو د استاد، ښوونکي او روزونکي، په پښتو ټولنه کې ۱۵ کاله د لوی رئیس په حیث د ټولو خپرنیزو چارو د کتونکي، څارونکي او سمبالوونکي په توګه د پښتو ژبې د ودې او پرمختیا په بهیر کې خپله ونډه په ډېره ښه توګه ترسره کړې ده. (۸)

۵- د ادبپوه او ژبپوه په حیث: استاد چې ژبو او ادبیاتو کې د لوړې پوهې او مطالعې څښتن و، نو ادبپوهنې په بېلابېلو برخو او څانګو (ادب تیوري، ادبي کره کتنې، ادب تاریخ، متنپوهنې او کتابپوهنې) کې یې ډېرې لیکنې او څېړنې کړې او د کلاسیکو آثارو د تدوین او د متنونو د څېړنې علمي او عملي چارې یې په ډېر ښه ډول ترسره کړې دي (۹) د ژبپوهنې په برخه کې د دوی لیکنو او څېړنو ته په کتنه ویلای شو چې د خپل مهال په نورو لیکوالو او څېړونکو کې جوت مقام لري، نو ځکه یې باید د خپل

وخت یو مخکښ، نومیالي ادیبوه او ژبپوه وګڼو، او د پښتو ژبې او ادب په پرمختیایي بهیر کې یې ونډه زیاته او اغېزناکه وارزو.

پایله

که د استاد رښتین د لوړ علمي – فرهنګي شخصیت په اړه په پورته جلا جلا بحثونو کې یادې شوې ټولې ښېګڼې او غوره ځانګړنې راټولې او بیا یې د پښتو په معاصر ادب کې د دوی د ادبي مقام ټاکنې او د پښتو ژبې او ادب په پرمختیایي بهیر کې د دوی د تر سره کړې ونډې د څرنګوالي او څومره لپاره په غور ارزونه وکړو، نو د پایلې په توګه ویلای شو چې: استاد رښتین د پیاوړي لیکوال، څېړونکي، شاعر، د پښتو ژبې او ادبیاتو د استاد، نومیالي ژبپوه، ادیبوه، مطبوعاتي او ژورنالیست شخصیت په توګه چې د پښتو ژبې او ادب دبډاینې لپاره یې د خپل (۲۱) کلن علمي – فرهنګي ژوند په بهیر کې د ژبې، ادب، فولکلور او کلتور، فرهنګ، هنر د ټولنیزو او ملي مسایلو په بېلابېلو برخو کې له زرو څخه زیاتو لیکنلو او خپرو شویو مقالو او له ۸۰ څخه زیاتو چاپ او ناچاپ لیکلو او ژباړلو آثارو په ډالۍ کولو زموږ په معاصر ادب کې د لوړ نوم او شهرت نه برخمن دی، آثارو او افکارو یې د پښتو ژبې او ادب په وده، پرمختیا او پراختیا کې ډېره ارزښتناکه ونډه لرلې ده چې له امله یې نوموړی زموږ په مخکینو لیکوالو، څېړونکو کې د یو حقدار ادیب په توګه په لومړی لیکه کې ولاړ او د پښتو معاصر ادب په څو ځلانده ادبي ستورو کې د شمېر ویاړلي لقب ور په برخه دی.

مأخذونه

هاشمي، سید محی الدین. د پوهاند صدیق الله رښتین د ادبي –فرهنګي خدمتونو څېړنه او کره کتنه، میهن خپرندویه ټولنه، پښتونخوا پېښور، ۱۳۹۵ لمریز کال ، ۳۲- ۳۳ مخونه.

روهي، محمد صدیق. د پښتو ادبیاتو تاریخ معاصره (دوره)، روهي فرهنګي ټولنه، خوست، ۱۳۷۸لمریز کال ، ۳۲مخ.

رفیع، حبیب الله. (ژبپالنه، د افغانستان علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۶۰لمریز کال بېلابېل مخونه په لنډېز سره.

هاشمي، سید محی الدین. د پښتو ژبې او ادبیاتو لنډ تاریخ (ناچاپ)

رښتین، صدیق الله. زما هلې ځلې د علامه رښتین فرهنګي ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۱لمریز ، بېلابېل مخونه، لنډیز.

د پوهاند صدیق الله رشتین د ادبي فرهنګي خدمتونو څېړنه او کره کتنه، ۴۱۰ مخ.

بېنوا، عبدالرؤف. د پښتو اوسني لیکوال، لومړی ټوک،د مطبوعاتو مستقل ریاست، کابل، ۱۳۴۰کال، ۴۲۹ مخ.

د پوهاند صدیق الله رښیتن د ادبي او فرهنګي خدمتونو څېړنه او کره کتنه، ۴۱۱- ۴۱۲ مخونه.

پورتنی اثر ، ۴۱۲مخ.

همدا اثر ، ۴۱۳مخ.

# د کاظم خان شیدا په شاعرۍ کې نوستالژیا

لیکوال: جاوید آفتاب

نوستالژیا فرانسوي کلمه ده چې (Nostaligia) په یوناني کې (Nostos) تېر ته ستنېدل او (Alogos) درد او رنځ معنا لري، په قاموسونو او فرهنګونو کې د تېر ارمان، د غربت غم، په هېواد او کور پسې ځورېدنه او د لرې والي درد په معناوو راغلې ده. اکسفورډ ډکشنري، نوستالژیا یو ډول زړه تنګي معنا کړې چې له خپل ټاټوبي ځخه د اوږد مهاله لرېوالي له امله پیدا کېږي.[۱]

نو لنډ پېژند یې داسې کولای شم چې نوستالژیا یا نوستالژي د تېر وخت، شیانو، وګړو او موقعیتونو په اړه دروني تریخ یا خوږ احساس ته وایي. لومړی به د نوستالژي کلمې د پیدابښت او شالید په اړه لنډ ولیکم چې:

که تېر ادبي او علمي تاریخي کتابونه وپلټئ، نو د نوستالژۍ کلمې څرک به په کې پیدا نه کړئ؛ ځکه دغه کلمه د نیولوګېزم محصول دی. په لومړي ځل یوه سویسي څېړونکي «جوهانس هوفر» دغه کلمه جوړه او په خپله هغه مقاله کې یې کارولې چې د دوو ناروغانو د روحي حالات توصیف په اړه یې لیکلې وه. (دا مقاله یې په ۱۶۸۸م. د جون په ۲۲مه لیکلې وه).

د ډاکټر هوفر دوه ناروغان چې یو له «برن» ښار نه «بازل» ته د زده کړو له پاره تللی و او بل یو مسافر خدمتګار و، دغه دواړه هغه مهال بالکل روغ رمټ شول چې بېرته خپلو کورونه ته ولېږل شول. البته په نننۍ طبابت کې دې ډول ناروغۍ ته د «د انطباقي اختلال» اصطلاح کاروي. په عین حال کې دا ډول ناروغي او اختلالات، په ځینو هغو سویسي نظامیانو کې هم ولیدل شول، چې له هېواد بهر په خدمت بوخت ول. په لومړیو کې داسې تصور کېده چې شاید د دې سرتېرو رواني – بدني حالات د یو فیزیولوژیکي او یا له نورمال سطحې نه ټیټې ارتفاع ته د سفر له امله وي. په لومړیو کې نوستالژي یوه طبي اصطلاح وه، خو ډېر ژر د فیلسوفانو پام ور واوښت. هالر یې په اړه په علمي خپرونه «Diberto» کې مقاله ولیکله. کانت په دې باور و چې د نوستالژي لامل تبعید نه دی، بلکې لوی سبب یې فقر او غربت دی؛ شتمني او اجتماعي موقعیتونه هغه له منځه وړلی شي. د هوفر د مقالې له چاپ نه یو پېړۍ وروسته (د ۱۷۸۹ نه تر ۱۸۱۵م. کلونو ترمنځ) شرایط داسې شول چې له وطنه لرې د مهاجرینو په شمېر کې ډېر زیاتوالی راغی او د ناروغانو شمېر، چې هغه وخت په کې د «نوستالژي» ناروغي تشخیص شوې وه، څو برابره زیات شو. خو په دې وخت کې د ډاکټرانو، په ځانګړې توګه د نظامي ډاکټرانو رواني تجربه لا ډېره شوې وه. هغوی له تجربې سره زده کړه چې دا اختلال څنګه تشخیص کړي، د هغې رواني درملنه وکړي او د تجربو له مخې د خپلو ناروغانو په ذهن کې د هغوی تېر خواږه یادونه را تازه کړي. یو له دې ډاکټرانو «بارون پرسي» لیکلي: «د ناروغۍ درملنه باید روحي وي، نه درمل، تجربو ښودلې ده چې د درملو توصیه د رواني ناروغیو له زیاتوالي/ بدتر کېدو پرته بله ګټه نه لري.» له ۱۸۳۰م. نه وروسته، د ډاکټرانو د کار سبک او سیاق ډېر توپیر وکړ. هغوی د ناروغیو د تشخیص

او درملنې له پاره له ضرر پېژندنې او د ناروغيو مسبب د ميکرو ارګانيزمونو له کشف څخه ګټه اخيستنه. خو په لازم ډول نه اتوپسي او نه ميکروسکوب کولای شول د هغو خلکو د ناروغيو تشخيص او درملنه وکړي، چې خپل ټاټوبي ته د ورستنېدو له پاره يې زيات فکري وسواس لره.
د نوستالژي د کلمې سر کرار، کرار د ادب نړۍ ته را ننوت او د ۵۰ کالو په اوږدو کې ورو، ورو له طبي متنونو څخه ووت او بيا د ناروغانو د توصيف له پاره ونه کارېدله. په همدې وخت کې د ادب په نړۍ کې را ګډه شوه، خو په ادبياتو کې د ناروغي په معنا نه، بلکې په ځنډ يا ناوخته د غم او رومانټيکو احساساتو پيدا کېدو ته اشاره وه. «نوستالژي د فرانسې د رومانتيک عصر په ادبي ژبه کې د هوګو، بودلر او سارتر په آثارو کې مختلفې معناوې لري. د هوګو په آثارو کې له وطن نه د لرېوالي درد، د بولر په آثارو کې له پردي وطن سره اشتياق لرل او له لاسه وتلو شيانو له پاره اشتياق او د سارتر په آثارو کې د هېڅ په اړه د حسرت يا اشتياق لرلو په معنا وو. د شلمې پېړۍ په پيل کې نوستالژي يو ځل د انسان جغرافيه يي بې وطنۍ په معنا سر را جګ کړ.» (۲)
نوستالژي يوه اروايوهنيزه ګړنه ده چې نن ورځ يې ادبياتو ته لاره کړې ده. نوستالژي يا افسوس يا تېر ارمان د هغو شاعرانو او ليکوالو تېر ارمان او خواشيني ده چې تېر ته په کتو سره يې د هغو په اثارو کې ظهور کړی وي او لوستونکو ته يې وړاندې کوي.

نن ورځ دغه کلمه په دوو استقامتونو يا د دوو لوريو په موجوديت کې تعبير او تفسيرېږي چې يو يې فردي او بل يې ټولنيز استقامت دی. يعنې فردي ځان ناخبري په دې معنا چې يو انسان په خپل غم، درد او افسوس کې بل څوک ځان سره نه شريکوي او ټولنيزه ځان ناخبري هغه درد، غم يا افسوس چې له هغې په ټولنه کې نور وګړي هم اغېزمن کېږي يا په عين درد کې ځان يا خپل حالت پيدا کوي.
محمد اکبر کرګر په خپل اثر «پښتو شعر او نوستالژي» کې ليکلي: «نوستالژي د اروايوهنې يوه ګړنه ده ،خو په ښکلي طرز او خپه کوونکي اغېزناک اواز د کلام او ليکنې له لارې د دې سبب شوی چې په ادبياتو کې يوه لاره پرانيزي. ليکوال او شاعر دی چې له خپلو موجودو امکاناتو نه په ګټې اخيستلو سره خپل خپه احساسات او له درده ډک افسوسونه او يا د تېرو لرې وختونو خاطرات د ګړنو او کلماتو قلمرو ته ننباسي او بيا همدغه جملې او عبارات دي چې پر لوستونکي يا مخاطب باندې د شاعر د احساساتو په انتقال کې جادويي او اساسي ونډه لري. شاعران او ليکوال چې همېشه بديو او ناوړتياوو نه د ازادۍ ارماني ټولنې په لټه کې دي، په ځان خبري او تر زياته حده په ځان ناخبري توګه خپلې تېرې نېکې ماضي ته مخ اړوي، په دې لټه کې ټولنيزه نوستالژي له دوه چنده قدرت او ښکلا نه برخمنه ده. نوستالژي په ادبي څېړنو کې هغه ډول هستونو ته ويل کېږي چې د هغو پر بنسټ شاعر يا ليکوال

په خپلو شعرونو او ليکنو کې تېر ته پام کوي او يا د هغه هېواد چې ياد يې په فکر کې راځي، په ډېر افسوس او درد سره يې ترسيموي. کېداى شي دغه حسرت او زړه تنګي د خپل پلرني ټاټوبي او د هېواد د کوچنيوالي دوران ښه سياسي، مذهبي او اقتصادي حالت او له تېر سره شوق او مينه وي. نوستالژي يو لړ ځانګړتياوې هم لري لکه د تېرو خاطراتو او تمايلاتو يادونه، تېر ته ستنېدل او داسې تمايل چې بېرته خپل ټاټوبي ته د ورتللو مينه او شوق، ارکاييزم يا لرغونپالنه، اسطوره جوړونه او ارماني دنيا ته پناه وړل دي، چې په متن کې د دغه ډول مشخصاتو موجوديت په تېر پسې د شاعرانو افسوس او يا ارماني راتلونکي پسې د شاعر تمايل جوتوي.» (۳)

لکه څنګه چې د نړۍ ادبيات له نوستالژۍ خالي نه دي، داسې د پښتو ادب هم ترې بې‌برخې نه دی. حتى د پښتو شفاهي يا ولسي ادب بې‌ساری او غني فورم(لنډۍ) يې ډېر ښه انځورونه لري:

مسافري دې ډېره وکړه
راځه راځه روزي به خداى را رسوينه

داسې ډول ډول نوستالژيکې بېلګې نورې هم شته. همداسې که د پښتو شعر او داستاني ادبيات وپلټو، نو د ډېرو شاعرانو او ليکوالو په شعرونو او ليکنو کې به يې بېلګې وموموو. زما په اند په پښتو آدب کې به داسې شاعر نه وي چې د هغه په شعرونو کې دې د نوستالژيا څرک نه وي. اوس به يوازې د شيدا شاعرۍ ته تم شو، د شيدا په شاعرۍ کې د نوستالژيا بېلګې ډېرې دي، هغه په جلاوطنۍ کې د خپل خاپوړو وطن، ښکلي طبيعت، کور کلي، خپلوانو، ملګرو او تېرو خاطرو يادونه د شعر يوه برخه ګرځولې او د دې ټولو انځورونه يې په ډېر ښکلي او هنرمندانه توګه په کې ځاى کړي دي. دغه ځلوريځه يې په تېر ژوند پسې د ارمان ښه بېلګه ده:

همېشه ژاړم په تېر صحبت پسې
په هغه مهر په محبت پسې
لکه شيشه يم د ساعت ګوره
زړه مې دوه نيم شو په تېر ساعت پسې(۴)

لکه څنګه چې مو ووېل چې نوستالژي د تېر عمر يا د وګړو، شيانو او موقعيتونو په اړه يو دروني تريخ يا خوږ احساس ته وايي، نو دلته په ترتيب سره د شيدا په شاعرۍ کې لومړى د تېر عمر پسې ارمان، بيا د اشخاصو، ورپسې د شيانو او پاى کې د جلا وطنۍ او طبيعي موقعيتونو په اړه د هغه په ترخو او خوږو احساساتو، تېر يادونو او ارماني اړخونو يادونه کوو.

## ۱- د تېر عمر ارمان:

تېر مهال پالي فردي نوستالژي هغه ډول دى چې شاعر يا ليکوال پکې شېبه يا خپلې تېرې شېبې ترسيموي او هغو پسې ارمان کوي. پرته له دې چې نور په دې ارمان او غم کې له ځان سره شريک کړي، ځينې مفاهيم لکه فريادونه، له زړښت نه شکايت، سپين وېښتان، په ملا کړوپېدل، د ځوانۍ، ثروت او له لاسه تللي ملکيت په يادولو سره رامنځته کېږي.(۳)

شیدا په دې شعر کې د تېر مهال پالي فردي نوستالژی یعنې د خپل تېر عمر (ماشومتوب او ځواني) پسې ارمان کړی، چې کاش بېرته راستنېدی شوای:

که هر څو ډېر شي شکر و شهد
ځني بهتر دی د شودو مهد
څرنګ به راشي د راحت خوبه
ووت له لاسه د طفلۍ مهد (۵)

د لومړي بیت په دویمه مسره کې «د شودو مهد» د ماشومتوب د زانګو وخت شوده له نورو ټولو شکر او شاتو غوندې خوږو نه بهتر بولي او په وروستۍ مسره کې«د طفلۍ مهد» د ماشومتوب د وخت ځانګو ښيي، یعنې د ماشومتوب ښکلی له سکون او راحته ډک د پاچاهۍ ژوند مې له لاسه ووت، چې بېرته نه راګرځي.
همداسې د خپل غزل په یوبیت کې وايي:

نه په روی ، نه په زارۍ ،نه په زور ګرځي
وایه تللی عمراوس په څه راستون کړم(۶)

۲- د وطن او سیمو یادونه:

شیدا ته په پردېسۍ کې د خپل هېواد د بېلا بېلو سیمو، طبیعتونو، کاڼو، بوټو، غرونو او نور یادونه هماغه د پخوا په څېر خواږه یادونه دي او د جلا وطنۍ عمر یې هم همدې یادونو سره تېر کړی. که څه هم د هند ښکلاګانې او ښایسته طبیعت هم خپل خوند او رنګ لري، خو شیدا ته خپل وطن کشمیر و. دی په پردیسۍ کې د خپلې سیمې د ښکلاګانو منظرکشي داسې کوي:

تل د روه آب و هوا، واوره، سپین یخ هم
باغ و راغ، دښت و کهسار طرفه شاداب
یاد لره په خپل خاطر، په یاد یې پایه
شیدا وسپاره په قصر دا اطناب (۷)

او د حال په ژبه یې ورته داسې ویلي:

ګله سبا دی، باد مراد دی
چې یې لېدلی افضل آباد دی
راته یې ووې د حال په ژبه
تازه دې ګل اوسروشمشاد دی (۸)

ګله ګله لکه د یوه بندي مرغه په څېر د تېرې آزادۍ په تصور کې ډوب شوی او د هغې طبیعي فضا انځور یې د شعر په ژبه داسې بیان کړی:

په زړه یې ګرځي د غرونو څوکې
حملې د بازو د زرکو کوکې
ووایه څه کا د روه نسیمه؟
ګیرا منګولې زیبا مښوکې (۹)

۳- د طبیعي ښکلا یادونه:

دلته د هند په وړاندې د خپل کلي (روه) د ښکلي طاوس او سیسۍ، ګورګورو، ممانو او ښېرازه او زرغونې سیمې په یادولو سره خپل هغه دروني خوږ احساس د شعر په ژبه داسې بیانوي:

ځار شه ترې هومره طاوسان زاڼې
لکه د ونو بې شماره پاڼې
د روه سیسۍ دې طرفه دلبرې
نشته په هند کې دا هسې سکاڼې (۱۰)

۴- د یارانو او جلا وطنۍ احساس:

استاد رفیع په آواره شیدا کې وايي: د هند په پردېسۍ کې یې د سرای یاران پر زړه اوري او د خپلو اشعارو د سوغات ورلېږلو هیله لري:

که یې سر ځي لکه شمع یکزبان دي
خلاف نه کا د خپل قول چې یاران دي
چې اختر لکه اسمان لري له کوره
و هلال ته، څه محتاج هغه کسان دي
شیدا واستوه رنګین اشعار له هنده
ستا له رای سره اشنا د سرای یاران دي(۱۱)

په سرای کې د (ولۍ) او (افضل آباد) یادونه داسې کوي:

کله سبا دی، باد مراد دی
چې یې لیدلی افضل آباد دی
راته یې ووې د حال په ژبه
تازه دې ګل او سرو شمشاد دی(۱۲)

پایله:

شیدا په شعر کې له نازکخیالۍ او رنګین الفاظۍ سره سره د تېرو یادونو ارمان هم په ډېر هنري انداز کړی دی. په پردېسۍ کې یې د تېر ژوند د یادونو غوټې سپړلي او په اهنګینه ژبه یې زمزمه کړي، چې په هغه کې یې د وطن خواږه یادونه هم دي، له حسرت ډک تېر ارمان هم و، د ملګرو او عزیزانو ذکر هم و، د تېر ژوند د ببرته راګرځېدو ارمان هم و او د ځان اواره ګي او د ژوند حبابي صحنو او کیسو ته يې هم د شعر اوبه ورکړي، چې موږ يې له ښځنلو سره ډېر ښه د هغه نوستالژيک احساس حس او درک کولی شو. شیدا له خپلې خاورې او هویت سره خپل طبیعي او فطرتي دروني عواطف او احساسات په شعر کې را څرګند کړي دي، چې دا له خپل ټاټوبي او خلکو سره د هغه د لېونۍ مینې ښکاره ثبوت دی. اروا یې ښاده، په ګور یې انوار!

په خاطـــر مې لکه ګرد جـــانفشاني ده
که مې یاد د هغه شوخ په دامان پرېږدي
(شیدا)

مأخذونه

١-کرګر، اکبر، پښتو شعر او تېرارمان، ۱۳۹۷ل.کال، هاشمي خپروندیه ټولنه، ننګرهار، ۵مخ.
۲- نوستالژي، فارسي ویکي: https://www.parsi.wiki/fa/wiki/٤٤٣٧٥٣
۳- کرګر، اکبر، پښتو شعر او تېر ارمان،۴-۶ مخونه.
۴- د کاظم خان شیدا دیوان،(تدوین، سریزه، یادښتونه او وییپانګه: حنیف خلیل)، ۴۰۴مخ.
۵- حقپال، پوهندوی ډاکټر میراجان، کابله مجله، ۱۳۹۴ل. کال، (دربیمه دوره، ۴مه ګڼه–چنګاښ)، د علومو اکاډمي، کابل، ۲۹مخ.
۶- د کاظم خان شیدا دیوان(تدوین، سریزه، یادښتونه او وییپانګه: حنیف خلیل)، ۱۴۸مخ.
۷. پورتنی اثر، ۴۲۱ مخونه
۸- رفیع، حبیب الله، آواره شیدا-دویم چاپ، ۱۳۹۷ل.کال، د امان کتاب خپرولو موسسه، پېښور، ۴۵، ۵۲ مخونه.
۹. د کاظم خان شیدا دیوان(تدوین، سریزه، یادښتونه او وییپانګه: حنیف خلیل)، ۴۰۵، ۳۹۴، ۴۰۹مخونه.
۱۰- پورتنی اثر، ۴۱۲، ۳۸۲، ۲۱۳ مخونه.
۱۱.رفیع حبیب الله اواره شیدا ، ۳۱ مخ

یاد

# مارکوپولو(Morco Polo ) او د وربښمو سوداګریزه لاره

مارکوپولو د دیارلسمې عیسوي پېړۍ په دویمې نیمایي ۱۲۵۴ زیږدیز/مېلادي کال کې د ایټالیې ( اټلي ) د وینس په ښار کې زیږېدلی و. دی په اصل کې یو مشهور ګرځندوی اوسیلا نی و چې د خپل پلار او تره ( کاکا) سره یوځای چین ته تللی و او د کوبلي خان په دربارکې یې چې د چنګیزخان لمسی و، له هغه سره له نږدې کتلي و .په هغه وخت کې یې د اوسني چین پلازمېنې ( پایتخت ) بیجنګ ته یې (خان بالیغ ) وایه اوده په خان بالیغ کې اولس کلونه د کوبلي خان په دربار کې له هغه سره تېر کړي وواو له هغه سره یې نږدې اړیکې درلودلې. له مارکوپولو نه د مخه دده پلار او تره هم چین ته سفر کړی و او هلته یې ځلور ویشت کلونه تېر کړي وو. کله یې چې پلار او تره د چین له سفره راستانه شول، نو ده ته یې هم د چین دعجایباتو کیسې وکړې او دا ځل ده هم ژمنه وکړه چې د خپل پلار او تره په ملګرتیا به چین ته سفرکوي او دغه هېواد به له نږدې څخه ګوري. پلار او تره یې هم دا ځل اولس کلن مارکوپولو په خپل سفر کې له ځانه سره ملګری کړاو کله چې د دوی سفرپه (۱۲۷۰زیږدیز/میلادي ) کا ل کې پیل شو، نو لو مړی فلسطین اوبیا د شام سیمې ته لاړل له هغه ځایه د هرمزد تنګي له لارې ایران ته لاړل او د ایران له اصفهانه یې لېدنه وکړه ،ترهغه وروسته دوی منځنۍ آسیا ته لاړل او د سمرقند او بخارا ښارونه



یې هم ولیدل .بیا افغانستان ته لاړل او د بدخشان ، پامیر او واخان له لارې چیني ترکستان او بیا له هغه ځایه د چین پلازمېنې خان بالیغ ته لاړل.
د تاریخونو په حواله مارکوپولو د وریښمو په لارې چین ته سفر وکړ.د وریښمو لاره (Silk Road) یا (Silk Route ) هغه تاریخي لاره وه ،چې ۸۰۰۰ کیلومتره اوږده وه او پردې لارې به د چین د هېواد وریښم د مصر د اسکندریې ښارته لېږدول کېدل او له هغه ځایه به بیا سوداګرو اروپا ( یورپ ) ته وړل.د وریښمو لاره له چین نه پیل کېدله لومړی ختیځ ترکستان، افغانستا ن، خوارزم، ازبکستان، ترکمنستان، ایران ، عراق، شام، فلسطین او مصر ته رسېدله . د وریښمو پرلارې به له چینه وریښم ، کاغذ، چیني لوښي ، باروت، لاک او قطب نما ګاني یورپ ته وړل کېدلې او له یورپ نه به د وریښمو پر لارې چین ته رنګارنګ مرغان او حیوانات،ښېښه یي لوښي ، عطر . مرغلرې، د سرواو سپینو زرو سکې اونور ډېرشیان وړل کېدل.باید زیاته کړو چې دغه اروپایي مالونه به کله کله ترجاپان او کوریا پورې هم رسېدل او هلته یې هم زیات شمېر مینه وال درلودل.همدا راز د وریښمو بله لاره د کابل، اوسني پاکستان د کراچۍ او هندوستان پرلارې وه ،چې بیا به د چین سوداګریز توکي د پارس د خلیج له لارې ترکیې او یورپ ته تلل.
کله چې مارکوپولو، پلار او تره یې د چین پلازمېنې خان بالیغ ته ورسېدل، نود کوبلي خان په دربار کې د دوی تود هرکلی وشو. مارکوپولو پر ځلورو ژبو پوهېده او وروسته دی د کوبلي خان له خوا د چین د یوه ایالت واکمن وټاکل شو. مارکوپولو له چینه ډېرڅه زده کړل .ده چیني ژبه ښه زده کړه او د هغه ځای له کلتور او تهذیب سره ډېرښه آشنا شو.
مارکوپولو په چین کې تر اولسو کلونو تم کېدووروسته وېتېیله چې له خپل پلار او تره سره یوځای له چین نه خپل هېواد ته ستانه شي .دوی په کښتۍ کې لومړی له هغه ځایه سنګاپور ، سوماترا ،میانمار( برما)، ترینکو، مالي او جفنا ته چې په اوسنۍ سریلانکا کې موقعیت لري اوبیا له هغه ځایه ممبئي ، ګجرات او د پارس خلیج اوبیا توري بحیرې ته ځانونه ورسول او له هغه ځایه د ترکیې او یونان پرلاره د ایټالیې د وینس ښار ته لاړل.
له مارکوپولو نه د ده یون یا د سفرپه اړه یوکتاب پاتې دی چې د خپل سفر ټول حوادث اوپېښې یې پکې لیکلي دي چې(د مارکوپولو د یونلیک یا سفرنامې ) په نامه یادېږي او په ډېرو آسیایي او اروپایي ژبو ژباړل شوی دی..باید زیاته کړو چې ده په خپل دغه سفر کې ۲۴۰۰۰ زره کیلومتره لاره ووهله.مارکوپولو په (۱۳۲۴ ) زېږدیز /میلادي کال له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې.
ده د افغانستان د پامیرپه لوړوځوکو کې هغه ښکر لرونکي پسونه هم ولېدل چې نن ورځ یې د مار کوپولو د پسونو په نامه یادوي .

> ... د وریښمو بله لاره د کابل، اوسني پاکستان د کراچۍ او هندوستان پرلارې وه ،چې بیا به د چین سوداګریز توکي د پارس د خلیج له لارې ترکیې او یورپ ته تلل.

# د ادبي ژانر د ډيالوګونو يا خبرو اترو څېړنه

څېړنوال دوکتور سيد نظيم سيدي

د ادبياتو په ځو صنفونو،خو په ځانګړې توګه داستاني ځېلونو کې مناظره يا خبرې اترې ډېر مهم عنصر دی چې د معاني جوړوني اساس او بنسټ جوړوي. د ځينو څېړونکو په وينا خبرې اترې هغه ويناوې يا کلام دی،چې د دوو او يا تر دوو زياتو کسانو ترمنځ د پوهاوي په موخه ترسره کېږي او ډېر ځله په ليک کې د ټولنيزو مسايلو ترڅنګ د روانپوهنې او ټولنپوهنې رنګ هم خپلوي؛ خو آره موخه يې پوهاوی دی. البته ادب څېړونکي دا خبره هم کوي چې د خبرو اترو په وسيله ډېر ځله د اشخاصو او يا اتل او اتلې شخصيت هم څرګنديدای شي. لکه: که د کور له غړو يې را پيل کړو، نو که تاسې د خپل کور غړو ته ځيرنه وکړئ، هرو مرو به دې خبرې ته ځير شئ چې ستاسې په کور کې هېڅ يو غړی د بل غړي په څېر خبرې نه کوي، آن د کوچنيو ماشومانو وينا هم يو له بل سره يو شانتې نه ده، د لويانو خو لا پر ځای پرېږده او دا چې د لوستي او نالوستي، رسمي او نا رسمي، کليوال او ښاري وګړو ترمنځ خومره توپير دی، د هغوی خو لا پوښتنه مه کوه. اوس که د خبرو اترو مسألې ته د ټولنپوهنې له نظره ځيرنه وکړو بيا مو هم ځينو باريکيو ته پام را اوړي. په دې معنا ښايي په ځينو کورنيو کې يو شمېر وګړي داسې وي چې په عادي خبره په غوسه کېږي او که لږه يې ورسره اوږده کړئ؛ نو شوني ده چې خبره لانجې او نښتې ته ورسېږي؛ خو يو شمېر بيا د دې خبرې پرعکس دي. په دې معنا که هغوی ته څوک څو بدې او ناکارې خبرې هم وکړي، هغوی يې عادي ګڼي او يا يې زغمي چې دغه چار يې هم يا د ځينو اړتياوو له مخې وي او يا هم د ځينو حساسيتونو د نه پارېدنې له امله، خو ټولنپوهان يې اصلي لامل د انسان ځينې انساني، ذهني او فزيکي ښنې بولي چې له امله يې انسان دغه ډول ځانګړنې خپلوي، خو ادبپوهان بيا دغه ډول خبرو ته خبرې اترې يا ادبي مناظرې وايي. البته د يوې خبرې وضاحت په کار دی او هغه دا چې هر ډول پارونکې خبرې اترې ادبي مناظره نه ده، بلکې ادبي مناظره هغه ده چې نور ادبي مسايل او بحثونه را پرانيزي، نه هغه چې د انسان سپکاوی په کې شوی وي، خو دا چې انساني سپکاوی څه ډول وي او کومې خبرې اترې دي هغه ډېر پراخ بحث دی او زموږ دا مقاله د هغې حوصله نه لري، نو ځکه بايد واضح کړو چې په دغه بحث کې زموږ موخه يوازې معنا لرونکې او په موضوع پورې تړلې خبرې اترې دي. که دغه خبرې اترې د ناول په ژانر کې وي؛ نو هلته ډېر ځله د نورو منځپانګو ترڅنګ عشقي بڼه اخلي او هنري پانګه يې درنه وي، که په فلسفه کې وي نو بيا يې ساده بڼه سپکه او پېچلې بڼه درنه وي او که په ټولنپوهنه کې وي؛ نو بيا يې ټولنيزه او سېمبوليکه بڼه درنه وي، خو له څېړنې پرته د ادب په هر څوکاټ کې به يې هرو مرو هنري او تخيلي بڼه درنه وي. که د کيسو څوکاټ ته راشو، نو د کيسې په ژانر کې د خبرو اترو په اړه ډاکټر حسن احمدي ګيوي وايي: «خبرې

اترې د يوې کيسې ډېر مهم او اساسي توکي دي او بايد دغه خبرې اترې دومره نوې، په زړه پورې او روح لرونکې وي چې لوستونکي ترې ډېر نوي څه زده کړای شي.» (۱)

ادب څېړونکي وايي ډېر ځله خبرې اترې د ادبي مسايلو د رښتينولۍ او نارښتينۍ مسايل هم ثرګندوي او لوستونکي کولای شي، چې د ليکوال له ډيالوګ څخه د هغه موخه او رښتينولي زياد کاندي چې څومره په سمه لار روان دی او څومره په ناسمه؛ ځکه ډېر ځله ځينې مسايل د خبرو اترو له لارې هوارېږي او يا يوه موضوع د خبرو اترو له لارې تشريح کېږي؛ نو که چېرې ليکوال دغه خبرې اترې په سمه توګه منظمې نه کړای شي، بې ځايه لغت پرانۍ او خبرې په کې ځای کړي نه يوازې به يې خپل لوستونکي له لاسه ورکړي وي؛ بلکې دغې مهمې ادبي برخې ته به يې هم زيان رسولای وي او د لوستونکي له نظره به يې د يوې بې معنا ښکارندې په توګه معرفي کړې وي.

په هنري او کيسه ييز ژانر کې خبرې اترې بايد ځينې حقايق هم را برېنډ کړای شي، په دې معنا «...نيمګړتياوې او د فساد جرړې را برېنډې کړي او سپين له تورو جلا کړي، ځکه په جنايي او تحقيقي چارو کې ډېر شيان په وهلو ټکولو نه؛ بلکې په خبرو اترو کې څرګندېږي». (۲)

په سقراطي روش کې بيا خبرې اترې بل ډول حکم لري؛ په دې معنا په نوموړي روش کې خبرې اترې د فکر زېږنده او د حقايقو تل ته د حريف د نږدېوالي معنا ښندي؛ يعنې که چېرې موږ د افلاطون د جمهوريت اثر په دقت سره وګورو؛ نو دې پايلې ته رسېږو چې سقراط تل ډيالوګ يا خبرې اترې د يوې خبرې د زياد لپاره ويلې او تر هغې به يې يوه خبره شاريله؛ ترڅو چې به يې مقابل لوری يا قانع او يا بې ځوابه کړ؛ ځکه نوموړی پوهېده چې د ده د پېر ډېر په نامه ليکوال او فلاسفه په ګډوډو سر وو او د دې لپاره چې دی يې غږولی وي، يا يې ورته ستونزه پيدا کړې وي، يا يې په خپلو خبرو کې داسې خبرې ترې ايستې وي چې سبا د ده پر ضد ثبوت شي او يا هم د ځينو نورو ملاحظو له امله نوموړی کړاوه، چې زياتونه يې د جمهوريت اثر د څو خبرو اترو يا ډيالوګونو ده چې دلته ورته په لنډه توګه نغوته کېږي:

«ورته مې وويل: موخه مې د تقليدي اشعارو ممنوعوالی دی، لکه څنګه چې موږ مخکې د انساني نفس بېلابېلې قوې سره توپير کړې؛ نو ګومان کوم چې مخکې له مخکې به مو دا معلومه کړې وي چې دغه ډول اشعار بايد په مطلق ډول بند او وغندل شي.

ويې ويل: په موخه دې اوس هم نه يم پوه!؟

ورته مې وويل: دا خبره دې زموږ او ستاسې ترمنځ وي او ما د تراژيديو مؤلفينو او نورو مقلدينو ته مه ور پېژنه! زما په اند دغه ډول آثار د لوستونکو ذهن فاسدوي؛ خو په هغه صورت کې ترې سمه معنا اخيستلای شي، چې له وړاندې د دغې پېښې په اړه معلومات ولري، چې په دې صورت کې د هغې له فساد څخه هم امان مومي.

ويې ويل: ستا د دغو څرګندونو لامل څه شی دی؟

ځواب مې ورکړ: هغه کوم درناوی او احترام چې هومر ته له ماشومتوب څخه لرم، هماغې زه اړ کړی يم چې چوپ پاتې شم... « (۳)

د پورته متن په کتلو سره دې ته اړتيا نه پاتې کېږي چې يو ځل بيا د خبرو اترو په سرليک

ټینګار وکړو او یا د سقراطي فلسفې په اړه ناسمې اخیستنې وکړو؛ ځکه له دې خبرو څخه جوتېږي چې سقراط څه ډول مکالمې کارولې او خبرې اترې په ادبي آثارو کې څه رول لري.
ځینې ادبپوهان په دې نظر دي چې ادبي یا په ټوله کې خبرې اترې د یو ځېل یو عنصر دی او ادبي مناظرې بل توک یا عنصر چې ځینې خبرې د نغوړلو دي او په لاندې توګه به ورته ځیر شو:
ادب څېړونکي وايي مناظره هم د خبرو اترو یا پوهاوي را پوهاوي په توګه کارول کېږي؛ یعنې مناظره هم خبرې اترې دي؛ خو توپیر یې په دې کې دی چې خبرې اترې کېدلای شي صمیمي، د مینې او دوستۍ وي، یعنې هم ښې وي او هم بدې خو د ښېګړو تله به یې درنه وي او ښايي په لومړي سر کې ترخې وي، خو په پای کې خوږې شي او یا دواړه لوري یوې مثبتې پایلې ته ورسېږي او یا په ناول او نورو کیسه ییزو ژانرونو کې د اتل او اتلې ترمنځ د مثبتو موخو لپاره وکارول شي؛ خو مناظره بیا یو څه ستونزې او ربړې لري، په دې معنا مناظره به هرو مرو په یوې دعوې پیلېږي، دوه او یا تر دوو زیات وګړي به یې د یوې موضوع لپاره پیلوي او هر یو لوری به هڅه کوي چې د خپلې خبرې د زیات لپاره ببلابېل مثالونه او ثبتونه وړاندې کاندي ترڅو په وسیله یې د برې ځلې ته ځان ورسولای شي. په دې برخه کې لیکوال چې په هره پوهه یا برخه کې مهارتونه لري ټول د ښېلګې په توګه وړاندې کوي او هڅه کوي، چې مقابل لوری د یوې بلې پوهې په وسیله قانع کړای شي، د ساري په ډول بیا هم د افلاطون جمهوریت اثر په پام کې نیسوچې له نن څخه کابو دوه زره او درې سوه کاله پخوا لیکل شوی؛ خو اوس هم د خلکو په منځ کې محبوبیت لري او لامل یې دا دی چې د وخت استاد کل سقراط د عدالت او بې عدالتۍ د زباد لپاره آن تر ادبیاتو او هنر پورې هم بېلګې را غځولي او هڅه یې کړې چې د وخت سوفسطیان ټول په ګونډو کړي چې له نېکه مرغه همداسې هم کېږي؛ خو په تاسف سره چې د وخت ناپوه حکومت د ده د پوهې هضم ونه کړای شو او بالاخره دی یې د شکران زهرو په وسیله پوه پنا کړ.
نو مناظره په حقیقت کې د همداسې خبرو اترو بیان دی چې دوه مخالف لوري د خپل مطلب د زباد لپاره هرې خوا ته لاسونه واچوي او بېلګې پیدا کاندي؛ خو دا په دې معنا هم نه ده چې لیکوال دې یوازې د خپل مخالف لوري د قانع کولو لپاره بېلګې راوړي او لوستونکي دې په نظر کې نه نیسي؛ بلکې لیکوال اړ دی چې داسې بېلګې او خبرې ووايي چې لوستونکی هم پرې قانع شي او ورسره منښته وکړي؛ ځکه د لیکوالۍ یوه موخه هم همدا ده چې د ټولنې خبرې را واخیستل شي او ټولنې ته وړاندې شي چې په دې کار کې کله ناکله لیکوال یا څېړونکی خپل احساسات هم ورسره بدرګه کړي او د یو مثبت پیغام یا پایلې په توګه یې ټولنې ته وړاندې کړي چې د ټولنې لوری پرې بدل کاندي او خپلو تشو ته یې ځیر کړي.
ادب څېړونکي وايي په دې کې شک نه شته، چې په مناظره کې لیکوال د خبرو اترو یا ډیالوګ

په پرتله ډېره خپلواکي لري؛ خو دا خپلواکي په دې معنا هم نه ده هر هغه څه، چې ليکوال غواړي هغه ليکلای شي؛ ځکه موږ پورته هم نغوته وکړه چې ليکوال اړ دی د خپلو لوستونکو خيال هم وساتي، ځکه ډېر ځله د ده لوستونکي عادي وګړي نه دي او ښايي ډېر لوی منتقدين يې مناظره تعقيب کاندي؛ نو ځکه ويلای شو په مناظره کې چې که څومره ليکوال خپلواکي لري همدومره محدوديتونه هم لري، چې ځيرک ليکوال يې له ليکنې څخه جوتولای شي.
په مناظره کې د ډيالوګ الفاظ هم ډېر مهم دي، په دې معنا که چېرې ليکوال يا خبرونکی ځيرک وي او په دقيقه توګه هره کلمه وکاروي، له بې ځايه کلمو څخه ډډه وکړي او څو معناييزو کلمو ته لومړيتوب ور نه کړي؛ نو هغه کولای شي چې ډېر ژر خپل مقابل لوری قانع کړي؛ ځکه بې ځايه الفاظ نه يوازې څوک قانع کولای نشي، بلکې د وخت د ګاړ لامل هم ګرځي او په ننني عصر کې، چې د کمپيوټر او تخنيک عصر دی يوه شېبه هم سره زر دي، چې بې ځايه تېرول يې سور کفر بريښي.
د دې لپاره چې د مناظرې موضوع يو څه نوره هم روښانه شوې وي، بيا به هم د افلاطون د جمهوريت له اثر څخه څو خبرو يا مناظرو ته ځيرنه وکړو:
«ورته مې وويل: نو په دې صورت کې زموږ دنده دا ده چې تل خپل هغه پور، چې دښمنانو ته مو ورکړی دی، په همدې توګه ترسره کړو.
ويې ويل: البته چې بايد د هغوی حق پر ځای کړو او زما پر ګومان د حق پر ځای کول دا دي چې هر څوک د خپل دښمن پر وړاندې بدي وکړي؛ ځکه د دښمن پر وړاندې بدي کول اړين او ضروري دي.
ورته مې وويل: داسې ښکاري چې سيمونيدس د شاعرانو په څېر د عدالت په پېژند کې معما کارولې ده؛ ځکه د هغه په ګروهه په ظاهره عدالت هغه دی چې د انسان لپاره هر هغه شی چې ښه او غوره وي هغه د نورو په حق يا برخه کې وکړي.
خو د دې عبارت پر ځای وايي: انسان بايد د نورو حق پر ځای کړي.
ويې ويل: دغه پېژند څه عيب لري؟
ورته مې وويل: هر ګوره که چېرې له سيمونيدس څخه وپوښتو هغه دنده، چې د طبابت په نامه يادېږي او د هغه مسلک هم دی، هغه په دې برخه کې تر اوسه پورې څه کړي او يا يې څومره حق او يا دنده ترسره کړې ده او د څومره کسانو درملنه يې کړې ده او څوک يې د دې وياړ وړ بللي دي؛ نو ستا په اند څه ځواب به يې دې پوښتنې ته ورکړی وای؟؟؟». (۴)

**مأخذونه:**


- ګيوي، ډاکټر حسن احمدي. از فن نگارش تا هنر نويسنده گی، دويم چاپ: تهران، ايران، ۱۳۸۲ لمريز کال، ۱۹۵ مخ.
- سيدي، سيدنظيم. ناول او په پښتو ادب کې د هغه پرمختايي بهير، د علومو اکاډمۍ د خپرونو رياست، عدالت مطبعه: کابل، ۱۳۸۹ لمريز کال، ۸۸ مخ.
- سيدي، سيدنظيم. جمهوريت، صميم ادبي ټولنه: کابل، ۱۳۸۹لمريز کال، ۵۹۱ مخ.
- پورته اثر، ۳۲- ۳۳ مخونه.